**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ریاست

# د ښوونکي کتاب
# د تاریخ د تدریس لارښود

## لسم ټولګی




Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونكو
د روزنې او د ساينس د مركز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
كتابونو د تاليف لوی رياست

# د ښوونكي كتاب
# د تاريخ د تدريس لارښود

## لسم ټولګی

د چاپ كال: ۱۳۹۲ هـ.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مؤلفان**:

- پوهنمل زلمی هوتک
- سرمؤلف عبدالغیاث غوری
- معاون سر مؤلف شیر محمد رونقي
- مؤلف عبدالمالک عابد
- مؤلف قدیم شیرزی بابکرخیل
- معاون مؤلف ستوری سادات
- معاون مؤلف ذبیح الله دشتي

**علمي او مسلکي ایډیټ**:

- پوهنمل زلمی هوتک

**د ژبې ایډیټ**:

- مؤلف محمد سهراب دیدار

**دیني، سیاسي او کلتوري کمیټه**:

- مؤلف عبدالرقیب جهید
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب په برخه کې د پوهنې وزارت سلاکار

**د څارنې کمیټه**:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**ډیزاین**: عنایت الله غفاری

**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پیغام

## ګرانو استادانو او ښوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې چمتوکيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم د وخت له غوښتنوسره سم علمي او رغنده پراختيا ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

د ښوونکی د لارښود دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې بنسټ چمتو اوترتيب شوی دی. د تدريس د نويو ميتودونو له مخې فعاليتونه او معلوماتي مواد په کې ورزيات شوي دي چې په ډاډ سره به د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو د فعال ساتلو لپاره ګټور او اغېزمن وي.

هيله من يم د دې کتاب منځپانګه، چې د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تاليف او چمتو شوې، ستاسو درنو استادانو د ګټې وړ وګرځي. له فرصت څخه په استفادې د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه غوښتنه کيږي د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې مرسته وکړي چې په دې توګه د پوهنې د نظام موخې او هيلې ترسره شي او ځوان نسل او هېواد ته ښې پايلې او برياوې ور په برخه کړي.

زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو او ارزښتونو، د ټولنې د څرګندو اړتياوو، ملي ګټو او وطنپالنې له روحيې او د ساينس او تکنالوژۍ له نوو علمي معيارونو سره سم پراختيا ومومي.

ددې ستړې ملي موخې د تر لاسه کولو لپاره د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده ګټورو وړانديزونو له لار ې زموږ له مؤلفانو سره د درسي او د ښوونکي د لارښود دکتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه، چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې برخه اخيستې او همدارنګه له ملي او نړيوالو درنو موسسو او نورو ملګرو هېوادونو څخه، چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي او د ښوونکي د لارښود کتابونو په چاپ او وېش کې يې مادي يا معنوي مرسته کړې ده، منته او درناوی کوم او د لا نورو مرستو هيله يې لرم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردک

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


عنوان | مخ

لومړی څپرکی ........................................ ۱
ښوونیز یا تعلیمي نصاب څه شی دی؟ ........................................ ۱
د ښوونکي لارښود ........................................ ۲
د افغانستان د پوهنې ښوونیزه او روزنیزه پالیسي ........................................ ۳
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې عمومي موخې (هدفونه) ........................................ ۵
د تدریس ستراتیژي ........................................ ۸
د مضمون د تدریس وسیلې او بنسټیز توکي ........................................ ۱۲
دویم څپرکی ........................................ ۱۴
د مضمون د تدریس لارښود ........................................ ۱۴
د (۱) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۱۵
د (۲) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۱۷
د (۳) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۱۹
د (۴) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۲۲
د (۵) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۲۴
د (٦) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۲٦
د (۷) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ۲۸
د (۸) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۳۰
د (۹) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۳۳
د (۱۰) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۳٦
د (۱۱) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۳۹
د (۱۲) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۴۲
د (۱۳) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۴۵
د (۱۴) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۴۷
د (۱۵) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۴۹
د (۱٦) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۵۲
د (۱۷) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۵۴
د (۱۸) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۵٦
د (۱۹) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ۵۸
د (۲۰) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ٦۱
د (۲۱) لوست دتدریس لارښود پلان ........................................ ٦۴
د (۲۲) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ٦٦
د (۲۳) لوست د تدریس لارښود پلان ........................................ ٦۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (۲۴) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۷۰
د (۲۵) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۷۲
د (۲٦) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۷۴
د (۲۷) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۷٦
د (۲۸) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۷۸
د (۲۹) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۸۰
د (۳۰) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۸۳
د (۳۱) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۸٦
د (۳۲) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۸۸
د (۳۳) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۹۰
د (۳۴) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۹۳
د (۳۵) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۹۵
د (۳٦) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۹۷
د (۳۷) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۰۰
د (۳۸) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۰۲
د (۳۹) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۰۵
د (۴۰) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۰۷
د (۴۱) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۰۹
د (۴۲) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۱۱
د (۴۳) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۱۳
د (۴۴) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۱۵
د (۴۵) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۱۸
د (۴٦) لوست د تدریس لارښود پلان ........ ۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## سریزه

### ښوونیز یا تعلیمي نصاب څه شی دی؟

په دې اړه هرڅوک بېلابېل نظر لري، څوک یې درسي مفردات ګڼي او څوک یې درسي کتاب بولي. د ښوونې او روزنې پوهانو یې هم بېلا بېل تعریفونه کړي دي. ښوونیز یا تعلیمي نصاب هغه لارښود دی چې د ښوونې او روزنې ټول فعالیتونه پکې شامل او تر لاسه کول یې هدف دی.

تعلیمی نصاب له ټاکلې پوهې، مهارتونو او ذهنیتونو څخه عبارت دی چې یوه تعلیمي موسسه یې زده کړه د خپلو زده کوونکو لپاره په پام کې نیسي. په بله وینا تعلیمي نصاب د یوې تعلیمي موسسې د ښوونیزو او روزنیزو زده کړو د پروګرام ټولې زده کړې دي چې درسي کتاب، درسي مرستندویه توکي، د ښوونکي لارښود، تجربې او عملي کارونه پکې شامل دي.

هغه څه چې نن یې د ښوونې او روزنې د ماهرینو پام ځانته اړولی دی، ددې پوښتنې ځواب دی: د مفرداتو چمتو کوونکي او د درسي کتابونو لیکوال باید څه شی په ټاکلو لارو چارو زده کونکو ته ورزده کړي چې په اوسني او راتلونکی ژوند کې یې ګټور وي؟

ټول یو شان په دې نظر دي چې کوچنیان په بېلابېلو شرایطو کې وده کوي او په راتلونکې کې له نوو موضوعګانو سره مخامخ کیږي. له دې امله زیاتره ددې پېژندل ډېر سخت دي، چې هغوی ته د څه شي زده کړه اړینه او د څه شي ورته نه ده او د زده کړې تر ټولو اغېزمنه لاره کومه یوه ده.

له بله پلوه د ځوانی پېر د خپلواکې پرېکړې د کولو، د مسؤولیت د منلو، راتلونکې ته د کتنې او په مسایلو کې بیا غور په څېر ځانګړتیاوو له مخې دا پېر له نور پېرونو څخه جلا کوي. ځوانان له ټولنې سره رغنده راشه درشه او د لویانو نړۍ ته د ورننوتو لپاره د بېلابېلو وړتیاوو موندلو ته اړتیا لري. هغوی باید پوه شي هغه ټولنه څنګه ده چې دوی پکې اوسیږي او څومره پوهه او علمي وړتیاوې ورته پکار دي. هغوی ځان پېژندنې ته اړتیا لري، پېښو او حوادثو ته څنګه ګوري، حقایق څنګه درک کولای شي، څنګه انتخاب کولای شي او څنګه عمل کوي؟ هغوی هغه پوهې ته اړتیا لري چې یې فکر کولو، مطالعې او په ټولنیز ژوند کې تحقیق ته وهڅوي.

پورته وینا ته په پام د ( تاریخ ) د درسي مفرداتو په چمتو کولو کې، په داسې حال کې چې له علمي اړتیاوو سره تړاو لري، د زده کړې په نوو لارو چارو ټینګار شوی، ترڅو زده کړه د پخوانیو لارو چارو پرځای پر هغه زده کړې ډېر ټینګار وشي چې د فعالې،ګډې، ابتکاري او انتقادي زده کړې په لارو چارو ولاړه وي.

په فعالې او ګډې (مشارکتي) زده کړې یا فعالې زده کړې (Active Learning Method) کې ښوونکی د تدریس په بهیر کې ستره ونډه لري. د ښوونکي دنده په دې نقش کې د معلوماتو او پوهې په لېږدونه پای ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسیږي. هغه د زده کړې تجربې په غوږ نیولو او حفظولو پورې تړلې نه بولي. په دې نقش کې ښوونکی د زده کړې تر پام لاندې شرایطو لارښود او مرسته کوونکی دی. هغه د مطلبونو د یو اړخیز انتقال پر ځای د زده کړې پر لارو چارو، د تجربې په ترلاسه کولو او د مسئلې په حلولو ډېر ټینګار کوي. د ښوونکي د لارښود د کتاب یوه موخه هم د زده کړې لپاره د لارو چارو وړاندې کول دي.

د ښوونکي ددې لارښود د تالیف د نورو موخو او لاملونو په ترڅ کې د زده کړو د موخو ځرګندول، د محتوا (متن) د ټاکلو اصول او د تاریخ ټولګي د لسم درسي کتاب ارزول دي.

دا درسي کتاب د تاریخ زده کړې لپاره چمتو شوی او د زده کوونکو د زده کړې لپاره پکې د ډېر تجربو رامنځته کول په پام کې نیول شوي دي، د ښوونکي د لارښود د کتاب چمتو کول اړین بلل شوي. باید ومنو چې تدریس او زده کړه یو ابتکاري او تجربي کار دی او نوښتګر او مبتکر ښوونکي په دې برخه کې نوي، نوي شیان او لارې چارې رامنځته کوي. دا باید هم له یاده ونه ایستل شي چې د زده کړې د ستراتیژۍ په ټاکلو کې، له موخو، د ارزونې له لارو چارو، د زده کوونکو دګډون شونتیا او نور اصول چې د اړواپېژندنې، د ترتیبیتي اروپوهنې او د زده کړې د اروپوهنې سره په همغږۍ کې زموږ په وړاندې پرتې دي، باید سم پام وشي. دا هم باید له یاده ونه ایستل شي، چې متن د کومو اصولو له مخې وټاکل شي، د محتوا د همغږي کولو اصول کوم دي؟ د تدریس او ارزونې لارې چارې کومې دي او څه اهمیت لري؟ دا چې د مهمو مفهومونو راایستل څنګه سرته رسیږي، د ښوونکی په دې لارښود کې ځرګند شوي دي.

## د ښوونکي لارښود

د ښوونکي لارښود د ښوونکو د زده کړې یوه وسیله ده؛ هغه کتاب دی چې له ښوونکي سره مرسته کوي د یو درسي ساعت او یا د تعلیمي دورې په اوږدو کې د خپل تدریس پلان چمتو کړي. د ښوونکي په لارښود کې د هر لوست عمومي او خصوصي موخې، د تدریس وسایل، لارې چارې، د زده کوونکو د انګېزې پارول، د ښوونکي فعالیتونه، د زده کوونکو فعالیتونه، د زده کوونکو د زده کړې د تحکیم برخه او ارزونه او په پای کې د لوست په اړوند اضافي معلومات او اختځلیکونه په پام کې نیول شوي دي. د ښوونکي لارښود ددې لپاره لیکل کیږي، چې ښوونکي د درسي پلان له جوړولو او د زده کړې په یو پړاو کې د ښوونې او روزنې له عمومي موخو سره بلد کړي. له ښوونکو سره مرسته وکړي د هر لوست مفاهیم او موضوعات وپېژني، د لوست په اړوند ورته اضافي معلومات چمتو کړي، د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د درسي کتاب د یو خېل او همغږي تدریس لپاره لاره هواره کړي او په دې توګه د افغانستان په ټولو ښوونځیو کې د لوست تدریس په پام کې نیول شوې دورې کې سرته ورسوي او درسي کتاب بشپړ کړي. دا خبره اړینه کړي، چې درسي کتاب، هغسې چې د هېواد په پلازمېنې یا د بل لوی ښار په کوم عصري ښوونځي کې تدریسیږي، د هېواد د لرې پرتو ولسوالیو او بانډو په ښوونځیو کې هم هماغسې یو خېل او یو راز تدریس شي او لکه چې ویل کیږي د یو متوازن او هر اړخیز معارف لپاره په ټول هېواد کې لاره هواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د پوهنې ښوونيزه او روزنيزه پاليسي

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون په شپاړسمه، دري څلويښمه، څلور څلويښتمه، پنځه څلويښتمه، شپږڅلويښتمه او اووه څلويښتمه ماده کې د درج شوو احکامو او د افغانستان د پوهنې د قانون د شپږمې، اوومې مادې او نورو احکامو له مخې او د هېواد د معنوي او مادي اړتياوو او واقيعتونو ته په پام او د افغانستان د ښوونې او روزنې د نظام د اساسي ليکو د انځورولو په خاطر د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پوهنې ښوونيزه او روزنيزه پاليسې په لاندې ټکو کې رانغاړل کيږي:

١. د خداى پالنې، د اسلامي احکامو او ارزښتونو تطبيق ته د پابندۍ، وطن دوستۍ، د ملي يووالي ټينګښت، ګډ ژوند او بشر دوستۍ په روحيې د هېواد د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او ځوانانو لپاره، که ښځينه وي يا نارينه، د ښوونې او روزنې د زمينو چمتوکول،
٢. له خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، د ځمکنۍ بشپړتيا، اسلامي ورورولۍ، ملي پيوستون، له سولې سره د مينې او فرهنګي بډاينې څخه د دفاع، د توپير او زور زياتۍ د ټولو بڼو او ډولونو د له منځه وړلو د روحيې پياوړتيا،
٣. د ښوونيزو او روزنيزو موسسو بيا رغاول، جوړول، پراختيا او سمبالول،
٤. په نړۍ کې له علمي مثبتو بدلونونو سره جوخت د هېواد د ښوونيز اوروزنيز سيستم پراختيا،
٥. د نورو هېوادونو له ښوونيزو اوروزنيزو رغندو او برياليو تجربو څخه ګټه اخيستنه،
٦. د جنس، توکم، ژبې، مذهب، نژاد او ټولنيز دريځ له په پام کې نيولو پرته ټولو ته تر لومړنيو او منځنيو (١-٩) ټولګيو پورې په جبري او وړيا توګه د لومړنيو زده کړو چمتو کول،
٧. په (دولتي او خصوصي) ښوونځيو کې په هغو ژبو تدريس، چې په اساسي قانون کې تسجيل شوي دي.
٨. د اسلام د سپيڅلي دين له زده کړو، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د ارزښتونو او د افغاني ټولنې له دودونو سره سم او د پيداګوژيکي اصولو او عملي تجربو ته په پام او د افغانستان د ښوونې او روزنې د کيفي ښه والي په خاطر د افغانستان د پوهنې سيستم د هلکانو او نجونو د جلاوالي پر بنسټ ولاړ دی. له دې امله ګډه زده کړه د لومړنۍ دورې له دريم ټولګي څخه وروسته د زده کړې په هيڅ يوه موسسه کې، که دولتي وي يا خصوصي، کورونو، ورزشي کلپونو او نورو ځايونو کې مجاز نه ده.
٩. د دريمو ژبو تدريس (د اساسي قانون ١٦ ماده) په اړوندو سيمو کې د يو مضمون په توګه،
١٠. د بيځايه شوو کورنيو، کډوالو او د ځانګړو اړتياوو لرونکو زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې د زمينو چمتو کول،
١١. د اسلامي زده کړو د مدرسو، عمومي زده کړو، حرفوي او مسلکي ښوونځيو او د ښوونکو د روزنې موسسو پراخوالی او د هغوی سمبالول،
١٢. د ښوونکو د علمي او مسلکي سويې لوړول،
١٣. د ښوونکو د ژوندانه د حالت سمول،
١٤. د بيسوادۍ د له منځه وړلو، د حياتي سواد او د کارګري متممو ښوونځيو (نارينه او ښځينه) د پراخوالي لپاره هلې ځلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵. د افغانستان د پلي شوو قوانينو په اړانه (چوکاټ) کې د پوهنې د مسلکي تخصصي، اداري ظرفيتونو په رغاولو، سمبالولو او لوړولو کې د هېوادونو، نړيوالو موسسو، غير دولتي موسسو او اشخاصو له بې غرضه او بشر دوستانه مرستو او ونډې څخه ملاتړ،
۱٦. د متوازن معارف پياوړتيا او د هېواد په مرکز او ولايتونو کې د ښوونيزو او روزنيزو امکاناتو سم او عادلانه ويش،
۱۷. د تاوتريخوالي، تبعيض، ناروا جګړو، نشه يي توکو، مسکراتو او اخلاقي مفاسدو په څېر د ناوړو پدېدو پر زيانونو د زده کوونکو خبرول،
۱۸. ازادۍ، سولې، سوله ييز ګډ ژوند، شورا او دموکراسۍ، بشري حقونو ته درناوۍ او د استوګنې د چاپيريال د ساتنې په څېر غوره ارزښتونو ته د زده کوونکو لارښوول،
۱۹. له اسلامي احکامو او ارزښتونو سره سم د نجونو ښوونې او روزنې ته هراړخيزه پاملرنه او د نجونو او هلکانو د ښوونځيو ترمنځ د توازن رعايت،
۲۰. د خاصو زده کړو (ډېرو هوښيارو، ړندو، کڼو او ذهني وروسته پاتې زده کوونکو) ته پام او د ښوونې او روزنې لپاره يې اغېزمنې او ګټورې لارې چارې لټول،
۲۱. د هېواد د پلي شوو قانونونو په اړانه کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې د تعليمي نصاب، په (دولتي او خصوصي) ښوونځيو کې له تدريس او درسي موادو څخه د ګټې اخيستنې څارنه او نظارت،
۲۲. د ورزش، سپورت او بدني روزنې د ودې لپاره د زمينې چمتو کول،
۲۳. د علمي برياوو او مسلکي تجربو د راکړې ورکړې په موخه د تعليمي نصاب د پراختيا، د اسلامي زده کړو د معينيت او د ښوونکو د روزنې، د ساينس د مرکز د رياستونو او په هېواد کې د اړوندو پوهنتونونو او نورو ارګانونوتر منځ د اړيکو ټينګښت او د لا زياتې همغږۍ رامنځته کول،
۲٤. د افغاني ټولنې له اړتياوو سره سم د اسلامي زده کړو د مدرسو هراړخيزه وده، پراختيا او رغنده کول.

**د لوی خدای (ج) په مرسته به د هېواد په پوهنې کې ددغې پاليسۍ په پلي کولو لاندې لويې پايلې ترلاسه شي:**

- په اسلامي روحيې د هېواد د اولاد روزل، د الله جل جلاله د رضا د ترلاسه کول او د يوې سوکاله او نېکمرغې ټولنې رامنځته کول،
- د ملي هويت ساتنه،
- د مسلمانو، هېوادپالو، ګټورو، ژمنو او متمدنو انسانانو په توګه د هېواد د اولاد سالمه روزنه،
- د نړۍ او ټولنې له علمي معيارونو سره سم د بريمن تطبيق په موخه د پوهې، مهارتونو او رغنده تفکر تر لاسه کول،
- د کار موندلو لپاره د لازمو وړتياوو د ترلاسه کولو او د کار مارکيټ ته په بري سره د ننوتو په منظور د زده کوونکو د پوهې د کچې لوړول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افغانستان کې د ښوونې او روزنې عمومي موخې (هدفونه)

د هېواد د ښوونې او روزنې نظام د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د احکامو، د پوهنې د قانون او پالیسی پر بنسټ او د افغاني ټولنې اړتياوو او واقيعتونو ته په پام د زده کوونکو د سالمې روزنې په خاطر لاندې موخو ته ځان رسوي:

### الف ـ عقيدتي او اخلاقي موخې

۱. د اسلام د سپيڅلي دين پر اساساتو او ارزښتونو د ايمان او عقيدې پياوړتيا، د قرآني زده کړو او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د حديثو پر بنسټ د اسلامي ليد پراخوالی،
۲. د خدای جل جلاله د پېژندنې په منظور د ځان پېژندنې د روحيې پياوړتيا،
۳. پر ځان د ويسا او پر اخلاقي ښېګڼو د پابندۍ د روحيې پياوړتيا،
٤. د نظم او د دسپلين د منبت د روحيې وده او روزنه او د قانوني احکامو او ارزښتونو منل،
٥. د ديني، ټولنيزو، ښوونيزو او روزنيزو ارزښتونو په وړاندې مسؤوليت ته د غاړې ايښوولو د روحيې پياوړتيا،

### ب ـ د زده کړې او روزنې موخې

۱. د زده کړې د مهارتونو لاسته راوړل او پياوړتيا، لکه: اوريدل، خبرې کول، لوستل، ليکل، په رسمي او بهرنيو ژبو کې د شمېر او حسن خط کارول،
۲. د پوهنو، فنونو او معاصرې تکنالوژۍ زده کړه او د اړتيا وړ فردي او ټولنيزو مهارتونو ترلاسه کول،
۳. د زده کړې د وړتياوو وده او د زده کړې په اوږدو کې ځانې زده کړه او ارزونه،
٤. په علمي، ادبي، فرهنګي او فني ډګرونو کې د تفکر، استدلال، مطالعې، څېړنې، تشخيص او نوښت د وړتياوو وده او پراختيا،
٥. د فردي او ټولنيزو ستونزو د پېژندلو او هوارۍ لپاره د وړتياوو ترلاسه کول،

### ج ـ فرهنګي، ادبي او هنري موخې

۱. د فرهنګ، ادب او رغنده هنر په برخو کې د زده کوونکو د فطري وړتياوو وده او پراختيا او د تاريخي، فرهنګي، ادبي پاته شونو (ميراثونو) او شتمنيو د پېژندلو، ساتلو او د درناوۍ روحيه،
۲. د افغانستان، اسلامي تمدن او د نورو هېوادونو له تاريخ، ادب او فرهنګ سره پېژندګلوي،
۳. د فرهنګ، ملي هنرونو، د افغاني ټولنې د غوره او سالمو ادابو او دودونو پراختيا او د هغوی د اصالت ساتنه،
٤. د تمرين او يوکسيزو او ډله ييزو فعاليتونو له لارې د ادبي او هنري مهارتونو پراختيا،

### د ـ مدني او ټولنيزې موخې

۱. د خپلواکۍ. وطن دوستۍ او ازادۍ غوښتلو، د اسلامي ارزښتونو او ملي نواميسو د ساتنې د روحيې پياوړتيا او د انسانانو د حقوقو د عدالت او رعايت په بنسټ د کورنيو اړيکو ټينګښت،
۲. د اسلامي ورورولۍ، مرستې، سولې، ټولنيز عدالت، ملي او نړيوال پيوستون د روحيې پياوړتيا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د خير غوښتنې د حس پراختيا، د اخلاقي فضايلو لوړتيا او له زور زياتي او ناروا جګړو سره ضديت، له نشه يي توکو، مسکراتو، اخلاقي او ټولنيزو مفاسدو سره مبارزه،
٤. قانون ته د درناوی او د هغې د منښت د روحيې پياوړتيا او د توکم، جنس، عمر، اقتصادي او ټولنيز دريځ او سياسي تړاو له په پام کې نيولو پرته د هېواد د ټولو اتباعو د قانوني حقوقو ملاتړ،
٥. په ټولنيزو اړيکو کې د زغم، سرښندنې او ايثار د روحې پراختيا او ټولنيزې ګټې پر فردي ګټو لومړيتوب ورکول،
٦. د انتقاد او انتقاد منلو، زغم او د نورو رايو ته د درناوی د روحيې پياوړتيا،
٧. انساني کرامت ته د درناوی د روحيې پياوړتيا او پراختيا، د اشخاصو د حرمت ساتل، د معاشرت او په ټولنيزو اړيکو کې د بشري حقونو د ادابو رعايت،
٨. په سوله ييز او رغنده ډول د توپيرونو او شخړو د هوارولو د روحيې پياوړتيا،
٩. د زغم او د نورو د منلو د فرهنګ پياوړتيا،
١٠. د بشري ټولنې له علمي او تخنيکي تجربو او مثبتو برياوو څخه د ګټې اخيستنې د روحيې پياوړتيا،
١١. د هر ډول تبعيض د ردولو او له منځه وړلو د روحيې پياوړتيا او پراختيا،
١٢. د ښځې انساني دريځ ته د درناوی د روحيې پياوړتيا او له ښځو څخه ملاتړ،
١٣. د مور پلار، مشرانو، ګاونډيانو، هېوادوالو او د نورو انسانانو حقونو ته د درناوی د روحيې پياوړتيا،
١٤. د استوګنې د چاپيريال او سمسورتيا د ساتنې د روحيې وړتيا، پر ځارويو زړه سوی او د طبيعي ژوندانه او نباتاتو ملا تړ،
١٥. د اوبو د زيرمو د ساتنې د روحيې پياوړتيا، د اوبو په کارولو کې زياتی (افراط) نه کول او د سيندونو، ويالو، کاريزونو او ځاګانو د اوبو له ککړتيا څخه مخنيوی.

**هـ ـ اقتصادي موخې**

١. په انساني ژوند کې د اقتصاد پر ارزښت پوهېدل، د ټولنې پراختيا او اقتصادي ودې او له کورني اقتصاد او فردي سلوک سره د اقتصادي فعاليتونو تړاو ته پاملرنه،
٢. د کار پر ارزښت او اهميت پوهېدل او د بيوزلې د له منځه وړلو په خاطر په ګټورو دندو کې د کار د روحيې پياوړتيا،
٣. د سپما، قناعت، اسراف او تجمل د مخنيوي د روحيې رامنځته کول او ځواکمنول،
٤. د هېواد د اقتصادي سرچينو پېژندل او له هغو څخه د استخراج په سمو لارو چارو پوهېدل او د ملي ګټو، شتمنيو او پانګو د ساتلو د روحيې پياوړتيا،
٥. د تکنالوژۍ له پرمختګ سره يوځای د بيلابيلو حرفو او توليدي دندو پېژندل، د ملي عايداتو د زياتوالي او د بېکاری او د بل پر اوږو د بارېدو د مخنيوی په موخه د لاسي او سيمه ييزو صنايعو احيا او دودول،
٦. په معاملو او اقتصادي فعاليتونو کې د اخلاقي اصولو د رعايت د روحيې پياوړتيا او نامشروعو اقتصادي فعاليتونو پر خلاف مبارزه،
٧. د حرفه يي فعاليتونو د زده کړې هڅول،
٨. د عرضې او تقاضا پر اړيکو د زده کوونکو د پوهې د کچې لوړول،
- د انصاف او د کار د اخلاقو دودول او پر کار د ګومارونکو او کارکوونکو ترمنځ د کار قانون ته درناوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**و- روغتیایي موخې**

۱. د پاک ساتنې (حفظ الصحې) او د فردي او ټولنیزې روغتیا په اړه د رغنده ژوند په لارو چارو پوهېدل،
۲. د عمومي حفظ الصحې او د چاپېریال د پاک ساتنې د روحیې پراختیا،
۳. له ناروغیو څخه د ساتلو په موخه له روغتیایي پوهې څخه برخمن کېدل او د اساسي مهارتونو پیاوړي کول،
٤. د لارو چارو او شرایطو په رامنځته کولو د بدني او رواني روغتیا تامینول او د سالمو تفریحګانو لپاره د بدني روزنې، ورزش او د سمسور چاپېریال چمتو کول،

د مور او ماشوم روغتیا ته پاملرنه او د هغوی ننګه او ملاتړ.

و ـ ثانوي دوره (له ۱۰ – ۱۲ ټولګي)

- د تېرو ښوونیزو او روزنیزو دورو د بریاوو ځواکمنول او لوړو زده کړو ته چمتووالی،
- د تفکر د ځواک وده او لا پراختیا، په دیني مسایلو او اعتقادي بنسټونو کې ژور فکر او د معلوماتو تر لاسه کول او د ژوندانه د نظام په توګه د اسلام د دین له زده کړو سره د زده کوونکو زیات بلدول،
- د نفس پاکوالی او پر خدای جل جلاله او اسلامي لارښوونو باندي د ایمان پر بنسټ د اخلاقي فضیلتونو پیاوړي کول،
- په زده کوونکو کې د ښوونې او روزنې د روحیې پیاوړتیا او د مناسبو زمینو چمتو کول،
- د پوهنو، بشري تجربو او پرمختللې تکنالوژۍ په مرسته په طبیعت کې د موجودو قوانینو او د نړۍ د اسرارو د پېژندلو لپاره هلې ځلې،
- د رسمي او مورنۍ ژبې لا ښه زده کړه، د زده کوونکو د ادبي پوهې پراختیا او د بهرنیو ژبو زده کړه،
- د اړتیا وړ پوهنو او فنونو زده کړه او د فردي او ټولنیزو مهارتونو ترلاسه کول،
- له اسلامي ارزښتونو او د ملي فرهنګ له مثبتو غوښتنو سره سم له هنر سره د زده کوونکو بلدول او له هغې څخه معقوله ګټه اخیستل،
- د هېواد د ادبي، فرهنګي، هنري او تاریخي میراثونو د ساتنې د روحیې وده،
- د مرستې د روحیې او رغنده سیالیو ته د زده کوونکو د مینې وده او پراختیا،
- د ملي نوامیسو د ساتنې د روحیې پیاوړتیا او د اسلامي حقوقو او اخلا قو پر بنسټ د کورنیو اړیکو د بنسټ ځواکمنول،
- د خیر غوښتنې د حس پیاوړتیا، د اخلاقي فضیلتونو او د سوله غوښتنې د فضایلو لوړتیا، له تاوتریخوالي او ناروا جګړو سره ضدیت، له نشه یي توکو، الکولي ښناک او اخلاقي مفاسدو سره مبارزه،
- مسؤولیت ته د غاړې ایښولو د روحیې پیاوړتیا، د کورنیو او ټولنیزو چارو سم سرته رسول او په اسلامي، فرهنګي او ټولنیزو چارو کې ونډه اخیستل،
- په ټولنیزو اړیکو کې د زغم، سربښندنې او ځان تېرېدنې د روحیې پیاوړتیا او ټولنیزې ګټې پر فردي ګټو لومړي کول،
- د سبا ورځې لپاره د زده کوونکو چمتو کول، د کورنۍ د جوړښت له ارزښت او په هغې پورې له اړوندو شرعي احکامو څخه خبرتیا،
- د اقتصاد ارزښت ته پام او د زده کوونکو معنوي بشپړتیا او سوکالۍ ته د رسیدو د یوې وسیلې په توګه د هغې رغنده وده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ښوونې او روزنې په بهیر کې د ځاني ارزونې د وړتیاوو ځواکمنول،
- له ورزش سره د زده کوونکو د مینې پراخول او د بدني او رواني روغتیا څارنه،
- د فرهنګي یرغل په وړاندې له زده کوونکو سره مرسته او له بېځایه پېښو او تقلیدونو څخه د هغوی د مخنیوی او د افغاني او اسلامي ارزښتونو او هویت د ساتلو له لارې د وخت د مثبتو پرمختګونو او تکنالوژۍ څخه د استفادې د روحیې پیاوړتیا،
- د زده کوونکو د استعدادونو د روزلو په موخه په فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو کې د هغوی د ګډون د روحیې پیاوړتیا،
- د مطالعې او دکتاب لوستلو د فرهنګ وده.

## د منځپانګې د غوره کولو لارې چارې

د منځپانګې په غوره کولو کې لاندې اصول په پام کې نیول شوي دي:

له اړتیاوو او علاقه مندۍ سره همغږي، اعتبار (د منطقي، پرله پسېوالي، له پلټنو او تایید شوو کتابونو او له لومړنیو او مستندو سرچینو څخه ګټه)، د ټولګي دننه او بهر د زده کوونکو له عمر او ذهني وړتیاوو سره سم د لازمو فرصتونو چمتو کول.

## د منځپانګې د تنظیم او ترتیب اصول

د منځپانګې په تنظیم او ترتیب کې له لاندې لارو چارو څخه ګټه پورته کېږي:

پرله پسېوالی، همغږي، د زده کوونکو د فردي او ټولنیزو اړتیاوو تر منځ سمون، د تدریس د لارو چارو او منځپانګې تر منځ سمون،

# د تدریس ستراتیژي

دا کتاب د فعال او ګډ تدریس د اصولو له مخې تالیف شوی دی. له دې امله ښایي د کتاب په تدریس کې د فعال او مشارکتي لارو چارو څخه ګټه واخیستل شي، لکه؛ د مناظرې (Argument)، د پوښتنې او ځواب (Question & Answer)، د لکچر یا توضیحي (Lecture)، ډله ییزې خبرې اترې او مباحثه (Group Discussion)، د نقش لوبول (Role Play)، د علمي سیر(Excursion)، د ذهني یا فکري تحرک (Brain Storming)، له میتودونو څخه ګټه واخیستل شي. پروژه یي میتود (Project Method) دې هم په دې برخه کې ورزیات شي.

دې ټکي ته ښایي پام وشي چې تدریس یو ابتکاري او تجربي کار دی. نشي کېدای د یوه لوست یا کتاب لپاره د یوې ټاکلې او یوازنۍ لارې وړاندیز وشي؛ ځکه د هېواد په بېلابېلو برخو کې له امکاناتو او شرایطو سره سره هر ټولګی او ښوونځی خپل ټاکلي شرایط لري. دا ددې معنا نه لري چې یوه ټاکلې لاره (د تدریس له فعالو ستراتیژو څخه ګټه) دې وړاندې نشي.

## د لوست اصلي برخې

هر لوست له لاندې برخو څخه جوړ شوی دی:

سرلیک (عنوان)، سریزه (مقدمه)، متن، انځور، شکل، فرعي سرلیک او ورودي، منځنۍ او وروستنۍ فعالیتونه. یو څو هغه یې لاندې څېړل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لوست سرليک**

سرليک لوست ته د زده کوونکو د ذهني چمتوالي لامل کيږي. کېداى شي د لوست له سرليک څخه د يو فعاليت په توګه هم ګټه واخيستل شي.

**انځور، نقشه او شکل**

په هر لوست کې له متن سره سم انځورونه او نقشې راغلې دي. انځورونه او نقشې، نه دا چې کتاب لا په زړه پورې کوي، بلکې انګيزه هم راپاروي.

**ورودي فعاليت**

هر لوست په يوه فعاليت پيليږي چې د هغې له مخې د زده کوونکو ونډه او فعاليت هم پيليږي. فعاليت داسې کوم شی نه دی چې له متن څخه دې بېل په پام کې ونيول شي او يا دې متن او منځپانګه بېله تدريس شي.

**منځنی فعاليت**

د هر لوست دويم فعاليت، لکه هم لومړي فعاليت (ورودي) ته ورته نقش لري؛ يعنې د راوروسته متن د تدريس لپاره کارول کيږي او کله هم د لومړنيو مفهومونو د تحکيم او بشپړوالي نقش لري.

**وروستنی فعاليت**

د هر لوست په پای کې داسې فعاليتونه راوړل شوي چې د لوست د منځپانګې له پياوړتيا سره مرسته کوي او له مخې يې لوست هم اروزل کېداى شي.

**د لوست د اصلي پيغامونو په نبنه کول (Key Concepts)**

لومړی ښايي د «اصلي پيغامونو» معنا او مفهوم وپېژنو. هر لوست پوهنيزه موخه يا موخې لري. دا موخه يا موخې د يوه يا ځومفهومونو د زده کړې لپاره چمتو شوي دي. دا د لوست هماغه اصلي پيغامونه دي. ددې سريزې له مخې د لوست له اصلي پيغامونو څخه د ارزونې لپاره هم کار اخيستل کيږي؛ ځکه د زده کوونکو له خوا ددې عمل سرته رسول دا معنا لري چې هغوی لومړنی پوهه ترلاسه کړې ده.

کېداى شي د مختلفو متنونو د زده کړې او مطالعې مهارت او وړتيا (د لوست د اصلي پيغامونو په نبنه کول) د زده کړې او ارزونې په پړاو کې د يو عمده مهارت په توګه وګڼل شي او په زده کوونکو کې د هغې رامنځته کول او پياوړي کول يوه موخه بلل کيږي.

**د لوست لنډيز**

د «لنډيز» فعاليت هم پخپله يو اساسي مهارت دی او هم د ارزونې لپاره کارول کيږي، چې ښايي زده کوونکي يې زده کړي.

د «لوست د لنډولو» وړتيا د تفکر يو مهم مهارت دی. د لوست د لنډولو له لارې کېداى شي پراخ معلومات په لنډ ډول بيان شي، ترڅو د لوست د متن موخه اسانه په لاس راشي. لنډيز په لنډه وينا د لوست د اصلي مفهومونو بيان دی. لنډيز په يوه وينا کې د ټولو جزياتو نغښتل دي. د لنډيز توپير د لوست د اصلي پيغامونو له رااېستلو سره دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د اصلي مفهومونو د يادولو پر ځای زيار ايستل کيږی مفهومونه يوه پلا بيلا سره يوځای شي او بيا بېرته نوی متن لاسته راشي.

**د لنډيز لپاره ځينې لارښوونې**

۱- که غواړئ يو مطلب لنډ کړئ، زيار وباسئ له ليکلو او ياداشتولو پرته پرې پوه شئ.

۲ - تر مهمو کلمو او مفهومونو لاندې ليکه وکاږئ. په دې کار هغه معلومات مخې ته نه راځي چې ګټه يې لږه وي.

۳ – لنډيز په خپلو عبارتونو وليکئ. د اصلي متن د جوړښت په څېر يې مه ليکئ. په دې کار ډاډه تر لاسه کوئ چې خپل شخصي عقيدې مو په لنډيز کې نه دي راوستي. د لنډيز هره کلمه او عبارت بايد پر متن ولاړ وي. لنډيز بايد د ټول متن ۱۵ – ۲۰ سلنه وي.

۴ – له لنډيز څخه وروسته د خپل ډاډ لپاره هغه له اصلي متن سره پرتله کړئ.

**ارزول (Evaluation)**

ارزونه د زده کړې موخو ته د زده کوونکي د پرمختګ د معلومولو او ټاکلو لپاره له منظم بهير څخه عبارت دی. منظم بهير په دې معنا چې ارزونه ښايي د پلان له مخې منظمه سرته ورسيږي. په دې ترڅ کې د «زده کړې د موخې» ددې لپاره دي چې په ارزونه کې بايد د زده کړې موخې له وړاندې ټاکل شوې وي. په دې توګه د زده کړې ارزونه د تدريس له څرنګوالي سره د مرستې، د ښوونکو په اړه د لوړپوړو چارواکو د پرېکړې، د زده کوونکو سره د مرستې او د تدريس په برخه کې د پلټنې په اړه د لارو چارو د معلومولو په منظور سرته رسيږي.

په ارزونې کې اساسي لارې چارې په دې بڼه وي چې د زده کړې د دورو موخو ته متوجه وي او پايلې يې زده کوونکو او ښوونکو ته د لارښونې او له هغوی سره د مرستې لپاره وکارول شي. همدا راز ارزونه ښايي موخو، د تدريس لارو چارو او د درسي مضمون بېلابېلو توکو ته په پام سرته ورسيږي.

ارزونه د زده کړې د بهير د سمون لپاره سرته رسيږي. د زده کوونکو په اړه قضاوت بايد د هغوی د کړنو، چال چلن او شخصيت په اړه د هر اړخيزو معلوماتو پر بنسټ ترسره شي، نه مازې د ازموينو د نومرو له مخې. له بل پلوه زده کوونکی ښايي په ارزونه کې ورګډ شي، ترڅو خپل ځان پخپله وارزولای شي. په لنډ ډول بايد د ارزونې لپاره غوښتونکي شرايط به پام کې ونيول شي.

**په زده کړه کې د ارزونې اهميت او اړتيا**

د زده کړې ارزونه دوې ګټې لري:

۱ – زده کوونکي پوهيږي چې څومره علمی پرمختګ يې کړی او څومره برياليتوب يې ترلاسه کړی،

۲ – ښوونکی پوهيږي چې د مضمون تدريس يې څومره بريالی و.

له خپل برياليتوب څخه د زده کوونکو خبرتيا ددې لامل کيږي چې زده کوونکي په سم ډول او ټاکلې لاره د خپل پرمختګ په اړه قضاوت وکړای شي او د زده کړې او برياليتوب لپاره د زيات مسؤوليت احساس وکړي. زده کوونکي خپل کمزوري ټکي وپېژني او ويې مني او د هغې د له منځه وړلو لپاره زيار وباسي. که چېرته ارزونه په ښه نيت او سم ډول سرته ورسيږي، پر ځان د زده کوونکو ويسا پياوړې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مضمون د تدریس له بریالیتوب څخه د ښوونکي خبرتیا ددې لامل کیږي چې ښوونکی د لاسته راغلو معلوماتو له مخې د درسي مضمون په کمزورو او قوي ټکو وپوهیږي او د تدریس لاره چاره د هغې له مخې سمه کړي او د تدریس فن د زده کړې په بېلابېلو لارو چارو او د تدریس د نوو مهارتونو د زده کړې له لارې بډای کړي.

**د ارزونې بڼې**

ارزونه د وخت او موخو له مخې په درېو ډلو ویشل کېدای شي:

تشخیصي، پرله پسې او وروستنی ارزونه.

الف: تشخیصي ارزونه د زده کړې په هر نوي پړاو کې د زده کوونکو د مخکنیو زده کړو او مهارتونو د معلومولو په موخه سرته رسیږي.

ب: پرله پسې ارزونه له منظمې او پرله پسې ارزونې څخه عبارت ده چې د ښوونیز کال په اوږدو کې په هر څپرکي یا لوست کې د زده کوونکو ترلاسه شوې زده کړه او پوهه ازمویل کیږي.

ج: وروستنی ارزونه د یوه ښوونیز کال په پای کې په هر ټولګي کې د زده کوونکو د مفهومونو او مهارتونو د زده کړې د معلومولو لپاره تر سره کیږي.

**د تدریس د ستراتیژیو ډلبندي**

د تدریس لارې چارې (د تدریس ستراتیژي) له بېلابېلو لارو چارو ډلبندي کېدای شي. تر اوسه بېلا بېلې ډلبندۍ وړاندې شوې. لاندې ډلبندي د هغې له ډلې څخه یوه ده:

١ – دودیزه یا غیر رسمي لاره، چې په جوماتونو او غیر رسمي مدرسو کې ترسره کیږي.

٢ – د تدریس نوي میتودونه

٣ – د لکچر میتود (وینا یا څرګندونې)

۴ – د ذهني یا فکري هڅونې میتود

۵ – اکتشافي میتود،

۶ – د مسئلې د حل میتود،

٧- د پوښتنې او ځواب میتود،

٨ – انفرادي میتود،

٩ – د خبرو اترو میتود،

١٠ – د پروژې ورکولو میتود،

١١ – ډله ییز میتود،

١٢ – د نمایش میتود،

١٣ – د تمثیل میتود،

١۴- استقرایي میتود،

١۵ – ازمایښتي میتود،

١۶ – د کیسې ویلو میتود،

١٧ – تلفیقي یا ګډ میتود (په یوه لوست کې د څو میتودونو کارول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوستونکو د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې ډول یوه بله ډلبندي راوړل کیږي:

**۱ – فعال دوه اړخیز میتود**

د تدریس یو شمېر میتودونه ښوونکی او زده کوونکي له غوښتنې سره سم فعالوي او یادول او ورزده کول له دوه اړخیزې لارې ترسره کیږي. په دې میتود کې مطلبونه او مفهومونه د ښوونکي او زده کوونکو له فعالیتونو څخه راوځي او هر یو انتخابي میتود د تدریس محور جوړیږي. سربېره پر دې ښایي په هغې کې دننه له یو یا څو میتودونو څخه ګټه واخیستل شي. دا میتودونه پراوونه لري او په هغې کې تدریس په منظم ډول پیلیږي او د مفهوم تر موندلو پورې دوام مومي. ددې میتودونو له ډلې څخه استقرایي، د مسئلې د حل، د نقش د سرته رسولو، ازمایښتي او ... میتودونو نومونه واخیستل شي.

**۲ – ګډ یا مشارکتي میتود**

ګډ میتود د زده کړې د بهیر د فعال کېدو له مخې د فعالو میتودونو په ډله کې راځي. هغه څه چې مشارکتي میتود له نورو فعالو میتودونو څخه بېلوي، موخو ته د رسېدو لپاره د څو زده کوونکو همکاري او همفکري ده. ښایي د ښوونکي او زده کوونکو تر منځ فعاله زده کړه سرته ورسیږي، خو مشارکتي میتود په ډله ییز ډول دی او په هغې کې د ډلې ګټې زیات اهمیت لري.

**۳ – غیر فعال یا یو اړخیز میتود**

د تدریس یو شمېر نور میتودونه، لکه د لکچر میتود زده کوونکي چوپ او ښوونکی فعالوي؛ ځکه معلومات په یو اړخیز ډول سرته رسیږي. څنګه چې دا میتود اکتشافي میتود نه دی، له دې امله په یوازې سر ترې په تدریس کې ګټه نه اخیستل کیږي.

## د مضمون د تدریس وسیلې او بنسټیز توکي

**۱ – د اړتیا وړ درسي مرستندوی توکي**

توره تخته، تباشیر، مارکر، د لوست کتاب، د ښوونکي لارښود، ورځپاڼې او مجلې، د زده کړې چارتونه، فلش کارتونه، جغرافیایي نقشې، کمپیوتر، انترنیټ، سلایډونه، انځورونه، فلمونه، تاریخي اطلسونه، د ځمکې د کرې مودلونه، ګرافونه، د مندلیف جدولونه، د تاریخي لړۍ شجرې، د موضوع په اړه تاریخي او داستاني مستند فلمونه، عکسونه، د نقاشۍ تابلوګانې، د علمي، تاریخي، ملي شخصیتونو عکسونه، د اعتبار وړ کتابونه او ماخذ، د سکو، کاغذي لوټونو او فلزي پیسو البومونه، ... د درسي توکو په ډلې کې راځي.

**۲ - له ښوونکو څخه هیلې**

الف – عمومي وړتیاوې

د معلمۍ له تجربې سره د لیسانس یا لږ تر لږه د فوق بکلوریا بریلیک لرل، د مضمون په اړه د وروستنیو معلوماتو په اړه پوهه، د زده کوونکو په عمر او ذهن پورې پر اړوندو ځانګړتیاو پوهېدل، د فعال او مشارکتي تدریس په اړه معلومات او د زده کوونکو د ارزونې په اړه پوهه او معلومات، د ښوونکي له دندې سره مینه او د اخلاقي وړتیاوو درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: اختصاصي او مسلکي وړتياوې**

– د مختلفو لوستونو لپاره د درسي پلان د چمتوکولو وړتيا،
– د ټولګي د ادارې وړتيا،
– له درسي مرستندويه توکو د کارونې وړتيا،

**۳ – له ښوونځي څخه غوښتنې**

– د اړوند مضمون د تدريس لپاره د شرايطو چمتو کول(د لوست د کتابونو، د ښوونکي د لارښود او د درسي مرستندويو توکو چمتو کول)
– د زده کوونکو له ميندو او پلرونو سره د منظمو اړيکو چمتو کول،
– د پلانونو په سر ته رسولو کې د پوهنې وزارت مصوبې په پام کې نيول،
– په ټولګي کې د ښوونکو د اعمالو څارنه او د ښوونکو لارښوونه،
– په ښوونځي کې د کتابتون جوړول،
– د کورنيو په مرسته د ښوونکو او زده کوونکو د اړتيا وړ کتابونو چمتو کول،

**۴ – د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيلې**

– د زده کوونکو د تعليمي څرنګوالي په اړه د خپلو کوچنيانو له ښوونکو سره د اړيکو نيول،
– د زده کوونکو له درسي پرمختګ څخه خبرېدل،
– له ښوونځي سره پرله پسې مرسته او همکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د مضمون د تدریس لارښود

ددې لارښود په لومړي څپرکي کې مو د درسي مضمون له عمومیاتو او لومړنیو خبرو او د تدریس او ارزونې له لارو چارو سره بلد شوئ. په دې څپرکي کې به د تدریس له کلني پلان او د هر لوست د تدریس له لارو چارو سره بلد شئ.

د تدریس کلنی پلان

د تدریس کلنی پلان څرګندوي چې د لوست کتاب پر یوه تعلیمي کال څنګه وویشل شي. زموږ په هېواد کې تعلیمي کال د سړو او تودو سیمو لپاره یو له بله توپیر کوي. په تودو سیمو کې تعلیمي کال د وږي په پنځلسمه پیل کیږي. د مرغومې د میاشتې په لومړۍ دوه اوونیو کې څلور نیم میاشتنۍ ازموینه اخیستل کیږي او وروستۍ دوه اونیو کې زده کوونکي رخصتیږي. د پسرلي د فصل په وروستۍ میاشت، د غبرګولي په دوو لومړنیو اوونیو کې ازموینه اخیستل کیږي او له هغې وروسته زده کوونکي د اوړي په رخصتۍ ځي.

په سړو سیمو کې تعلیمی کال د کب په پنځلسمه پیلیږي. څلورنیم میاشتنۍ ازموینه د چنګاښ په میاشت کې اخیستل کیږي. زده کوونکي له ازموینې څخه وروسته د زمري په دوو لومړنیو اوونیو کې رخصتیږي. د تعلیمي کال په پای کې د لیندۍ د میاشتې په لومړیو دوو اوونیو کې کلنۍ ازموینې پیلیږي او له هغې وروسته زده کوونکي د ژمي په رخصتۍ ځي.

تعلیمي کال ۲۸ اوونۍ دوام مومي. د کلني پلان د تنظیم لپاره د لوست د کتاب مخونه پر ۲۸ ویشل کیږي. لاسته راغلې شمېره په یوې اوونۍ کې د لوست د کتاب د تدریس برخه څرګندوي.

د هر لوست په ورځني پلان کې د هر لوست د زده کړې موخې، د تدریس او ارزونې لارې چارې، د تدریس توکي، د تدریس فعالیتونه (د لومړنیو فعالیتونو سرته رسول، لکه سلام، روغبړ، د حاضرۍ اخیستل، د پخواني لوست پوښتنه، د انګېزې رامنځته کول، د نوي لوست وړاندې کول او د زده کوونکو د زده کړې ارزول)، د لوست د متن او پای په اړه پوښتنې او د زده کوونکو او ښوونکو لپاره اضافي معلوماتو برخه جوړوي. هغه په ځیر وګورئ او په پوره زړه سوي او رغنده ډول یې د شونتیا تر کچې پر خپلو زده کوونکو عملي کړئ.

ستاسو د ټولو د بریالیتوب په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : یو درسی ساعت (۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د اریانا تمدن | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د اریانا د تمدن په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د اریایانو له تمدن سره به پیژندګلوي پیدا کړای شي،<br>- د اریایانو په لرغوني تاریخ باندې به وپوهیږي،<br>- د اریانا د لرغوني تاریخ له مطالعې سره به مینه پیدا کړي،<br>- د لرغوني اریانا حدود به د نقشې پر مخ وښودلای شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دېرش دقیقې |

- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:

۱- اریایان له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله وړاندې په افغانستان کې میشت شول او د افغانستان له شمال (امو سیند او سیر دریا) څخه افغانستان ته راننوتل.

۲- اریایانو په ډله ییزه توګه د سویل، سویل ختیځ او لویدیځ په لور کډې وکړې.

**اضافي معلومات:**

له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله وړاندې د سپین پوستو اریایانو یوې لویې ډلې په اریانا ویجه نومې سیمه کې چې د امو د سیند شمال لورې ته پرته وه، ژوند کاوه چې د وګړو د ډېروالي له کبله، د امو د سیند سویل سیمو ته خپاره او د هندوکش د غره په شمال او سویل کې میشت شول.

د آریانا ویجه کلمه په پښتو ژبه کې د ټاټوبي او هستوګنځي په معنا کارول شوې ده، د تاریخ پوهانو په اند، د اریانا خاوره له پامیر څخه نیولې تر خوارزمه او د خزر د سمندرګي تر څنډو پورې وه او اریایي لرغوني ژبه چې په اریانا ویجه کې پر هغې خبرې کیدې د اریک په نامه یادیده.

ویدي او اویستایي مدنیتونه د اریایانو له سترو او مهمو لاس ته راوړنو څخه شمیرل کیږي.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندینیو منابعو ته مراجعه وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار.
- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د ویدي مدنیت | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د ویدي مدنیت په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– له ویدي مدنیت سره به پېژندګلوي پیداکړای شي،<br>– د ویدي کلمې مفهوم به بیان کړای شي،<br>– د ویدي مدنیت ځانګړتیاوې به تحلیل کړای شي،<br>– د مدنیتونو له مطالعې سره به مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقیقو<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

<table>
<tr><th>منځنـۍ او وروستي کړنې</th><th>د ښوونکي فعالیتونه</th><th>د زده کوونکو فعالیتونه</th><th>وخت په دقیقو</th></tr>
<tr><td></td><td>- پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه.</td><td>- د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول.</td><td>پنځه دیرش دقیقې</td></tr>
<tr><td></td><td colspan="3">- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:<br>۱- ویدي کلمه له وید څخه اخیستل شوې چې د علم او پوهې معنا ورکوي.<br>۲- په ویدي مدنیت کې د بخدي یا پخواني (بلخ) ښار د اریایانو د پلازمینې او د اداري چارو د لومړني مرکز په توګه وټاکل شو.<br>۳- د مهال ویش له پلوه، ویدي مدنیت له میلاد څخه وړاندې (۱۸۰۰) کلونو ته رسیږي.</td></tr>
</table>

**اضافي معلومات:**

د پخوانیو اریایانو ژوند او تاریخ د ویدي سرودونو له مخې راڅرګندیږي چې دا سرودونه د اریایانو د تاریخ د پیژندنې لپاره یوه اړینه سر چینه بلل کیږي.

همدې تاریخي سر چینې د اریایانو فکرونه، عقیدې، د ژوند کړنلارې او د هغوی مهاجرتونه د اریانا (نننې افغانستان) له خاورې څخه د نړۍ نورو سیمو ته او ځینې نور اړین تاریخي مسایل را څرګند کړي دي. د ژبې پوهنې له مخې دا جوته شوې ده چې د افغاني ژبو او د ویدي او سانسکریت ژبو تر منځ یو لړ ژبني مشترکات هم شته دي.

ویدي سرودونه په مختلفو وختونو کې غږول شوي او په شفاهي ډول له یوه نسل څخه بل نسل ته لیږدول شوي دي.

د ویلو وړ ده چې د ویدي کتابونو او ژبې او اوستایي سرودونو تر منځ نږدې ورته والی شته دی. په پایله کې ویلای شو چې د ویدي پخوانیو سرودونو سرچینه د اوسنیو سرودونو نوې بڼه ده، د ویدي مدنیت ټینګې اړیکې د افغانستان د خاورې او سانسکریت تر منځ په پښتو او درې ژبو کې ریښې لري چې د پخوانیو ویدي او سانسکریت ژبو یو شمیر کلمې په پښتو او درې ژبو کې ریښې لري او دا ژبنی میراث له پخوانیو اریایانو څخه اریایي (افغاني) ژبو ته راپاتې دی.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندنیو منابعو ته مراجعه وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار.
- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطالبو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | اوستايي مدنيت | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د اوستايي مدنيت په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– له اویستايي مدنيت سره به پيژند ګلوي پيدا کړای شي،<br>– د اوستايي مدنيت تحليل او تجزيه به وکړای شي،<br>– د دې مدنيت د ودې پړاوونه به بيان کړای شي،<br>– اوستايي مدنيت به د افغانستان د تاريخي لرغونتوب په توګه وپيژني او له هغه سره به مينه پيدا کړي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يوه په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br>لس دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنـــــــی او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخـــت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیك ليکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو ليکل،<br>- د لوست تشريح او توضيح،<br>- پـه ډلـو بانـدې د زده کوونکـو ويـشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدريس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښــوونکي څرګنــدونو تــه پـام کول،<br>- د لوسـت پـه بهيـر کـې د مهمـو مطلبونو ياداشت،<br>- پـه ټـولګي کـې د ډلـو د اسـتازو لخـوا د لوسـت او مهمـو مطلبونـو وړاندې کول،<br>- د ښــوونکي پوښــتنو تــه ځــواب ورکول،<br>- په کـور او ټـولګي کـې د دنـدې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلين رعايت کول. | پنځـــــه ديـــرش دقيقې |

- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:

۱- د اوستا په کتاب کې هغه نصيحتونه دي چې د زردشت يا سپين تمان لخوا ليکل شوي دي او هم يواځنۍ اړينه معلوماتي سرچينه ده چې د اريايي (پخواني افغانستان) لومړني مدنيتونه روښانه وي.

۲- زردشت له ميلاد څخه ۶۶۰ کاله وړاندې په بلخ کې دنيا ته راغی او په شل کلنۍ کې يې يوازيتوب غوره کړ، تر هغه چې په (۴۲) کلنۍ کې د خپل آيين رهبر وګرځيده، وروسته يې خپل نصيحتونه پيل کړل چې د هغه له نامتو ويناوو څخه ( پندارنيک، ګفتار نيک او کردار نيک ) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

د افغانستان د خلکو دویم مدنیت د اوستايي مدنیت په نوم په بخدي (بلخ) او د هندوکش په شمالي سیمو کې منځ ته راغی او له میلاد څخه ۱۲۰۰ کاله وړاندې پیل او د اوستا په نوم یو کتاب ورڅخه پاتي شوی دي چې پنځه ټوکه لري.

د دې لپاره چې دا ټول فرهنګ د افغانستان د خاورې زیږنده دی، نوله دې امله زموږ د هیواد په تاریخ کې بې ساری ارزښت لري.

د اوستا په کتاب کې چې د زردشت پواسطه لیکل شوی دی، د پخواني افغانستان د خلکو مدني او فکري اوضاع په ښه توګه په کې توضیح شوې ده. له دې کتاب څخه دا جوتیږي چې اریا یي خلك له کوچیاني ژوند څخه مدنیت ته رسیدلي او په کلو او ښارو کې میشت شوي دي او د اقتصادي او ټولنیز ژوندانه په څپو کې یې یو نوی پیر پیل کړی دی. په دې پیر کې د لومړي ځل لپاره په بلخ کې شاهي نظام منځ ته راغی او هم د زردشت په وسیله یو ټاکلی آیین چې روحي او مدني قوانین او لاښوونې یې درلودې منځ ته راغی.

زردشت د یواځني خدای(ج) په یووالي او عظمت قایل و او له پخوانیو خدایانو څخه یې چې د اریانا خلکو پرې عقیده درلوده، مخ واړاوه.

هغه به ویل (چې وروسته له یواځني خدای(ج) څخه په نړۍ کې دوه قدرته چې یو یې اهورامزدا یعنې د ښېګڼې لار او بل اهریمن یعنی د بدي لاره پرمخ بیایي شتون لري).

زردشت په خپل کیش کې د څارویو قرباني او د شرابو خوړل چې په پخوانیو اریایانو کې دود وو، منع کړل. دا ساده مدنیت، خپلواك مدنیت و چې د افغانستان له ټولنې څخه سر راپورته کړی او له بل هیڅ تمدن څخه یې رنګ نه و اخیستي، د کرنې د پراختیا، دولت جوړولو او د یوه خدای د لمانځنه له اړخه یې په منځنۍ اسیا کې لومړیتوب درلود.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندنیو منابعو ته مراجعه وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار.
- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطالبو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د افغانستان اساطیري تاریخ (د پیشدادیانو واکمني) | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د افغانستان د اساطیري تاریخ په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دی د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د پیشدادیانو د واکمنۍ په اړه به معلومات پیدا کړای شي،<br>– د پشدادیانو د لړۍ مهم واکمنان به فهرست کړای شي،<br>– د پیشدادیانو د شاهانو کار نامې به تحلیل کړای شي،<br>– د افغانستان د اساطیري تاریخ له مطالعې سره به مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنــــــــی او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخـــت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پـر تختـه بانـدې د لوسـت د سـرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو بانـدې د زده کوونکـو ویـشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوسـت ارزونـه او د کـورنی دنـدې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمـو مطلبونـو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخـوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دنـدې سـرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځـــه دیـــرش دقیقې |

- **د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- د پشدادیانو د لړۍ موسس کیومرث (هوشنګ) و.

۲- د بلخ ښار د یما پاچا په وسیله جوړ شو او هغه ښار یې د اس زغلولو د ډګر په کچه جوړ کړ چې په هغه کې د اوبو ډنډونه، د آس زغلولو ډګرونه او د کورونو لپاره مناسبې سیمې او د هغه تر څنګ یې یو ژوبڼ هم جوړ کړ.

۳- ضحاک له یما څخه وروسته واک تر لاسه کړ. هغه یو ظالم سړی و او په زور او جبر یې پاچایي کوله چې د هغې له امله ډیر خلک له ستونزو سره مخامخ شول.

**اضافي معلومات:**

د افغانستان اساطیري تاریخ د پیشدادیانو له لړۍ سره پیل کیږي. کرنه او دکرنې پراختیا په همدې دوره کې منځ ته راغلې ده چې د البیروني په قول د حکومت او شاهي نظام اصل هوشنګ منځ ته راوړی دی او له دې روایت څخه جوتیږي چې اوسایي مدنیت د ویدي او کوچیاني ژوند سره توپیر درلود. په دې معنا چې د بخدي (بلخ) خلکو پـه دې مهال کې د کرنې، ودانۍ او د کلو او ښـارونو پـه جوړولـو لاس پـورې او د کوچیـاني او بـدوی اقتـصاد څخـه اسکان شوې او کرنیزې ژوند مرحلې ته ورسیدل او د حکومتونو او سلطنتونو بنسټ یې کیښود او هوشـنګ پـه یـوه پراخه خاوره باندې واکمني او د مدنیت له دښمنانو سره یې جګړه کوله.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندنیو منابعو ته مراجعه وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار.
- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۵) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطالبو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د افغانستان اساطيري تاريخ (د کيانيانو واکمنی) | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د کيانيانو د کورنۍ په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– د کيانيانو له لړۍ سره به پېژندګلوي پيدا کړای شي،<br>– د دې لړۍ د واکمنانو نومونو به واخيستلی شي،<br>– د کيانيانو د لړۍ تاريخي پيښې به تحليل کړای شي،<br>– د افغانستان له اساطيري تاريخ سره به مينه پيدا کړای شي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يوه په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br><br>**لس دقيقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیكل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیكل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | - **د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱- د کیانیانو د کورنۍ لومړنی واکمن کیقباد نومیده چې د پلار (رستم پهلوان) له غوښتنې سره سم بلخ ته څیرمه د البرز د غره پرتخت کښیناست.<br>۲- سیاوش د بلخ له زړورو او باتورو واکمنانو څخه و چې له کیکاوس څخه وروسته د تاج او تخت خاوند شو. نوموړي د آریانا ویجې په ناحیه کې ستره کلا جوړه کړه چې په اوستایي متونو کې د دژکنګ په نامه یاده شوې ده او د تورانیانو د پادشاه افراسیاب نومې د لور فرنګیس سره یې واده وکړ.<br>۳- د کیانیانو وروستنی چارواکی کیخسرو و، هغه د کیانیانو مختلفې سیمې یو له بلې سره وتړلې او له ډیر واک او اختیار څخه برخمن شو. | | |

**اضافي معلومات:**

د کیانیانو لړۍ چې له پیشدادیانو څخه وروسته منځ ته راغلې ده، د افغانستان د اساطیري تاریخ دویمه لړۍ بلل کیږي. د دې لړۍ د نوم اینبودلو په اړه باید وویل شي چې کوی یا کاوی هم په ویدي او هم په اوستایي ژبو کې د (پوه- پادشاه- امیر) په معنا راغلې دي چې د اوستا په قول کوی له کی سره مساوی د بلخ او د هغه شا او خوا سیمو د پخوانیو شاهانو په لقب کې معمول و او د اوسني افغانستان په لویدیځو سیمو کې یې استعمال نه درلوده.

د کوی مساوي په کی کلمه د بلخي شاهانو د نومونو په لومړیو کې وینو چې د پیشدادیانو له کورنۍ څخه وروسته واک ته رسیدلي دي. په دري ژبه کې له کیان سره یې کی یو ځای کړی او دې کورنۍ ته یې په نورو کتابونو کې کیان، کیانیان یا کیاني ویلي دي.

د اوستا د کتاب په قول د دې کورنۍ لومړنی پاچا کواته، کیقباد) و او د دې لړۍ وروستی پاچا کیخسرو و. کیخسرو د کیاني لړۍ یو غښتلی او پیاوړی پاچا و چې د کیاني شاهنشاهۍ ټول هیوادونه یې سره یوځای کړل او وروسته له هغه د کیاني لړۍ پای ته رسیږي.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندنیو منابعو ته مراجعه وشي:**

- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٦) لوست د تدريس لارښود پلان

**د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطالبو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د افغانستان اساطيري تاريخ – د اسپه کورنۍ | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د اسپه کورنۍ په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– له اسپه کورنۍ سره به پېژندګلوي پيدا کړای شي،<br>– د اسپه د کورنۍ سياسي او ټولنيزه وضعه به تحليل کړای شي،<br>– د اسپه د کلمې مفهوم به بيان کړای شي،<br>– د دې کورنۍ له تاريخي لړۍ سره به مينه پيدا او هغه به د افغانستان د اساطيري تاريخ د يوې برخې په توګه وپيژني. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يوه په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br>لس دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنـــــــی او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخـــت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځـــه دیـــرش دقیقې |
| | - د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:<br>۱- د دې لیاره چې د اسپه د کورنۍ د هر یو واکمن د نوم په پای کې د (اسپه) پسوند راغلی، نو له همدې امله په تاریخي متونو کې د اسپه د کورنۍ په نوم شهرت لري.<br>۲- د اسپه د کورنۍ لومړنی واکمن لهراسپ نومیده، نوموړی د کیاني په ټول قلمرو باندې واکمن، د ستر شخصیت لرونکی او یو عادل سړی و. هغه ډیر ودانیز کارونه سر ته رسول.<br>۳- د اسپه د کورنۍ وروستنی واکمن سپینتوداتایا اسفندیار و، هغه یو پوه او زړه ور پاچا و او ډیر ودانیز کارونه یې سر ته ورسول او د زردشتي کیش لیاره یې د پام وړ خدمتونه وکړل. | | |

**اضافي معلومات:**

له کیانی کورنۍ څخه وروسته د پخواني افغانستان په تاریخ کې دریمه لړۍ د اسپې په نوم یاده شوې ده او دا لړۍ د اسپې له پسوند سره چې د دې لړۍ د پاچاهانو د هر یوه له نوم سره و، د اسپې د کورنۍ په نوم یاده شوې ده. د بیلګې په توګه د لهراسپ، ګستاسپ، پوراسپ او له ځینې نورو څخه کولای شو یادونه وکړو.

کوم څوک چې له کیخسرو څخه وروسته د بلخ د پاچاهۍ پر تخت کښیناست د اوستا پـه کتـاب کـې د ائـوادت اسپه (برابردکي) لهراسپ په نامـه یـاد شـوی دی چـې د هغـه معنـا تیـز او چابـک اس دی او نـسب یـې کیقبـاد او منوچهر ته رسیږي، لهراسپ د دې لړۍ لومړنی پاچا و چې د نوموړي له واکمنـی سـره د اسـپې لـړۍ پیـل کیـږي. نوموړی د اذر برزین په نوم آتشکده (د اورپرستان د عبادت ځای) جوړه کړه او د خپل یو تن سپاه سالار سره یې په اورشیلم باندې یرغل وکړ او هغه یې ویجاړ کـړ او د ژونـد پـه پـای کـې یـې واک خپـل زوی ګیـشتاسپ تـه پرېښود او پخپله د بلخ نو بهار ته لاړ او د زردشت کیش یې ومانه.

ګیشتاسپ یو نیک عمله او پاک نفسه سړی و او پرخپلو دښمنانو بانـدې بریـالی شـو. لـه ګیـشتاسپ څخـه وروسـته زوی یې اسفندیار واک ته ورسید، اسفندیار یو هوښیار او پوه سړی و، خو د ځینو روایاتو پر بنسټ نـورو شـاهانو هم تر هغه وروسته واکمنی کړې ده چې له هغې ډلـې څخه بهمـن اسـفندیار او لـور یـې همـای او د همـای زوی داراب و چې د دوی د واکمنۍ سیمه هلمند او سیستان وه.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندینو منابعو ته مراجعه وشي:**

- تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.
- لرغونی افغانستان، رسول باوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۷) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | پخوانی افغانستان او هخامنشیان | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د هخامنشیانو د لړۍ په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د هخامنشیانو له لړۍ سره به پیژندګلوي پیدا کړای شي،<br>– د هخامنشیانو له واکمنی سره به د افغانستان اړیکې تحلیل کړای شي،<br>– د هخامنشیانو د پاچاهانو نومونه به واخیستلی شي،<br>– د افغانستان له لرغونی تاریخ سره به مینه پیدا کړي،<br>– د هخامنشیانو حدود به د نقشې پر مخ ښودلې وشي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنــــۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخــت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پــر تختــه بانــدې د لوســت د ســرلیك لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکـو ویـشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوســت ارزونــه او د کــورنۍ دنــدې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونـو یاداښت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخـوا د لوست مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دنـدې سـرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځــــه دیــرش دقیقې |
| – **د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱– د هخامنشیانو امپراتور کوروش د افغانستان د نیولو هڅه وکړه او نومورې له میلاد څخه وړاندې په ۵۴۹ کال کې د افغانستان ځینې برخې ونیولې.<br>۲– له میلاد څخه وړاندې په ۳۳۳ کال کې د هخامنشیانو امپراتورۍ د یونانیانو لخوا له منځه ولاړه او د هغې تر ولکې لاندې سیمې له یوناني امپراتورۍ سره یو ځای شوې. | | | |

**اضافي معلومات:**

له میلاد څخه وړاندې له شپږمې تر څلورمې پیړیو پورې افغانستان له سیاسي اړخه کمزوری شوی و، ځکه چې لـه میلاد څخه وړاندې په ۸ او ۷ پیړیو کې کوم غښتلې دولت چې پخوایې درلـود هغه یې لـه لاسـه وکـړ، سیاسـي مرکزیت له منځه ولاړ او محلي واکمنانو د خپلو شخصي ګټو د ساتلو په موخه د هخامنشیانو د سیاست تـابع داري کوله، خو په ټولنیزو برخو کې یې تدریجي پر مختګ دوام درلود.

سره له دې چې هخامنشي دولت علومو ته د پام وړ کوم خدمتونـه نـه دي کـړي، خـو بیـا هـم د هیـواد پـه نظـم او اداره، هنر او معمارۍ کې مخکښ و.

هخامنشي دولت په افغانستان کې آرامي رسم الخط رامنځتـه کـړ او پـه همـدې توګـه یـې د دفتـردارۍ، معمـارۍ، حجارۍ او د اوبو لګولو فن په افغانستان کې منځ ته راوړ.

هخامنشي دولت په افغانستان کې سیاسي جوړښت او ملکي ویش هم مـنځ تـه راوړ او د خپـل قلمـرو پـه هـر لـوی ولایت کې یې ساتراپي (والي) درلود چې دیو پوځي سردار او یو دبیر (منشي) سره یې یو ځای د ولایـت چـارې په خپلواکه توګه اداره کولې.

خو سره له دې هم په دې پیر کې د افغانستان تمدن او کلتور د پر مختګ په حال کې و.

**د لا زیاتو معلوماتو په موخه دې لاندنیو منابعو ته مراجعه وشي:**

– تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي.

– افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۸) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | لرغونی افغانستان او یونانیان | |
| عمومي موخې | پر افغانستان د مقدوني سکندر د یرغل له څرنګوالی سره د زده کونکو بلدتیا. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دي د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– پر افغانستان باندې د مقدوني سکندر د یرغل له څرنګوالي سره به بلد شي.<br>– د مقدونی سکندر د یرغل لاملونه به بیان کړلای شي.<br>– د یرغلګرو پر وړاندې له هیواد څخه د دفاع د روحیې تقویه کول.<br>– د سکندر د یرغل پر مهال د افغانستان سیاسی حالت به تحلیل کړای شي.<br>– په نقشه کې پر افغانستان د مقدونی سکندر د یرغل لوری وښودلی شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۸) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)**

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | **پنځه دیرش دقیقې** |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱. مقدوني سکندر ۳۳۰ کاله مخکې له میلاد څخه دهخامنشیانو امپراتورۍ یې له منځه یوړه.<br>۲. مقدوني سکندرپه باخترکې د رخشانې نومې جنۍ سره واده وکړ.<br>**۳.** دمقدوني سکندر له مړینې څخه وروسته دهغه دقوماندانانو ترمنځ د واک پرسراختلاف پیدا شوچې خونړي جنګونه ونښتل، په پای کې دهغه له قوماندانانوڅخه یوکس دکاسندر په نوم دمقدونیې په ښارکې واک ته ورسید اویوناني امپراتوري په دریو لویو مرکزونو وویشل شوه. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

مقدوني سکندر دیونان دمقدونیه په ښارکې زیږیدلی دی. نوموړی له میلاد څخه ۳۳۱کاله ولاندې دپلار (دوهم فلیپ)، چې دیونان حاکم و، له مړینې څخه یې وروسته دحکومت واک په لاس کې ونیو. نوموړی یو مبارز ځوان او دیونان دستر فیلسوف ارسطو له زده کونکو څخه و او دقهرمانۍ خیال یې په سرکې ګرځیده.

نوموړی له میلاد څخه مخکې په ۳۳۴ کال کې د دېر شوزرو پلو، څلورزرو سپرو او دڅلوروېشتو ورځو توښې سره دهخامنشیانو له دولت سره دجګړې په نیت حرکت وکړ، هغه د درېو جګړو په ترځ کې د ایران فوځونو ته ماتې ورکړه اودغه هیواد یې ونیو، سکندر چې د نړۍ له سترو نړۍ نیوونکو څخه دی، دڅلورو کلونو په اوږدو کې له خپلو پیاوړو عسکرو سره وتوانیده چې د کوچنۍ اسیا لوی هیوادونه، مصراو ایران په خپله ولکه کې راولي.

مقدوني سکندر دهخامنشیانو د امپراتورۍ له منځه وړلو څخه وروسته دهندوستان دنیولو په فکرکې شو، هندوستان ته د رسیدلو په هیله اړ و، چې دافغانستان له لارې څخه دیو ارتباطي پل په حیث ګټه واخلي، په دې توګه نوموړی ٣٣٤ کاله مخکې له میلاد څخه د دریم داریوش د ځارنې په نیت چې افغانستان ته تبنتیدلی و، لومړي یې په هرات اوبیایې دباختر پرلورخپلې حملې پیل کړې، مګردریم داریوش دباختر د والي (بسوس) د پلویانوله خوا د دامغان په سیمه کې ووژل شو.

کله چې مقدوني سکندر پر افغانستان باندې یرغل وکړ، افغانستان دیو مرکزي دولت له درلودلوڅخه بې برخې و، نوموړی په افغانستان کې دهغه دهیلې اوانتظار په خلاف دخلکو له وسله وال مقاومت سره مخ شو چې دڅلورو کلونو په اوږدو کې دافغانستان اوسغدیانا د لاس ته راوړلو په هیله په ډیروسختیو جګړوکې بند پاتې شو، په پای کې وتوانیده چې دتوس اوهرات له لارې، قندهار، کابل اوبیا وروسته بلخ اوماوراالنهر ته ورسیږي.

په پای کې مقدوني سکندر له میلاده ۳۳۷ کاله مخکې دهندوکش دغرونوله لارې دهندوستان په لوري یرغلونه پیل کړې، نوموړی دهغو جنګونو په بهیر کې چې دافغانتسان په ختیځ کې یې ترسره کړي وو، له بطلیموس سره یوځای ټپي شو. دسکندر لښکرې دڅلورو کلونو په موده کې دافغانستان دخلکو دبې شمیره پاڅونونو او دفاعي جنګونو سره په طوس، هرات، غزني، بلخ او ماورالنهر کې ستړې شوې وې، خوبیاهم وکولی شول چې د سند له سیند څخه تیرې شي او د جهلم (پوروس) په غاړه (څنډه) کې دپنجاب پاچاته ماتې ورکړي.

له هغه څخه وروسته سکندرد(بیاس) ترسینده پورې مخکې ولاړ، خونور دهغه له پوځونو څخه دجنګي سفرونو د زغم توان تللی و، نو دبلوچستان او ایران له لارې د بابل پرلور رهي شو او هلته یې د(۳۲) کلونو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د ډیرو معلوماتو په موخه دې لاندینو منابعو ته مراجعه وشي:

۱. افغانستان درمسیرتاریخ، میرغلام محمدغبار.
۲. باستان شناسی مدنیت های اولیه افغانستان، رسول باوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۹) لوست دتدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال: یودرسي ساعت(۴۵ دقیقې)**

| | | |
|---|---|---|
| **د مطلبونو سرلیکونه** | **د مطلبونو شرح** | |
| **د لوست موضوع** | موریایان او لرغوني افغانستان | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي دې د موریایانو دحکومت اود هغه وخت له سیاسي حالاتو سره بلد شي. | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>–زده کوونکي به دموریایانو دحکومت دمنځته راتلو له څرنګوالي سره بلد شي،<br>–زده کوونکي به په نقشه کې دموریایانو دواک لاندې سیمو دمعلومولومهارت پیدا کړای شي،<br>–په زده کوونکو کې به د وطن دوستۍ دفکرپیاوړتیا رامنځته کړای شي. | |
| **د تدریس لارې او طریقې** | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| **مرستندویه او اړین درسي توکي** | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| **د ارزونې طریقې** | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| **لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول** | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداښت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- دلوست دمتن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱. دموریایانودلومړني پاچا نوم چندراګوپتا و چې له میلاد څخه ۳۲۴کاله مخکې په هند کې واک ته ورسید، دافغانستان ځینې ختیځې سیمې، چې دیونانیانو په واک کې وې په خپله ولکه کې یې راوستلې.<br>۲. بندوسارا، انتیاکوس ته ولیکل چې ماته یو کس طبیب، خواږه شراب اویوه اندازه وچ انځرراولیږه، انتیاکوس ورته په ځواب کې ولیکل چې شراب او وچ انځربه درولیږم خودیونانیانو په قانون کې دعالم اوطبیب پلورل منع دي.<br>۳. آشوکا دبودایي کیش لاروی و نوموړي دبودایي آیین په خپرولو کې ډیرزیارونه وګالل اوډیرمبلغان یې افغانستان اودنړۍ نوروسیموته واستول. | | |

**اضافي معلومات:**

موریایان دهندي واکدارانو له لړیو څخه یوه کورنۍ ګڼل کیږي چې له میلاد څخه ۳۲۴کاله مخکې واک ته د چندراګوپتا په رسېدلو سره ددې لړۍ حکمراني پیل کیږي. دهند موریایانو هغه وخت دلرغوني افغانستان په ځینو برخو حاکمیت وموند چې دهغه وخت په یوناني امپراتورۍ کې تزلزل، بې اتفاقي اوخان خانۍ لاره پیدا کړې وه. له مقدوني سکندرڅخه وروسته دیوناني امپراتورۍ سیمې دبېلابېلو خپلواکو یوناني قوماندانانو له خوا اداره کېدلې.

سلوکیدیانوله شام څخه دیونانیانو دختیځې امپراتورۍ سیمې اداره کولې. دوخت په تېرېدلو سره د ټولوکارونو له اداره کولوڅخه کمزوري شول اودیوناني قوماندانانو ترمنځ بې اتفاقي رامنځته شوې. داپخپله ددې لامل شوې چې دهند دموریایانو نوې را څرګند شوي ځواک له دې فرصت څخه ګټه واخیستله اوخپل پرمختګ ته یې دوام ورکړ چې په دې توګه یې دلرغوني افغانستان ځینې سیمې تر خپلې اداري لاندې راوستلې.

دهند دموریایي لړۍ مشهور واکمن چندراګوپتا دی چې ۲۴کاله یې په یوه پراخه سیمه باندې حکومت وکړ.

نوموړي دخپل مدبر وزیر نندرا په مرسته او لاربنوونه دخپلې امپراتورۍ اداره پرمخ بیووړله.

له میلاد څخه ۳۰۵کاله مخکې سلوکیدي عسکرو دګندهارا(ننګرهار) دسیمو دلاس ته راوړلوپه موخه دهندي موریایانو په وړاندې لښکر راوویست، خو موریایانو له خپلوسنګرونوڅخه ساتنه وکړه چې په پای کې دموریایانو اوسلوکیدیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ سوله رامنځته شوه او د ګندهارا سیمې دموریایانو د واکمنۍ سیمو په برخوکې پاتې شوې.
دچندراګوپتا له مړینې څخه وروسته له میلاد څخه ۳۰۰کاله مخکې دهغه زوی بندوسارا واک ته ورسید چې ګندهارایې هم په واک کې وه، نوموړي دسلوکیدیانو سره ښې اړیکې ټینګې کړې، دهغوی ترمنځ سوداګریزو اړیکو وده وموندە، دغه اړیکې دهندي اویوناني فرهنګ د یوځای کېدلو لامل شوې.
د ډیرو معلوماتو په موخه لاندې منابعو ته مراجعه وکړئ.

۱. باستان شناسی مدنیت های اولیه افغانستان، رسول باوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۰) لوست دتدریس لارښود پلان

د تدریس مهال: یودرسي ساعت(۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | دافغانستان لومړنی مدنیت(د یونان- باختري خپلواک دولتونه) | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې دیونان- باختري دولتونو د رامنځته کېدلو له څرنګوالي سره بلد شي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به د یونانو باختري خپلواکو دولتونو په هکله معلومات ترلاسه کړي،<br>- ددې دورې د تاریخي اثارو په ارزښت به پوه شي،<br>- زده کوونکي به دهیواد له لرغونواوتوریستي سیمو سره مینه پیداکړي،<br>- دیونانیانو ځانګړتیاوې اوخصوصیات به وپیژني،<br>- دیوناني اوباختري حکومتونو ترواک لاندې سیمې به په نقشه کې وښودلې شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| کړنې | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– دلوست دمتن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱. دیونان- باختري دولت لومړنی ینسټ ایږودونکی دیودتس دلومړي ځل لپاره په باختر کې له سلوکیدیانو څخه خپله خپلواکي اعلان کړه.<br>۲. آی تیدیوم ۲۲۰ کاله مخکې له میلاد څخه د باخترنوی خپلواک حاکم شو.نوموړی لومړنی سړی وچې یوناني هنریې دهند تر نیمې وچې پورې ورساوه.<br>۳. د یونان – باختري وروستنی امپراتورچې دباختر په ټوله حوزه باندې یې واک درلوده، دیمیتروس نومیده. | | |

**اضافي معلومات:**

لرغونی یونان دبالکان په سویلي جزیره(ټاپو) کې پروت دی،دا دخاورینو غرونو هیواد دومره حاصل ورکوونکی هم نه دی، یواځې دشمال په ځینو لویو پرتو سیموکې یې دکرنې لپاره مناسبې اوحاصل خیزه دښتې لیدل کیږي.

زموږ بحث د یونان- باختري دولت په هکله دی، ددې لوی بنسټګرلومړنی دیودتس دی چې ۲۵۵کاله مخکې له میلاد څخه په باختر کې خپله خپلواکي اعلان کړه.

دنوموړي د واکمنۍ په مهال کې، باختر د سغد، مروه، بلخ او دتخار له سیمو څخه عبارت وو.

لومړی دیودتس له میلاد څخه ۲۵۰کاله مخکې مړ شو، دهغه له مرګ څخه وروسته دهغه زوی دویم دیودتس واک ته ورسید، هغه له میلاد څخه مخکې تر ۲۳۰کاله پورې دباختر په خاوره واکمني وکړه، دپارت له حکومت سره یې غوره اړیکې ټینګې کړې، په دې توګه دسلوکیدیانو په وړاندې دوه نوي خپلواک حکومتونه په خپلو کې سره یو شول.

د دیودتس دلړۍ واکدارۍ ډېر وخت پایښت ونه کړ، له میلاد څخه ۲۲۰کاله مخکې د آی تیدیوم په نوم یو قوماندان دهغه پرضد پاڅون وکړاو د دیودتس دحاکمیت سلسلې ته یې دپای ټکی کېښود. آی تیدیوم دباختر لومړنی پاچا وچې یوناني هنریې د هندترنیمې وچې پورې ورساوه. له آی تیدیوم څخه وروسته دهغه زوی دیمیتروس له میلاد څخه ۱۹۰کاله مخکې دهغه ځای ناستی شو، نوموړي تر خپلې ولکې لاندې سیموته پراخوالی ورکړه، دتاکسیلا، کاشیوار او موریاپته سیمې یې دهند ي پاچا هانوله واک څخه وویستلې، دیمیتروس دخپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنی په بیلابیلو سیموکې دنوو ښارونو دجوړولو کارپیل کړ، په اراکوزیاکې دکلات ښار، په سند اوهندکې سیالکوټ اوپټاله دهغه له خرګندو نښانو څخه ګڼل کیږي.

د آی تیدیوم دلړۍ وروستی حکمران دیمیتروس وچې دخپلو قوماندانانو له خوا یوتن چې ایوکراتید نومیده ماتې وخوړه، ایوکراتید دنوي واکمنی دلړۍ بنسټ کېښود.

**د ډیرو معلوماتو په موخه لاندې منابعو ته مراجعه وکړئ.**

۱. افغانستان درمسیرتاریخ، میرغلام محمدغبار.
۲. باستان شناسی مدنیت های اولیه افغانستان، رسول باوری.
**۳.** تاریخ مختصرافغانستان، عبدالحي حبیبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۱) لوست د تدريس لارښود پلان

د تدريس مهال: يودرسی ساعت(۴۵ دقيقې)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | ديونان- باختري مدنيت ځانګړتياوې | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې ديونان- باختري مدنيت له ځانګړتياوو سره بلد شي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- زده کوونکي به د دې دورې له فرهنګي ځانګړتياوو سره بلدشي،<br>- زده کوونکي به د دې دورې تاريخي ارزښت وپيژني،<br>- ديونان- باختري مدنيت خصوصيات اوځانګړتياوې به وپيژني،<br>- دهغو عواملو په پيژندلوکې به چې د يونانو باختري مدنيت په وده او پراختيا کې يې ونډه درلوده تحليل وکړای شي،<br>- ديونان- باختري فرهنګي مرکزونه به دنقشې په مخ کې وښودلی شي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يوه په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br><br>لس دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

<table dir="rtl">
<tr><th>منځنۍ او وروستۍ کړنې</th><th>د ښوونکي فعالیتونه</th><th>د زده کوونکو فعالیتونه</th><th>وخت په دقیقو</th></tr>
<tr><td></td><td>- پر تخته باندې د لوست د سرليك ليكل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو ليكل،<br>- د لوست تشريح او توضيح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ويشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدريس په وخت کې ښه څارنه.</td><td>- د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهير کې د مهمو مطلبونو ياداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلين رعايت کول.</td><td>پنځه ديرش دقيقې</td></tr>
<tr><td></td><td colspan="2">- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:<br>١. مؤرخينو لرغوني افغانستان دپخوانيومدنيتونو کانون اودهغوی ديوځای کيدلو، دسوداګريزوچارو څلورلاری اودهغوی دتمدنونود ځانګو په نوم ياد کړی دی.<br>٢. ديوناني او باختري معمار يو د هنر د يوتربلو اغيزو بيلګه ځای لرغوني بګرام دی چې دشتل او پنجشير سيندونو ديوځای کېدلو په سيمه کې جوړ شوی دی<br>٣. په افغانستان کې ديوناني د مجسمو جوړولو هنرخپلې اغيزې درلودلې، دې هنرپه افغانستان کې دافغاني هنرمندانوپه کوښښونو ډېرپرمختګ وکړ.</td><td></td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

دمؤرخينو اوڅېړونکوله نظره پخواني افغانستان يو ډېر ارزښتناك او دپام وړچاپېريال ګڼل شوی دی. دانګليس نامتومؤرخ(تاينبي) افغانستان دلرغونو مدنيتونو کانون (مرکز) اودهغوی دتلاقي(يوځای) کېدلوسيمه بللې ده، مګرجاپاني لرغون پېژندونکو(ماوريزويوتوزی)، لرغوني افغانستان ته دسوداګريزې څلور لارې نوم ورکړی دی، خو علامه حبيبي افغانستان په سيمه کې دتمدنونو زانګو ګڼلې ده.

د تاريخي مشهورو مدنيتونو له جملې څخه يو مدنيت چې په افغانستان اوسيمه کې دپېژندنې وړ و، ديونان-باختري مدنيت دی.

يونان - باختري مدنيت په اصل کې د دووتمدنونو د يوځای کېدلو په نتيجه کې رامنځته شوی دی.

له دې دوو مدنيتونوڅخه يو يې ديونانيانو او له هغوی سره سم افغانستان اوسيمې ته رسېدلی دی او دويم يې د باختر دهغو اوسېدونکومدنيت دی چې دارايي لرغونو مدنيتونو پربنسټ يې پراختيا کړې وه، د دې دوو تمدنونو په يوځای کېدلو سره په افغانستان اوسيمه کې د يو نوي مدنيت بنسټ کېښودل چې په تاريخ کې ديونان - باختري مدنيت په نوم وپېژندل شو.

افغانستان ته دسکندر مقدوني اويونانيانو په راتلو سره يو شمېر يوناني عالمان اوهنرمندان له هغوی سره سم په افغانستان کې استوګن شول چې دافغانستان دخلکو او اوسېدونکو په فرهنګ باندې يې ډېره اغېزه وکړه، دا يوه لويه پيښه وه چې دهيواد په ټولنيز نظام، تمدن او لرغوني فرهنګ کې رامنځته شوه.

يونانيانو له خپلو فتوحاتو سره سم خپلې مدني لاس ته راوړنې د خپل واك لاندې سيموته انتقالولې چې د هغو بېلګې دهغوی دواك لاندې په ټولو سيمو کې په ځانګړي توګه په لرغوني افغانستان کې ترګندې دي.

يوناني معمارانو به د نظامي هډو لپاره داسې ځايونه ټاکل چې دوو يا دريو خواوو ته به طبعي محافظت شتون درلود اويوه خوا به يې دهغوی دځواکونو له خوا ساتل کېدله.

ددې ډول معماريو نمونې دافغانستان په بيلابيلو سيموکې ليدل کيږي، دبېلګې په ډول: د ای خانم لرغوني ښار چې دکوکچې او آمو سيندونو ديوځای کېدو په سيمه کې آباد شوي دي، همدارنګه دبګرام يوبل لرغونی محل چې ددې معماريو بېلګه ده، دشتل اوپنجشير دسيندونو د يوځای کېدو په سيمه کې جوړه شوي ده.

سربېره پردې په ای خانم کې د(کورنتين) شکله ستنو شتون پخپله ديوناني معمارۍ دصنعت د اغيزې اچولو بېلګه ده.

ديوناني هنردمجسمه سازۍ اوهيکل تراشۍ نمونو په لرغوني افغانستان کې دافغاني هنرمندانو د هلو ځلو اوکوښښونو په نتيجه کې ډېره وده اوپرمختګ وکړ.

دغه هنردباميانو دمجسمو په شتون سره د يو نړيوال فرهنګي ميراث په توګه پېژندل شوی دی.

د نورومعلومات لپاره لاندنيو منابعوته مراجعه وکړئ:

١. افغانستان درمسيرتاريخ، ميرغلام محمدغبار.

**٢.** تاريخ مختصر افغانستان، مرحوم عبدالحی حبيبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۲) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال: یودرسي ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | ای خانم | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي دې د ای خانم له لرغوني سیمې سره بلد شي. | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>–زده کوونکي به د ای خانم له لرغوني سیمې سره بلد شي،<br>–زده کوونکي به د دې سیمې په ارزښت پوه شي،<br>–زده کوونکي به د هیواد له تاریخي ځایونو سره مینه پیدا کړای شي.<br>–زده کوونکي به په نقشه کې د ای خانم ښار په نښه کړای شي. | |
| **د تدریس لارې او طریقې** | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| **مرستندویه او اړین درسي توکي** | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| **د ارزونې طریقې** | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| **لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول** | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| **کړنې** | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | **پنځه دیرش دقیقې** |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱. ای خانم ترکي نوم دی چې آی دمیاشتې اوخانم دښځې په نوم کارول کیږي چې دتخار ولایت دکوکچې او آمو سیندونو دیوځایی کېدلو په سیمې کې موقعیت لري.<br>۲. له ای خانم څخه د یونانو باختري دوري دمدنیت مسکوکات لاس ته راغلي دی. | | |

**اضافي معلومات:**

د ای خانم د نوم ترکیب ترکي ریښه لري چې آی، دسپوږمی په معنا اوخانم، د ښځې په معنا ده، ای خانم یوه سیمه ده چې دتخارولایت دآمو او کوکچې دسیندونو دیوه ځای کېدو په سیمه کې موقعیت لري، دیونان - باختري دولت له دفاعي ښارونو څخه پیژندل شوې ده چې دیو لوی دیوال په واسطه احاطه شوی چې اوږدوالی یې ۱۵۰۰متره او لوړوالي یې ۱۰مترو ته رسېده. په اغلب ګمان سره دغه سیمه دآموسیند دشمالي سیمو دخلکو له خطرونو څخه دځان ساتلوپه منظور اړه جوړه شوې وه، سربېره پر دې ای خانم یوه کرنیزه او ښیرازه سیمه وه چې دهغه ځای د اوسیدونکو اړتیاوې پوره کولې، د ای خانم دښار دآبادولوپه هکله بشپړ معلومات په لاس کې نشته، خو داسې ویل کیږي چې ددې ښار بنسټ د مقدوني سکندر له خوا ایښودل شوی دی، دلرغوني یونان نومیالي عالم بطلیموس پخپلو اثاروکې د آمو اسکندریه یادونه کړې ده چې د اوسني ای خانم باندې دلالت کوي.

همدارنګه په ځینو منابعوکې راغلي دي چې دا ښار دسلیکوس اودهغه د زوی انتیوکیوس له خوا جوړ شوی دی.

د هغه وخت نامتو معمار(کنیاس) نامی چې ددې ښار په آبادۍ او جوړولو کې یې برخه اخیستلې وه، دنوموړي قبر دښار په دننه محوطه کې کشف شوی دی، ددې مقبرې دخنګ یوه کتیبه(لیکنه)هم لاس ته راغلې ده چې دتاریخ پوهانو اولرغون پیژندونکولپاره ډیر معلومات وړاندې کولای شي.

د ای خانم په لرغوني سیمه کې دلومړي ځل لپاره په ۱۹۴۶زیږدیزکال کې د شلمبرژه په نوم یوفرانسوي لرغون پیژوندونکي کندنې وکړې. دنوموړي کندنو(حفریاتو) ثابته کړه چې نوموړی ښار دیونان اوباختري دلوی تمدن استازیتوب کوي.

دا ښار له خامو خښتوڅخه جوړ شوی دی چې په ځینو ودانیوکې یې د اومو خښتو لاندې له پښوخښتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار اخیستل شوی دی، همدارنګه په نوموړو ودانیو کې دتزءین(ښکلا) اوهمدارنګه دځینو لویو ستنو(پایو) په جوړولو کې دتباشیرپه ډول اهکي تیرې هم کارول شوي دي، د ودانیو په ستنو، دسالون په منځ اودعمده اتاقونو په فرش کې له تیږو څخه کار اخیستل شوی دی.

د ای خانم د دوو دوو قبرونو په څیړنه کې دقبراود هغو دجوړښت په هکله پوره معلومات لاس ته راغلی دی. له دې قبرونو څخه یو یې د دې ښار د بنسټ ایښودونکی(کنیاس) پورې اړه لري چې دښار په منځ کې کشف شوی دی. ترلاسه شوی جسد په نوموړي قبرکې له تزیین پرته د ډبرین تابوت په منځ کې ایښودل شوی دی، کوم شیان چې له دې قبرڅخه لاس ته راغلي دي، په لوی ګمان ډبرین لوښي دي چې یونانی لوښوته ورته دي.

د ډیرو معلوماتو په موخه لاندې منابعو ته مراجعه وکړئ.

۱. باستان شناسی مدنیت های اولیه افغانستان، رسول باوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۲) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | ساکان او پارتیان | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د افغانستان په سویلي سیمو کې دساکانو او پارتیانو له واکمنۍ سره بلد شي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>–زده کوونکي به د ساکانو او پارتیانو دواکمن لاندې سیمو سره بلد شي،<br>–زده کوونکي به دساکانو دواک لاندې سیمې دنقشې له مخې وښودلی شي،<br>–په زده کوونکو کې به د وطن دوستۍ روحیه پیاوړې کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یادداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱. دساکانولومړنی مرکز د افغانستان په سویل کې اراکوزیا (کندهار) سکستان (سیستان) و.<br>۲. دساکانو لومړنی واکمن هرایوس نومیده. | | |

**اضافي معلومات:**

د یونانو- باختري پیر وروستنی واکمن هیلوکیلس و، نوموړی د یونانو- باختري امپراتورۍ په ټول قلمرو باندې واکمن و. له هغه څخه وروسته سیمه ییز واکمنان او حاکمان منځته راغلل چې هغوی هر یوه په وړه سیمه باندې حکومت کاوه.

دې لړۍ له میلاد څخه وړاندې سل کاله دوام وموند، ددې مهال په اوږدو کې دلرغوني افغانستان په سویل اوسویل ختیځ سیمو کې ساکه یا ساکانو په نوم د نوې لړۍ واکمنې پیل شوه.

ساکان له امو سیند څخه په تیریدو د درنګیانه په سیمې اوپه سکستان(سیستان) میشت شول. یوې بلې ډلې یې د هندوکش په شمال او باختر سیمو کې ژوند کاوه، له دې سیمې څخه یې سویل اولویدیځ ته مهاجرت وکړ.

د افغانستان په سویلي سیمو، لکه: اراکوزیا (کندهار) سګستان (سیستان) کې د ساکانو په نوم ځواکمن قوم د خپل حاکمیت بنسټ کېښود. د دغه قوم لومړنی واکمن د هرایوس په نوم پیژندل شوی چې هغه هم د باختري یونان د واکمنانو په شان په خپل نوم سکه جوړوله.

ساکانو په لنډه موده کې د خپلو نیول شوو سیمو لمن تر تاکسیلا، سند او د بلوچستان تر بولان پورې وغزوله، د باختري یونان د امپراتورۍ سویل او سویل ختیځې سیمې یې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

له هرایوس څخه وروسته مایوس له میلاد څخه مخکې په ۷۲ کال کې واک ته ورسید. هغه د خپلو سکو په مخ د شهنشاه کلمه ولیکله، د هغه د واکمنۍ د مهال یو لیک د لرغون پوهانو لاس ته رسیدلی او د یوې مسي ټوټې پر مخ لیکل شوی، په دې لیک کې له میلاده ۷۸ کاله وړاندې له یوناني او خروشتي رسم الخط څخه ګټه اخیستل روښانه کیږي.

**د ډیرو معلوماتو په موخه لاندې منابعو ته مراجعه وکړئ.**


۱. افغانستان درمسیرتاریخ، میرغلام محمدغبار.

**۲.** باستان شناسی مدنیت های اولیه افغانستان، پوهندوی رسول باوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱٤) لوست دتدریس لارښود پلان

د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | دکوشانیانوامپراتوري | |
| عمومي موخې | زده کوونکی دي دکوشانیانود امپراتوری له خرنګوالی سره بلد شي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به دکوشانیانو له امپراتوري سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به دکوشانیانو دواک لاندې سیمې د نقشې له مخې وښودلی شي.<br>– زده کوونکي به د کوشاني فرهنګ په خپریدو اوپراختیا کې د کوشاني سترو شاهانو په ونډه باندې پوه شي،<br>–زده کوونکي به د وریښمو د لارې په اقتصادي ارزښت باندې پوه شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړنی فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل. | وخت په دقیقو |
| | **د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه نظارځارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | – دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:<br>۱. د کوشاني امپراتورۍ بنسټ اېښودونکی کجولا کد فیسیس و.<br>۲. د رباطک کتیبه ډېر لیک دی چې د ویماکدفیسیس پلار دکجولا کدفیسیس زوی ویماتکتو په واسطه لیکل شوی دی، دویماتکتو دپیر استازی توب کوي.<br>۳. دکوشانیانوامتوچارواکې عبارت دي: کجولاکدفیسیس، ویماتکتو، ویماکدفیسیس، کنشکا، هوویشکاو او واسودیوا دي. | | |

**اضافي معلومات:**

دکوشانیانو نوم د کوشان له کلمې څخه اخیستل شوی دی. کوشان یو کوچی قوم و چې دآمو له سیند څخه راتېرشو اوپه بلخ کې یې یونان- باختري واکمني له منځه یوړه.

د کوشاني امپراتورۍ بنسټ اېښودونکی کجولا کد فیسیس دی. نوموړی مخکې له دې چې د پاچاهۍ اعلان وکړي، د خپل قوم مشري یې په غاړه درلوده چې د کوی شوانګ په نوم یادیږي، نوموړی په ۴۰ میلادي کال کې واک ته ورسید او تر ۸۰ میلادي کال پورې یې د لرغوني اریانا په ډېرو سیمو واکمنی وکړه. هغه د خپل سلطنت په پای کې د شهنشاه لقب تر لاسه کړ.

د کجولا کد فیسیس له مړینې وروسته د هغه زوی ویماتکتو واک ته ورسید. د دې شخص په اړه ډېر معلومات نشته. په دې اړه یوازېنی لاسته راوړنه د رباطک ډېر لیک دی چې د ویماتکتو په واسطه لیکل شوی دی.

له ویماتکتو وروسته د هغه زوی ویما کدفیسیس واک ته ورسېد. نوموړي له میلاد څخه وړاندې تر ۱۲۷ کال پورې واکمني وکړه. ویما کدفیزیس د کوشانیانو لومړنی امپراتور و چې د هېواد پولې یې په سویل کې د هند ګنګاه تر سیند پورې ورسولې. نوموړي د چین له هېواد سره ښې اړیکې ټینګې کړې او د روم د امپراتور تراجان دربار ته یې یو سفیر هم ولېږه او له هغه سره یې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې.

له ویماکدفیسیس وروسته د هغه زوی لوی کنشکا واک ته ورسید. کنشکاه د افغانستان د لرغوني تاریخ یو ځواکمن امپراتور و او له ځانګړې شهرت څخه برخمن و،په ختیځ کې یې له چین او په لوېدیځ کې یې د روم له هېواد سره سوداګریزې اړیکې درلودې.

د کوشانیانو په دوره کې په تېره بیا د کنشکا په واکمنۍ کې د وربښمو مشهورې لارې نړیوال شهرت تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۵) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یودرسي ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | بګرام د کوشاني سترې امپراتورۍ پلازمینه | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د بګرام د کوشاني سترې امپراتورۍ د پلازمینې په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د بګرام د کوشاني سترې امپراتورۍ له پلازمینې سره پېژندګلوي پیدا کړي.<br>– د بګرام د کوشاني سترې امپراتورۍ د پلازمینې په اړه به معلومات وړاندې کړای شي.<br>– زده کوونکي به ومني چې له بګرام څخه لاس ته راوړل شوې اثار د کوشاني سترې امپراتورۍ د لوړوالي(عظمت) نښه ده. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړنۍ فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| کړنې | – پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>– پـر تختـه بانـدې د مهمـو مطلبونـو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کـورنی دنـدې سپارل،<br>– د تـدریس پـه وخـت کـې ښـه نظارخارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱– په ۱۹۳۷ز کال کې په بګرام کې سروې تر سره شوه او له څیړنو څخه چې کومه پایله لاس ته راغله دا یې وښودله چې د بګرام مدنیت له سکندر څخه وروسته دی او د یونان د باختر له مهال سره تړاو لري.<br>۲– ودانۍ د یو منظم پلان له مخې جوړې شوي دي او د معمارۍ د ځانګړتیاوو له مخې د یونان ښارونو ته ورته والی لري.<br>۳– له بګرام څخه په لوړه کچه د سرو زرو سکې، برونزي او عاجي آثار لاس ته راغلي دي. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

له ۲۵/ تر ۱۴۴ ز کلونو په شاوخوا کې د کوشانیانو ستر امپراتور کنشکاه وکړای شول، د خپلې واکمنۍ حدودو ته پراختیا ورکړي او د هغه د امپراتورۍ پولو داسې پراختیا درلوده: ختیځې پولې یې د هند بنارس ته رسیدې، په لویدیځ کې له پارتانو سره تړلې وې، په شمال کې کاشغر او یارکند د کوشانیانو د امپراتورۍ برخه وه، چین او ختن یې هم تر خپلې ولکې لاندې راوړ. کنشکا په دوبې کې بګرام او په ژمي کې شاپور(پیښور) خپله پلازمینه ټاکلې وه.

بګرام د افغانستان له لرغونو ښارونو څخه و چې د کاپیس یا کاپیسا په نومونو هم یاد شوی دی. فرانسوي لرغونپوه (ګرسیمن) په (۱۹۳۷ز) کال کې له یو لړ څیړنو څخه وروسته چې په بګرام کې یې تر سره کړې او د څیړنو له مخې چې تر لاسه شوې، د نوموړې ښار په اړه یې داسې معلومات وړاندې کړل: کله چې اسکندر بګرام ته ورسید یو شمیر عسکر یې ناروغ شول. اسکندر په بګرام کې دمه وکړه. د قفقاز د اسکندریې په نوم یې ښار جوړ کړ او وروسته بلخ ته ولاړ، خو د ځینو افزارو او مسکوکاتو له څیړنو څخه وروسته چې له بګرام څخه لاس ته راغلې داسې جوتیږي چې د دې ښار تمدن د یونانو باختري پیر سره تړاو لري. په هر صورت بګرام د یو ښه موقعیت لرونکی دی. د وریښمو نامتو لاره له هغه څخه تیریده چې د کابل له لارې له تاکسیلا سره یو ځای کېده.

د نوموړې ښار ودانۍ په منظم ډول دي او ننیو ودانیو ته ورته دي.

**متظرفه صنایع:** د عاج پر مخ کیندنې او نقاشي، د یوالونه او د ارباب الانواعو او مجسمو جوړول د کوشاني عصر د عالي هنر ښکارندوی دی. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۰ کلونو پورې له بګرام څخه قالبونه لاس ته راغلې چې د هغو په واسطه د سرو زرو او سپینو زروګانې جوړیدلې.

**نساجي:** د کارګاه وو په واسطه د البسو لپاره ټوټې اوبدل کیدې چې نوموړې کار ګاه وې له لرګیو او خټو څخه جوړې شوې وې او د غالۍ او ټغرو او بدلو صنایع هم په بګرام کې دود وې.

**سوداګري:** د بګرام ښار د یونان باختری له نامتو ښارونو څخه و چې له تاکسیلا سره یې سوداګریزې اړیکې درلودې. هندې توکې بګرام ته واردیدل.

**عقاید:** مخکې له دې چې خلک بودایي آیین ته واوړي یعنې د سترو کوشانیانو د امپراتورۍ له جوړښت څخه وړاندې خلکو هلته ارباب الانواع، لکه: (ناهیتا او میترا) لمانځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱٦) لوست دتدریس لارښود پلان

د تدریس مهال: یودرسي ساعت(۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | هډه د کوشاني امپراتورۍ فرهنګي پلازمینه(مرکز) | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به کوشاني امپراتورۍ د فرهنګي مرکز په هکله معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د هډې په هکله به چې د کوشاني امپراتورۍ فرهنګي مرکز و، پیژندګلوي تر لاسه کړي،<br>– د کوشاني امپراتورۍ د فرهنګي مرکز(هډې) په هکله به معلومات ورکړای شي،<br>– هغه پاتې شوني چې له هډې څخه لاسته راغلي، د ګندهارا د تمدن یوه برخه ده. زده کوونکي به د هغه په ارزښت پوه شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل. | وخت په دقیقو |
| | **د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځني او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- پـه ډلـو بانـدې د زده کوونکـو ویـشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه نظارځارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیـر کـې د مهمـو مطلبونـو یاداشت،<br>- په ټولګي کـې د ډلـو د اسـتازو لخـوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱- افغانستان ختیځې برخې تر شمالي هند پورې د ګندهارا د حوزې په نوم یادیږي چې له جلال آباد، کنر، پیښور او سوات څخه عبارت دي. هډه د ننګرهار په دولس کیلو متری کې یوه پرته سیمه ده چې له هغې څخه ډیر زیات شمیر فرهنګي پاتي شونې آثار لاسته راغلي دي چې د هغو په مطالعې سره به د افغانستان د لرغوني تاریخ ډیرې برخې روښانه شي.<br>۲- د لاندنې دلایلو له مخې هډه، لومړی ګټور لامل د اغیزمنو شرایطو او امکاناتو شتون چې د کنشکا لخوا چمتو شوی و، دویم د بودیزم په کیش کې نوښتونه او بدلونونه او دریم د ګندهارا د وګړو فکري ذکاوت او ظرافت. | | |

**اضافي معلومات:**

د لرغوني افغانستان ختیځې برخې د هند تر شمال سیمو پورې چې ننګرهار، کنر، پښور او سوات پکـې شـامل دي د ګندهارا په نوم یادیږي او د هډې فرهنګي ښارګوټی د ننګرهار په دولس کیلومترۍ کې پروت دی.

چیني زایر هوان تسانګ له هډې څخه لیدنه کړې او په خپل لیك کې یې له هـډې څخـه د هیلـو پـه نـوم یادونـه کـړې ده او داسې لیکي چې د هډې ښار ډیـر لـوی او ښـیرازه دی او د تپـه سـرخ، تپـه شـتر، شاه خیـل غونـډۍ، تپـه خمـزاد پـه نومونـو لرغوني معابد پکې شتون لري. په همدې توګه یې په ننګرهار کې د شایستې پـه نـوم د یـوې اسـتوپې څخه یادونـه کـړې ده او هم یې له یوې مغارې څخه یادونه کړې ده چې هلته د بودا سوری پکې و، خو نن هغه له منځه تللی دی.

د هډې ښار د ډیرې لویې ودانۍ او برجونو لرونکي و چې یـو وخـت بـاختري او هخامنـشي واکـدارانو پکـې ژونـد کاوه. سپین غر چې د هډې په سویل کې پروت دی، د خپلو سرو بادونو په وسیله یې هډه د ژوند لپـاره تیـاره کـړې وه. د زیاتو اوبو لرونکي سیمه وه چې څمکې یې د حبوباتو د کرنې لپاره چمتو وې، هډه له ساختماني پلوه په پنځـو دورو ویشل کیږي. د څلورمې او پنځمې دورې په ترڅ کې بودایي کیش خپل لوړ پوړ ته ورسـید. د پنځمـې دورې په وروستیو کې د یفتلیانو واکمنې هلته تر سترګو کیږي، ځکه چې د دوی مړې د هـډې پـه مغـارو کـې خـاورو تـه سپارل شوي دي. په دریمه او څلورمه دوره کې لویې ودانۍ جوړې شوې چې سـنګ کـاری یـې د چـونې پواسـطه انکاف شوي دي. د ستراتیګرافی د علم پر بنسټ په څلورمه او پنځمه دوره کې د مجسمو په جوړولـو کـې لـه ګـچ کاری او ملمع کاری څخه ګټه پورته شوې وه.

د دویمې او دریمې دورې په لومړیو کې د مجسمو په جوړولو کې د قالب ګیری او د مفرغي مجسمو قالـب ریـزي هم منځ ته راغله. په ګندهارا کې د یوناني هنر او د یوناني او بودایي هنر ترکیب پـه خرګنـد ډول لیـدل کیـږي. لـه دغو منقولو اثارو څخه یو شمیر د کابل موزیم ته د لیدنې او کتنې لپاره راوړل شول، خو په خواشینۍ سره چې دغه اثار د دیرش کلنو جګړو په ترڅ کې له منځ تللي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۷) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | بامیان د کوشاني امپراتورۍ فرهنګي مرکز | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د کوشاني امپراتورۍ د فرهنګي مرکز بامیانو په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د بامیانو د کوشاني امپراتورۍ له فرهنګي مرکز سره پېژندګلوي پیدا کړي.<br>– زده کوونکي به د بامیانو د کوشاني امپراتورۍ د فرهنګي مرکز په اړه معلومات وړاندې کړای شي.<br>– زده کوونکي به د بامیانو په شهکارۍ کې د ګوریک بودیک له مهارتونو سره لوالتیا پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنی او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه نظارځارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱– الفورد فوشه فرانسوي لرغون پوه په خپلو څېړنو کې جوته کړه چې د بودا ستري مجسمې صلصال او شمامه په څلورمې او پنځمې زیږدیزې پېړیو کې جوړې شوي دي.<br>۲– مخکې تر دې چې کنشکاه بودایي دین ته واوړي، نوموړی دین د هند په اړوندو سیمو کې یو غلی او بې حرکته آیین و چې له بامیانو څخه وروسته نورو سیمو ته خپور شو. | | |

**اضافي معلومات:**

بامیان د هندوکش د غره لویدیځ لور ته د فرعي لمنو په منځ او د بابا غره چې کابل، پروان، ارزګان، غور او غزنی ولایتونو تر منځ پروت دی. په پهلوي سرچینو کې د (بامیکان) او په چینایي سرچینو کې د (فان، بان) په نومونو یاد شوی. په بامیانو کې د (ګوریک بودیک) آثار چې له انځورونو او پیکرونو څخه عبارت دي، د غرونو په دیوالونو(جدارونو) کې جوړ شوي چې د (جدار کبیر) په نامه یاد شوي دي. چې دا سوري هماغه رسوبات دي او په دویم او دریم جیولوجیکي پیر کې منځ ته راغلي، له ۷۰ څخه تر ۹۰ مترو پورې لوړوالی لري، دوه سترې مجسمې چې ۳۸ او ۵۵ متره لوړوالی لري، د بامیانو د نامتووالي لامل ګرځیدلې دي.

د بامیانو په شاوخوا سیمو کې نورې مجسمې هم جوړې شوي چې هریوه یې جلاجلا سمڅې او معابد لري. په نوموړو معبدونو کې طاقچې موجودې دي چې په هغو کې انځورونه تر سترګو کیږي. د بامیانو په نورو سیمو کې هم لرغوني آثار لاس ته راغلي چې د غلغلې او ضحاک ښار، اژده های سرخ دره ، کرک دره، فولادي، آهنګرانو دره او له بند امیر څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۸) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یو درسي ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | کیداریان یا کوچنی کوشانیان | |
| عمومي موخې | زده کوونکو دې د کیداریانو یا کوچنی کوشانیانو په اړه معلومات لاسته راوړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکو به د کیداریانو یا کوچنیو کوشانیانو له دولت سره بلد شي.<br>– زده کوونکي به وکولای شی چې د کیداریانو یا کوچنی کوشانیانو د دولت په اړه معلومات وړاندې کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| **کړنې** | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه نظارخارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | **پنځه دیرش دقیقې** |
| | **– دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱- د کیداریانو لومړنی پاچا یو کیداري شاه زاده و چې (کیدار) نومیده.<br>۲- د کوشانیانو او ساسانیانو تر منځ اړیکې ښې نه وې. جګړو او مخالفتونو اته کاله دوام وکړ او د یوې جګړې په ترځ کې ساسانیانو د کیداریانو له خوا ماته وخوړه.<br>۳- کنکاش، پیرو او بهرام. | | |

**اضافي معلومات:**

د دریمې پیړۍ  په ۲۲۰ زیږدیز کال کې د کوشانیانو لویه امپراتوري له ماتې سره مخامخ شوه. د کوشانیانو تر له منځه تللو وروسته مرکزي دولت له منځه لاړ. د اریانا په ختیځ او د سند په پورې غاړه په هر ولایت کې یو شمیر والیانو د واک چارې په لاس کې ونیولې، خو د اریانا په لویدیځ کې د پارتیا او سیستان ولایتونه د ساسانیانو لاس ته ورغلل یواځې د اریانا په مرکز کې یعنې د هندوکش په شمال او سویل کې دوه کوچنۍ حکومتونه چې یو یې په باختر او بل یې په کابل کې پاتې شوی و د کوچنیو کوشانیانو په نامه یادیدل.

د هغوی نومیالی پاچا کیدار نومیده نوموړی د دغې لړۍ بنسټ ایښودونکی و چې د یوې پیړۍ په موده کې یې د باختر په سیمه کې حکومت وکړ. کیداریانو له دریمې پیړۍ څخه د څلورمې پیړۍ تر لومړیو پورې د دوو پیاوړو (یفتلي او ساساني) ځواکونو په وړاندې په ډیره میړانه دفاع وکړه. کابو د یوې پیړۍ په موده یې خپل شتون خوندي کړی و.

د ساسانیانو پاچا فیروز شاه د کیدار له حکومت څخه د باج غوښتنه وکړه، خو هغوی ونه منله او د ساسانیانو په وړاندې مقابلې ته راپورته شول. کیدار څخه وروسته زوی یې ګنګهاس واک ته ورسیده چې د کیداریانو د واکمنۍ په ساتلو او د لویو کوشانیانو د امپراتورۍ په له منځه تللو کې یې اړین رول ولوبوه. د زیږدیزې پنځمې پیړۍ په لومړي سر کې کله چې یفتلیان د باختر سیمې ته ورسیدل، کیداریان د ساسانیانو د جګړې په مهال کې د هندوکش څخه تیر شول او د کابل د کوشانیانو سره یو ځای شول او په دې توګه د لویو کوشانیانو وروستني پاتې شوني پای ته ورسیدل.

د کوچنیو کوشانیانو سیمې تر بامیانو پورې محدودې وې په ۳۵۰ زیږدیز کال کې د هند پاچا سمودراګپتا د کابل له کوشاني پاچا سره چې د ( آسماني پاچاهاو زوی ) لقب یې درلود د ورورولي سوداګریزې اړیکې درلوې. سره له دې چې د اریانا او کوشانیانو د دریمې پیړۍ تاریخ تیاره دې او دومره ویلی شو چې د کوچنیو کوشانیانو ځواکمنې تر پنځمې زیږدیزې پورې یې دوام وکړ او د دوی حکومت د یفتلیانو په لاس پای ته ورسیده. وروسته له دې چې کابل سقوط وکړ، دوی کابل پریښود او د اریانا په شمال ختیځ (چترال ګلګیت) ته یې پناه یوړله. او ډیر انتظار وویست تر هغه پورې چې یفتلیانو سقوط وکړ او بیا کابل ته د ننه شول او د کوچنیو کوشانیانو د حکومت بنسټ یې کیښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۱۹) لوست دتدریس لارښود پلان

د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د یفتلیانو امپراتوري | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د یفتلیانو د امپراتورۍ په اړه معلومات لاس ته راوړي | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د یفتلیانو د امپراتورۍ له څرنګوالی سره بلد شي.<br>– زده کوونکي به وکولای شي چې د یفتلیانو د امپراتورۍ په اړه معلومات وړاندې کړي | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| کړنې | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– دلوست دمتن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱– یفتلیانو له منځنۍ اسیا څخه د سویل خواته کډه وکړه او په کال ۴۲۵ زیږدیز کې یې د خپل لومړنی حکومت بنسټ یې په تخار کې کیښود.<br>۲– اخشنور د یفتلیانو له مشهورو پاچایانو څخه و او ساماني پاچا فیروز شاه ته ماتې ورکړه او فیروز شاه د ځان د خلاصون لپاره خپل زوی قباد د ګروګان په توګه د اخشنور دربار ته ورکړ او د یفتلیانو باج ومانه.<br>۳– تورمنه د اخشنور زوی وو چه پخپل مسکوکاتو کې ځان د زابل امپراتور یاد کړی ده او د هغه د واکمنۍ سیمې تر منځنی هندوستان پورې رسیدې. | | |

**اضافي معلومات:**

د یفتلیانو د امپراتوري جوړښت په لومړیو کلونو کې د اریانا په خاوره او د هغې په ختیځ کې ځینې بدلونو نه رامنځته کړل. لکه څنګه چې د څلورمې زیږدیزې پیړۍ په وروستیو او د پنځمې پیړۍ په پیل کې د کوشانیانو امپراتورۍ کمزورۍ شوه او د دوی اخلافو په شمالي او سویلي هندوکش کې د ځایی واکمنانو په توګه خپل ژوند ته ادامه ورکړه. په ختیځ هندوستان کې ګوپتایان پیاوړی شول او هلته کوشاني واکمنانو پرله پسې ماتې و خوړله. شمالي کیداریانو د ساسانیانو د یرغل پر وړاندې سویل خواته شاتګ وکړ او یواځې کیداریانو په کابل کې خپل شتون په یوې کوچنۍ سیمې کې وساته. باید وویل شي چې دغو بدلونونو تر یوې اندازې پورې د یفتلیانو د امپراتورۍ د جوړښت زمینه برابره کړه.

یفتلیان د یوچیانو یا د کوشانیانو یوه څانګه و چې په چین کې د (ایپتات)، په کوریا کې (یپتل) په روم کې (افتهالي) او په فارس کې د (هیطل) په نومونو یاد شوي دي د ۴۲۰ زیږدیز کال په شاوخوا کې یې د جیهون د کیني څنډو (سواحل) ته مهاجرت وکړ او په ۴۲۵ زیږدیز کال کې د هغوی لومړنی پاچا(افتالینوس) شاهي تاج په خپل سر کیښود. د هغوی واکمنۍ سیمه د جیهون دوو لورو ته له تخارستان څخه تر مروې پورې وه. د مرغاب په سیمه کې افتالینوس د بهرام ګور په وړاندې ماته وخوړه، خو وروسته د یفتلیانو یو بل پاچا مهر پور وکولای شول چې د لویدیځ ځینې برخې بیا لاسته راوړي. د یفتلیانو یو نامتو پاچا اخشنور په ۴۶۰ زیږدیز کال کې واکمنې درلوده چې د هغه د واکمنۍ سیمه تر هرات ته پورې رسیدله. له ساساني پاچا فیروز شاه سره یې جګړه وکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیروزشاه له ماتې وروسته اسیر شو او خپل زوی قباد یې اخشنور یې د ګروګان په توګه پرېښود او د یفتلیانو د حکومت باج یې ومانه. دوه کاله وروسته د ساسانیانو نفوذ په لویدیځ او د هیرمند په سیمه کې ډیر شو او د سیمه ییزو کیداریانو څواکمني په کابل او ځینو ولایاتو یې له منځه لاړه او د یفتلیانو لویه او پراخه څواکمني منځ ته راغله. له اخشنور وروسته د هغه زوی (تورامانا) واک ته ورسید او په هندوستان کې یې ډیرې سیمې لاس ته راوړي. لکه څنګه چې د تورامانا کتیبې په هندوستان کې له (سکر، کورا او ګوالیار) څخه لاس ته راغلي دي، او بیا د هغه زوی (مهراکولا) واک ورسید، هغه وتوانید چې د ګوپتا حکومت ته ماته ورکړي. وروسته د ګوپتا حکومت په حکومتونو وویشل شو. خو سیمه ییز حکومتونه د یووالي په لټه کې ووتل او یو شمیر جګړې د ګوپتا او یفتلیانو په منځ کې پیل شوې. په ۵۲۸ زیږدیز کا ل کې (مهراکولا) په یوه جګړه کې ماته وخوړه او د مهراکولا له مړینې وروسته په ۵۴۰ زیږیز کې په افغانستان کې سیمه ییز حکومتونه منځ ته راغلل چې په پای کې د یفتلیانو امپراتوري له منځه لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۰) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: دوه درسی ساعت(۹۰ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د اسلام د سپیڅلی دین د خپریدو په درشل کې د افغانستان عمومي اوضاع | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د اسلام د سپیڅلي دین د خپریدو په درشل کې د افغانستان د عمومي اوضاع په هکله معلومات لاس ته راوړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د اسلام د سپیڅلی دین د خپریدو په درشل د افغانستان له عمومي اوضاع سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به د اسلام د سپیڅلي دین د خپریدو په درشل کې د افغانستان د عمومي اوضاع په هکله معلومات وړاندې کړي.<br>– د اسلام سپیڅلي دین سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، سوال او ځواب، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنۍ فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت په دقیقو | د زده کوونکو فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه | منځنۍ او وروستی |
|---|---|---|---|
| **پنځه دیرش دقیقې** | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | - پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | **کړنې** |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱- د افغانستان اوضاع له سیاسي پلوه کړکیچنه وه. د دوو قوي دولتونو، د هندوستان ګوپتایانو او په لویدیځ کې ساسانیانو د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنې وکړې چې د مرکزي دولت د له منځه تللو لامل شوې او ملي اقتصاد ته زیان ورسید.<br>۲- له دیني پلوه د افغانستان خلکو په ډیر شمیر کیشونو باندې اعتقاد درلود او د خلکو کلتور پر ویدي او اوستایي تهذیبونه باندې ولاړ و.<br>۳- د ساسانیانو وروستنی پاچا، دریم یزدګرد نومیده. | | |

**اضافي معلومات:**
د افغانستان سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه اوضاع د اسلام د سپیڅلي دین د خپریدو په درشل کې، د یفتلیانو د امپراتورۍ له منځه تللو وروسته بې ثبات شوه او د پردیو حکومتونو د لاس وهنې لپاره لاره هواره شوه، لکه: څرنګه چې په لویدیځ کې ساسانیانو، په شمال کې د ماوراالنهر ترکانو او شمال ختیځ کې چینایانو پر افغانستان یرغل وکړ او افغانستان یې ونیوه او په نورو پاتې سیمو کې ملوك الطوایفي منځ ته راغله او یو شمیر ځایي حکومتونو، لکه: ( شاران ) په غور، (شیران) په بامیان، (رتبیلان) په کابل او (لاویکیان) په غزني او ګردیز کې منځ ته راغلل.
**اقتصاد:** د مرکزي حکومت نشتوالي، کړکیچني وضعې په هر سکتور کې اقتصاد ته زیان رسولی و، د بیلګې په توګه سوداګریزې قافلې چې له چین څخه هند، ایران، عراق، ترکیې، ختیځ او لویدیځ روم ته د توکو د لیږلو په موخه د افغانستان له لارې تیریدلې چې دغه لاره د وریښمو د لارې په نامه یادیده چې د هغې ترانسپورتي عواید د افغانستان په اقتصاد کې له ډیر ارزښت څخه برخمن وو، له ستونزو سره مخامخ شوه.
د اقتصاد بل سکتور کرنه وه چې په تیره زمانه کې یې د خلکو اړتیاوې پوره کولې، خو د بهرنیانو د تیرې او ولکې په وخت کې د محصولاتو کچه ټیټه شوه چې په ټولنه کې د مالي او اقتصادي رکود د منځته راتللو لامل وګرځید.
**دین او عقاید:** دین او عقاید چې په ټولنه د وحدت یو قوي عامل شمیرل کیږي، د اسلام د سپیڅلي دین د خپریدو په درشل کې د خلکو له ملاتړ څخه برخمن نه و او په ټولنه کې یې خپل موقف له لاسه ورکړی و. چې پخپله د یووالي د له منځه تلو او د بې اتفاقي د رامنځه کیدو لامل وګرځید. لکه څنګه چې د هیواد لویدیځې برخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساسانیانو تر سیاسي او کلتوري اغیزې لاندې وې چې دوی د زردشتي ایین پیروان وو، خو په منځنیو سیمو کې،
لکه: زابلستان، د کابل وادی «ګندهارا»، له ارغنداب څخه تر هندوکش پورې سیمی شمالي سیمو او د سند په
غاړو کې بودایي او برهمني ایینونو رواج درلود. د لمر او د بتانو لمانځنې هم په ځینو برخو شتون درلود.

**ژبې:** د جغرافیایي وضعیت له نظره افغانستان له ډیرو لوړو غرونو، درو او میرو څخه جوړ شوی دی. هره دره او
میره یې د ځانګړې ژبې او لهجې لرونکي وه، لکه څنګه چې د اسلام د سپیڅلي دین د خپریدو په لومړي سر کې
د افغانستان خلک په دري، پښتو، تخاري یا سانسګرت او نورو ژبې خبرې کولې.

په داسې شرایطو کې د اسلام غږ زموږ هیواد ته راورسید او ټولنه د یو بدلون د قبلیدو لپاره تیاره وه او هغه دین
چې ټول خلک یې د یو خدای لمانځنې، یووالي، خپلواکی، عدالت، مساوات او ورورولی ته بلل. د اسلام د
سپیڅلي دین مجاهدین د حضرت عمر فاروق(رض) د خلافت په مهال کې ( ۲۲ هـ / ۶۴۳ زیږدیز کال ) زموږ د
هیواد لورې ته راورسیدل او د اسلام د سپیڅلي دین په خپریدلو یې پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۱) لوست دتدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال: یودرسی ساعت(۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | د تمدن د منځته راتلو څرنګوالي او د هغه ځانګړتیاوې. | |
| **عمومي موخې** | زده کوونکي دې د تمدن د منځ ته راتلو د څرنګوالي او د هغه د ځانګړتیاوو په اړه معلومات لاس ته راوړي. | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د تمدن د منځته راتلو له څرنګوالي او د هغه له ځانګړتیاوو سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به د تمدن د منځته راتلو د څرنګوالي او د هغه د ځانګړتیاوو په اړه معلومات وړاندې کړای شي،<br>– زده کوونکي به د تمدن د منځته راتلو د څرنګوالي اغیزه د انسانانو په ژوند کې احساس کړي. | |
| **د تدریس لارې او طریقې** | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| **مرستندویه او اړین درسي توکي** | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| **د ارزونې طریقې** | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| **لومړنی فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول** | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| **کړنې** | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې نظارځارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | **پنځه دیرش دقیقې** |
| | **- دلوست دمتن پوښتنوته ځوابونه:**<br>۱- پر له پسې ستونزو انسانان دې ته اړ کړل چې د خپلو هڅو په پایله کې ننني تمدن منځ ته راوړي.<br>۲- پوهان په دې عقیده دي چې د تمدنونو سرچینه یوه نده، خو د هرې سیمې، او ځای شرایط د تمدن د منځته راتلو او پراختیا لامل ګرځي. | | |

**اضافي معلومات:**

د بشر اوسني تمدن ډول ډول پړاوونه تیر کړي دي او په تدریجي توګه منځ ته راغلی دی. لومړنیو انسانانو په غرونو کې د سمڅو له ژوندانه (مغاره نیشني) وروسته د خپلې تغذیې په موخه د وحشي څارویو د ښکار لپاره په ډیرو ساده افزارو سره وادي ګانو ته مخه وکړه او د لومړي ځل لپاره یې د غلې په کرنه لاس پورې کړ.

له تودوخې او سړو او د ژویو له خطر څخه د ځان ساتنې لپاره ځانو ته ساده کورونه جوړول. او دا مرحله د ښاري ژوند پیل و چې ورو ورو د ښارونو د وګړو شمیر ډیر شول او خلک په دې اند شول چې د ټولنیز نظم او امنیت د ټینګولو لپاره اداري مرکزونه او حکومت جوړ کړي او د زرو کلونو په تیریدو او د ډیرو هڅو په کولو سره یې د خپلو ستونزو د له منځه وړلو، د اړتیاوو د پوره کولو او ځایي ستونزو د مخنیوی لپاره یې د هنر، فنونو او مهارتونو ته لاس رسی پیدا کړ.

تمدن د بشر د مادي او معنوي د لاسته راوړنې ټولګه ده چې په ټولنه کې د پوهې او هنر په برخو کې دغه فکري او فرهنګي وده د پرمختګ نښه بلل کیږي.

د ډیرو معلوماتو لپاره دې د میر غلام محمد غبار اثر ته رجوع وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۲) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : یو درسی ساعت (۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د بین النهرین تمدن | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د بین النهرین د تمدن په هکله معلومات لاس ته راوړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- په ختیځ کې د بین النهرین له تمدن سره د زده کوونکو بلدتیا،<br>- زده کوونکي به د بین النهرین د تمدن د پیدایښت لاملونه فهرست وکړای شي،<br>- زده کوونکي به د بین النهرین د تمدن لرغونی سیمه د نقشې پر مخ ښکاره کړای شي.<br>- زده کوونکي به په ختیځ کې د بین النهرین د تمدن ارزښت او اهمیت احساس کړای شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقیقو<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنـــــی او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱- د بین النهرین لرغونی تمدن د (سومر) په نامه یادیږي. مورخین د هغه د رامنځ ته کیدلو لامل د دوو سیندونو سواحل (دجله او فرات) چې د خوړو او ډیرو اوبو درلودونکي وو ، ګڼي.<br>۲- د سومریانو ښارونه د سومر په سیمه کې رامنځ ته شوي وو، له هغو ښارونو څخه د اور، اورک، کیش لاګاش، لارسا او وینپور نومونه یادولای شو. دغه ښارونه په خپلواکه توګه اداره کېدل.<br>۳- د ګوتي یانو د واکمنۍ له پای ته رسیدو څخه وروسته، سومریان او اکدي یان یو له بل سره یو مټي شول او د (اور) په نامه حکومت یې جوړ کړ.<br>۴- حمورابي د بابلیانو د امپراتورۍ له نامتو واکمنانو څخه و، دی وتوانیده چې د بین النهرین یوالی تامین کړي او د خپلې واکمنۍ سیمې ته پراختیا ورکړي. د یوې لرغونې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود چې پلازمینه یې د بابل ښار و. سر بیره پر دې کرنې او سوداګرۍ ته یې پراختیا ورکړه او هم یې د حمورابي قانون په نامه یوقانون جوړ کړ. | | |

**اضافي معلومات:**

دوه سیندونه (دجله او فرات) د اسیا د وچې په سویل لویدیځ کې (اوسنی عراق) موقعیت لري، دغه دوه سیندونه د قفقاز له غرونو څخه سرچینه اخلي او د پارس په خلیج کې تویږي. بین النهرین یوه ښیرازه سیمه وه او هغه خاوره چې د دجله او فرات سیلابونو له ځان سره راوړله، د دې سیمې په حاصلاتو کې یې زیاتوالی راوسته. په بین النهرین کې بیلابیل تمدنونه، لکه: د سومریانو، کلدانیانو، بابلیانو او د آشوریانو تمدن یو د بل پسې رامنځ ته شوي دي. له میلاد څخه څلور زره کاله د مخه په سویلي بین النهرین کې خلکو د غونډیو په سر ژوند کاوه چې د سیلابونو له خطر څخه خوندي اوسي.

په سویلي بین النهرین کې د دې سیمې لومړنی تمدن منځ ته راغلی دی چې د سومر د تمدن په نامه او خلک یې سومریانو نومیدل. سومریانو په لومړي سر کې په خټینو کورونو کې ژوند کاوه او په ښکار، کبان نیولو، کرنې او مالدارۍ باندې بوخت وو او له دې لارې یې خپل ژوند پر مخ بیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۳) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)**

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د بین النهرین تمدن او کلتور</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د بین النهرین د تمدن او کلتور په اړه معلومات تر لاسه کړي.</td></tr>
<tr><td>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د بین النهرین له تمدن او کلتور سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به د بین النهرین د تمدن او کلتور د ځرنګوالي په اړه نورو ته خپل معلومات وړاندې کړای شي،<br>– زده کوونکي به په ختیځ کې د بین النهرین د تمدن او کلتور عظمت تحلیل کړای شي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس لارې او طریقې</td><td colspan="2">توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې.</td></tr>
<tr><td>مرستندویه او اړین درسي توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې طریقې</td><td colspan="2">تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ...</td></tr>
<tr><td>لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړنی فعالیتونه:<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>د انګیزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه ځارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه :**

۱- په بین النهرین کې علومو او په ځانګړې توګه د نجوم علم(ستوري پیژندني) ډیر پرمختګ کړی و، د دې دلیل د ستورو لمانځنه وه، په همدې توګه د هندسې او ریاضي علومو په برخه کې لومړني فعالیتونه رامنځته شول او وریسې د ښوونې په برخه کې د جمعې او منفي، ضرب او تقسیم عملیې راڅرګندې شوې.

۲- د بابل ښار د بین النهرین د لرغونو ښارونو له ډلې څخه و او په نړۍ کې لومړنی ښار شمیرل کیږي. د مورخینو په اند د دې ښار تاریخي قدامت له میلاد څخه وړاندې ۴۰۰۰ کالونو ته رسیږي ، د بابل ښار د حمورابي د واکمنۍ په مهال ډیر پرمختګ وکړ چې د فرات د سیند په څنډه پروت دی، د دې ښار پرخوالی ۵۲۰ کیلو متره مربع اټکل شوی دی.

**اضافي معلومات:**

د بین النهرین د تمدن او کلتور بنسټ د سومریانو په واسطه له میلاد څخه وړاندې د ۴۰۰۰ کالونو په شاو خوا کې کېښودل شو. وروسته اکادیانو، بابلیانو او اشوریانو په خپل وار سره د دې تمدن او کلتور په پراختیا کې ونډه واخیستله. د بین النهرین تمدن او کلتور له دې امله زیاد ارزښت لري چې نه یواځې یې د لومړي ځل لپاره د علومو د رامنځ ته کیدو او پراختیا په برخه کې ګامونه پورته کړل، بلکې د فینقي، فلسطین، فارس او یونان هیوادونو ته علوم خپاره کړل. په همدې توګه د بین النهرین تمدن د یونان له لارې روم او نورو اروپايي هیوادو ته خپور شو.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندینو منابعو ته مراجعه وکړئ:**

۱- تمدن مغرب زمین، محمد حسین آریا.

۲- نګاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

۳- تاریخ بشریت، پوهنمل محمد رحیم روهین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲٤) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)**

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د مصر تمدن</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې په ختیځ کې د لرغوني مصر د تمدن په اړه معلومات لاس ته راوړي.</td></tr>
<tr><td>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د لرغونی مصر له تمدن سره د زده کوونکو بلدتیا،<br>– زده کوونکي به د لرغونی مصر د تمدن د رامنځ ته کېدو لاملونه او د مصر تاریخي دورې بیان کړای شي،<br>– زده کوونکي به د مصر د تمدن سیمې د نقشې پر مخ ښکاره کړای شي.<br>– زده کوونکي به د مصر د تمدن عظمت تحلیل کړای شي او د مصر له پرمختګ او ودې سره به مینه پیدا کړي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس لارې او طریقې</td><td colspan="2">توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې.</td></tr>
<tr><td>مرستندویه او اړین درسي توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې طریقې</td><td colspan="2">تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ...</td></tr>
<tr><td>لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړنی فعالیتونه:<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>د انګیزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنـــــی او وروســــتی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخـــت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنی دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه**

۱- له میلاد څخه ۳۲۰۰ کاله وړاندې هم مهاله د مصر دوو سویلي او شمالي حکومتونو په یووالي سره په مصر کې یو مرکزي حکومت د لومړی مینز په واسطه رامنځ ته کړ.

۲- مورخینو د لرغوني مصر تاریخي دورې په دریو دورو ویشلي دي.

لومړی لرغونی سلطنت، دویم منځنی سلطنت او دریم د امپراطوری دوره(۱۰۹۰ ق. م تر ۱۵۸۰ ق.م).

۳- حضرت موسی(علیه سلام) د دویم رامسس د واکمنۍ په مهال څرګند شو.

**اضافي معلومات:**

د افریقا په وچه کې د لرغونی مصر د تمدن د رامنځ ته کیدو اصلي لامل د نیل سیند و. د نیل سیند د نړۍ تر ټولو له اوږدو سیندونو څخه شمیرل کیږي. دغه سیند د افریقا له سترو جهیلونو څخه سر چینه اخلي او په پای کې د هغه اوبه د مدیترانې په سمندرګي توییږي. له تاریخي دورو څخه وړاندې په مصر کې خلکو ګډوګډ کوچیانی ژوند درلود تر هغه پورې چې د هغوی په ژوندانه کې پرمختګونه رامنځ ته شول او د نیل د سیند پر څنډو ځای پر ځای شول. په نیل کې د ډول ډول کبانو شتون د لرغوني مصر د خلکو په خوړلو کې پوره مرسته کوله. د وخت په تیریدو سره د نیل د سیند په څنډو کې یې په کرنه او مالداری باندې پیل وکړ او د یو څلانده تمدن بنسټ یې د نیل د سیند په څنډو کې کېښود. ورو ورو کلي او ښارونه منځ ته راغلل او دغه ښارونه او کلي یو له بل څخه خپلواکه وو او په هغه وخت کې یو مرکزي او واحد حکومت شتون نه درلود، خو د ځایي واکمنانو د جګړو او سیالی په پایله کې د مصر ټول وګړي د یو کس تر فرمان لاندې چې له نورو څخه پیاوړی او ځواکمن و، راغلل. دغه فرمان چلوونکی (رامسس) نومیده.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندنیو منابعو ته مراجعه وکړئ:**

۱- تمدن مغرب زمین، محمد حسین آریا.

۲- نګاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

۳- تاریخ بشریت، پوهنمل محمد رحیم روهین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۵) لوست د تدریس لاربنود پلان

د تدریس مهال : یو درسی ساعت (۴۵ دقیقې)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د لرغونی مصر تمدن او فرهنګ | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د مصر د تمدن او کلتور په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– زده کوونکي به د لرغوني مصر له تمدن او کلتور سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به د لرغونی مصر د تمدن د کلتوري لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندې کړي،<br>– زده کوونکي به د لرغونی مصر د تمدن او کلتور پر ارزښت پوه شي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړنی فعاليتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشې، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يوه په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقيقو<br>لس دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| کړنې | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو بانـدې د زده کوونکو ویـشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوسـت ارزونــه او د کـورنۍ دنــدې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه خارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمـو مطلبونـو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلـو د اسـتازو لخـوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټـولګي کـې د دنـدې سـرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځــــه دیـــرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- مصریانو په ارباب النوع باندې باور درلوده. لمر، سپوږمۍ، د نیل سیند او ځینې څناور یې سپیڅلي ګڼل او د هغوی انځورونه او مجسمې یې د احترام په موخه په معابدو کې کېښودلې.

۲- د مصر ټولنه له څلورو طبقو څخه جوړه شوې وه، د هرې طبقې په سر کې د فرعون کسانو شتون درلود، د طبقو په منځ کې د ژوندانه ډېر توپیرونه نه لیدل کېدل، ټول وګړي د قانون په وړاندې یو شان وو.

۳- لومړنی لیک چې مصریانو رامنځ ته کړ، د هیرو ګلیف لیک و. کاهنانو (مذهبي لارښوونکو) به هغه د عبادت ځایونو، قصرونو او د فرعونیانو په قبرونو کې د مطلبونو د لیکلو په اړوند کارول او په ځانګړو ښوونځیو کې به زده کوونکو ته هم زده کړه ورکول کېده.

**اضافي معلومات:**

د مصریانو فرهنګي میراث، له ډېر شمیر اهرامو، عبادت ځایونو، هدیرو، انځور شـوو مجسمو، کتیبـو او سـرودونه څخه دی چې ټول د عقایدو په سیوري کې منځ ته راغلي دي. د لرغوني مصر وګـړو پـه ډول ډول خـدایانو بـاور درلود چې د هغوی تر ټولو نامتو، (را) د لمر خدای و.

څرنګه چې هغوی د لمر په راختو او لویدو باندې پوهېدل، فکر یې کاوه چې (را) هره ورځ په سرعت لـه آسـمان څخه تیریږي او د شپې لخوا دښتو او بیابانونو ته ځي. کله چې د مریتوب نظام (غلامي) رامنځ ته شو فرعونیان هـم د ځمکې پر مخ د خدای استازی شمیرل کېدل، سربیره پـر دې د دوی پـه انـد لمـر، سپوږمۍ، نیـل او څنـاوران، لکه:غویي، پشکه، نهنګ ټول سپیڅلي دي.

د پخواني مصر د کشف شوو آثارو له جملې څخه چې د ټولنیز ژوندانه پـه اړه مـوږ تـه معلومـات راکـوي، څلـور طبقې هرم دی چې په واقعیت کې د مصر ټولنه له یو څلور طبقي هرم څخه جوړه شوې ده چې په هره طبقه کـې د یوې ډلې خلکو شتون درلود. د دې هرم په سر کې فرعون و چې په ټول ځواک سره یـې پـر خلکـو حکومـت کاوه، پوځیان، قانون جوړونکي، مذهب او اداري سازمانونه ټول د ده په اختیار کې وو چې د وزیر په مرسته سره یې هغوی اداره کول.

د لرغوني مصر لیکونه د هیروګلیف په لیک دي. د هیروګلیف لیک د سپیڅلي الفبا لرونکی و چې پـه هغـه مهـا ل کې د سپیڅلو توکو د ښکارولو لپاره د تصویري علایمو په عنوان ورڅخه کار اخیستل کېده. هیروګلیـف وروسـته ساده او د لیکنې په موخه په دوه ډله لیک باندې وویشل شو، خو هیڅ کله یې د الفبا په ډول بدلون و نه موند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲٦) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال : دوه درسي ساعت (۹۰ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د فارس تمدن | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې په ختیځ کې د فارس د تمدن په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د پخواني فارس له تمدن سره د زده کوونکو بلدتیا،<br>– زده کوونکي به د لرغونی فارس د تمدن سیمې د تاریخي نقشې په مخ شکاره کړي او په دې هکله به خپل معلومات وړاندې کړای شي،<br>– زده کوونکي به په ختیځ کې د فارس د تمدن په ارزښت باندې پوه شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړنی فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- د ایران لرغونې سیمې له سیالك، ګوران، مارلك، جیروخت او شهر سوخته څخه عبارت دي.

۲- د هخامنشیانو د حکومت بنسټ ایښودونکی لوی کوروش و چې د مادیانو له حکومت څخه وروسته منځ ته راغی او د بابل ښار تر نیولو وروسته یې، خپل ځان د بابل پاچا ونوماوه.

۳- هغه قبرونه چې مادیانو د خپلو پاچاهانو لپاره کېندلي وو، ورڅخه سفالي او فلزي آثار لاسته راغلي دي چې د مادیانو د هنر او معمارۍ د مهارت ښکارندوی دي.

**اضافي معلومات:**

په ایران کې د لرغونې تمدني مرکزونو له جملې څخه یو هم د مارلك غونډۍ ده، دغه تپه (غونډۍ) اوس د ګیلان په سیمه کې پرته ده. له دغې سیمې څخه ځینې اثار چې تاریخي لرغونتوب یې د ایران خاورې ته د اریایانو له مهاجرت څخه مخکې وخت ته رسیږي لاسته راغلې دي.

د ایران بله لرغونې سیمه شهر سوخته دی چې په زاهدان کې پرته ده، لرغونتوب یې له میلاده څخه وړاندې څلور زرو کالو ته رسیږي، د شهر سوخته له کشفیاتو څخه زیاتره د ختو مهرونه، د حیواناتو ختېنې او کوچنۍ مجسمې، زینتي توکي د لاجوردو له ډبرو څخه، فیروزه او عقیق لاسته راغلي دي.

له مهمو کشف شوو اثارو څخه، په ایلامي ژبه لوحې دي، له دې امله د سوخته ښار د هغه مهال د اړیکو مرکز و. کابو ۳۰۰۰ کاله له میلاده څخه وړاندې ایلامیانو د بوشهر په خاوره کې د (کرمان، لرستان او کردستان) په سیمو کې د ایلام د تمدن بنسټ کېښود چې د دې تمدن د سیاسي فعالیتونو مرکز د شوش ښار و. ایلام لاندې درې تاریخي دورې تیرې کړې دي.

۱- پخوانی ایلام له میلاده څخه ۱۵۰۰ کاله وړاندې،

۲- منځنی ایلام له میلاد څخه له ۱۳۵۰ تر ۱۱۰۰ کاله وړاندې ، د ایلام تمدن ځلانده پیر.

۳- نوی ایلام له میلاده څخه له ۹۰۰ تر ۶۴۵ کال وړاندې، له اشور سره سیاسي سیالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۷) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال : دوه درسي ساعت (۹۰ دقیقې)**

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د هند تمدن</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لرغوني هند د تمدن په اړه معلومات تر لاسه کړي.</td></tr>
<tr><td>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– زده کوونکي به د لرغونی هند د تمدن د منځته راتللو له لاملونو سره بلد شي،<br>– زده کوونکي به د تاريخي نقشې له مخه خپل معلومات د لرغونی هند د تمدن په اړه نورو ته بيان کړای شي،<br>– زده کوونکي به په لرغوني نړۍ کې د هند د تمدن ارزښت درک او احساس کړای شي،<br>– د تمدن له لاسته راوړنو سره به مينه پيدا کړای شي.</td></tr>
<tr><td>د تدريس لارې او طريقې</td><td colspan="2">توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي.</td></tr>
<tr><td>مرستندويه او اړين درسي توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې طريقې</td><td colspan="2">تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ...</td></tr>
<tr><td>لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړني فعالیتونه:<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>د انګیزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقیقو<br>لس دقیقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه خارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه**

۱- هراپه او موهنجو دارو د هند د لرغونو سیمو له جملې څخه شمیرل کیږي چې تاریخي قدامت یې له میلاد څخه وړاندې ۳۰۰۰ کالو ته رسیږي. د هراپه او موهنجو دارو تمدن د سند په لویدیځ کې منځته راغلی و او له دراویدي قومونو سره یې تړون درلود.

۲- اریایانو له میلاد څخه ۱۵۰۰ کاله وړاندې هند ته مهاجرت وکړ او په هند کې یې د کاست (طبقاتي) سیستم رامنځ ته کړ او د دې ویش پر بنسټ څلور طبقې، لکه: برهما(روحانیون)، کشاتریان (جنګیالي)، ویستا(سواګر او کروندګر) او سودارا (کارګران) رامنځته شوې.

۳- د لرغوني هند خلک په علومو، لکه: ریاضي، طبابت او د نجوم په علم (ستوري پیژندونکی) کې ډیر پرمختګونه درلودل. له یو څخه تر (۹) پورې عددونه، او اعشاري سیستم او داسې نور د هندیانو په واسطه منځته راغلل.

**اضافي معلومات:**

هند په اسیا کې د پخوانیو تمدنونو د پیدایښت له مرکزونو څخه دی. دغه خاوره د هغو دینونو او اندیشو د پیدایښت مرکز و چې د نړۍ په تاریخ کې یې اساسي رول لوبولی دی.

هند په لرغوني پیر کې خپلې سوداګریزې او کلتوري اړیکې له ګاونډیانو سره او په ځانګړې توګه له چین سره ټینګې کړې، خو سوداګرانو د وریښمو له لارې چیني توکي یې هند ته وړل او د هغوی تولیدات یې د نړۍ نورو سیمو ته استول. څرنګه چې اریایان جنګیالي خلک وو، د هند خاورې ته له ننوتلو څخه وروسته یې د هند د خلکو (دراویدیانو) په ټکولو لاس پورې کړ او د هغوی پر ښارونو او کلیو باندې واکمن شول. د اریایانو ځواکمنتیا د هند پر شمالي سیمو باندې د دې لامل شو چې دراویدیان د هند مرکزي او سویلي سیمو ته کډه وکړي او ځینو یې د سویلي هند په سواحلو کې لوی ښارونه جوړ کړل او د بحر له لارې یې د بین النهرین له خلکو سره په سوداګرۍ لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۸) لوست د تدريس لارښود پلان

**د تدريس مهال : دوه درسي ساعت (۹۰ دقيقې)**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د چين تمدن | |
| عمومي موخې | زده کوونکي دې د چين د تمدن په اړه معلومات تر لاسه کړي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– په ختيځ کې د چين له تمدن سره په لرغونی مهال کې د زده کوونکو بلدتيا،<br>– زده کوونکي به په لرغونی چين کې د حکومتونو د لړيو د را منځ ته کېدو په اړه معلومات وړاندې کړای شي،<br>– زده کوونکي به د لرغونی چين د علمي اوکلتوري لاسته راوړنو په اړه خپل نظرونه وړاندې کړای شي،<br>– زده کوونکي به په لرغونی ختيځ کې د چين د تمدن په ارزښت او عظمت باندې پوه شي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br>**لس دقيقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**– د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱– د (چه این) قبیلې واکمن شي هوانګ تی و. هغه پیاوړي پوځي ځواك په واك کې درلودل، له همدې امله بریالی شو چې کوچني حکومتونو له منځه یوسي او د چین په لوی هیواد کې خپل ځان د چین د لومړني سلطان یا امپراتور په توګه اعلان کړي، په دې مهال کې د چین د تمدن د ودې او ځلانتیا لپاره زمینه برابره شوه.

۲– د لرغونی چین خلکو د آسمان، ځمکې او د خپلو نیکونو لمانځنه کوله، د چین تر ټولو نامتو کیش د تاو او کنفوسیوس ایین و.

۳– چینایانو د ریاضیاتو، نجوم او جغرافیې په برخه کې ډیر پرمختګونه درلودل. هغوی د خپل هیواد د جغرافیې په اړه، د چین د ځینو ایالاتونو نقشې او د زلزلې په هکله معلومات تر لاسه کړل او حتی قطب نما یې هم اختراع کړې وه.

**اضافي معلومات:**

د چین هیواد چې داسیا په ختیځ (لیرې ختیځ) کې موقعیت لري د لرغونو تمدنونو د مرکزونو له جملې څخه شمیرل کیږي. د چین لرغونی تمدن د (هوان ګهو) د سیند په څنډو (سواحل) کې پیل شوی و. دغه سیند د اوبو د زیاتوالي په مهال زیړه خاوره د (رس) په نامه له ځان سره راوړله چې دکرنې او زراعت لپاره ګټوره وه. په دې توګه د هوان ګهو سیند د زیړ سند په نامه هم یادوي.

د دې حاصلخیزې سیمې اوسېدونکو په لومړیو وختونو کې خپل خوراکي توکي له میوو، دانو او د حیواناتو له ښکار څخه لاس ته راوړل، په هغه مهال کې هغوی د زیړو الاتو څخه چې له ډبرو څخه یې جوړول، کار اخیسته. تر هغې چې کرنې ته یې مخه کړه او د حیواناتو له اهلي کولو او د خټینو لوښو له جوړولو سره یې اشنایي پیدا کړه. ورو ورو کلي منځ ته راغلل او قبیلې هم جوړې شوې، د ډیرو قبیلو مشرانو له خپل واك او زور څخه کار اخیسته، ډیرې ځمکې او د هغو حاصلات یې تر لاسه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۲۹) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : دوه درسي ساعت (۹۰ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د یونان تمدن | |
| عمومي موخې | د یونان د لرغونی تمدن سره د زده کوونکو پېژندګلوي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د کرت د جزیرې تمدن او د یونان د ټولنیزې وضعې په اړه به معلومات تر لاسه کړي.<br>– د یونان د دولتي ښارونو په اړه به معلومات تر لاسه کړي،<br>– د یونان د کلتوري، علمي او هنري لاسته راوړنو په اړه به معلومات تر لاسه کړي،<br>– د یونان د نامتو فیلسوفانو د اثارو سره به مینه پیدا کړی. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یو په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br><br>**لس دقیقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پـر تخته بانـدې د لوسـت د سـرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوســت ارزونــه او د کــورنی دنــدې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوســت پــه بهیــر کــې د مهمــو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلـو د اسـتازو لخـوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښـــوونکي پوښـــتنو تـــه ځـــواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځــــه دیــرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- کرت د یونان یوه ټاپو دی. په ۱۹۰۰ زیږدیزې کال کې د لرغون پیژندونکو پلټنو دا وښودله چې د کرت په جزیره کې یو پرمختللي تمدن شتون درلود چې د مصر او بین النهرین له تمدنونو سره یې سیالي کوله.

۲- د یونان د دولتي ښارونو له جملې څخه اسپارت او اتن وو چې د اسپارت وګړو په جګړو کې شهرت درلوده او د اتن وګړو د دموکراسی، علم او فلسفې په دودولو کې ډیر مشهور وو.

۳- یونانیانو پر ډیرو خدایانو باندې عقیده درلوده، لکه: د ځمکې ، اسمان، برښنا او داسې نور.

۴- د یونان نامتو فیلسوفان له: سقراط، افلاطون او ارسطو څخه عبارت وو.

**اضافي معلومات:**

پوهانو د نولسمې پیړۍ تر پایه پورې د کرت د ټاپو په اړوند دقیق اطلاعات په لاس کې نه درلودل. تر هغه وخت پورې چې انګلیسي لرغون پیژندونکي ارتورایوانز په ۱۹۰۰ زیږدیز کال کې د پلټنې په ترڅ کې دا وښودله چې لـه میلاد څخه ۶۰۰۰ کاله مخکې د کرت په ټاپو کې یو پرمختللي تمدن شتون درلود چې لـه هـر پلـو یـې د مـصر او سومر له تمدن سره سیالي کوله او په ځینو برخو کې یې د هغوی په پرتله زیاتوالی درلـود، پـه ځانګړې توګـه لـه کنوسوس څخه د ځینو شواهدو په تر لاسه کولو سره د کرت تاریخ تر ډیرې کچې پورې روښانه شو.

په مصر کې د کرتي لوښو کشفول او د کرت په ټاپو کې د هغه عکس په دې دلالت کوي چې کرت له مـصر او بین النهرین سره سوداګریزې اړیکې درلودې.

د کرت د ټاپو وګړي له ایبري یا مدیترانه یي نژاد څخه وو چې دغـه وګـړي لـومړنی کـسان وو چـې د بیـړۍ پـه جوړولو یې لاس پورې کړ او سمندریزه سوداګري یې له ښه پرمختګ څخه برخمنه وه. له لاسـته راغلـو شـواهدو څخه داسې څرګندیږي چې په کرت کې لومړی کوچنیو دولتونو شتون درلود، خو بیا له مـیلاد څخـه ۲۰۰۰ کالـه وړاندې هلته مرکزي دولتونه منځ ته راغلل چې پلازمینه یې د کنوسوس ښار و او د پلازمینې پاچا هان او امیـران د مینوس په نوم یادیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرت د خلکو ژبه له یوناني ژبې سره توپیر درلوده او له مصري او قبرسي ژبو سره یې ډېر ورته وه، لیک یې په لومړي سر کې له هیروګلیف (تصویري) علامو څخه جوړ شوی و، خو وروسته کرار کرار بل لیک دود ومونډ چې ډېرو تورو یې له فینقي الفبا سره ورته والی درلود.

په پای کې د کرت تمدن د هندو اروپایي قبایلو د یرغلونو له امله له منځه ولاړ او د کنوسوس ماڼۍ د دروینانو په لاس له منځه ولاړه او د کرت تمدن ته یې د پای ټکي کیښود.

د ډېرو معلوماتو لپاره لاندنیو منابعو ته رجوع وکړئ:

- تمدن مغرب زمین، اسپیل فوګل.
- تمدن های بزرگ جهان، نادر میر سعیدی.
- نگاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۰) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | د روم تمدن | |
| **عمومي موخې** | د روم له لرغوني تمدن سره د زده کونکو پېژندګلوي. | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د روم د تمدن د سیاسي وضعې په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>– د روم په ټولنیزې وضعه باندې به وپوهیږي،<br>– د روم د کلتور او د هغه له هنري لاسته راوړنو سره به بلد شي،<br>– د روم او یونان ټولنیزه او کلتوري وضعه به یو له بل سره پرتله کړای شي،<br>– زده کوونکي به د معماري له هنر سره مینه پیدا کړای شي. | |
| **د تدریس لارې او طریقې** | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| **مرستندویه او اړین درسي توکي** | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| **د ارزونې طریقې** | تقریري، تحریري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| **لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول** | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یو په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

- **د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- په روم کې د شاهي نظام له نسکوریدو څخه وروسته د جمهوري نظام بنسټ کیښودل شو او د اعیانو (سناتورانو) مجلس یا دسل کسیزه غړو شورا چې به ترکیب کې یې قومي مشرانو شتون درلود، جوړه شوه.

۲- اکتاو هغه سړی و چې د روم د امپراتورۍ بنسټ یې کیښود. نوموړی له میلاده څخه ۲۷ تر ۱۶ کاله وړاندې په روم کې واکمني وکړه، د هغه د واکمنۍ په وخت کې ډیر اصلاحات وشول، فساد له منځه ولاړ، نظم او قانون حاکم شو، نوې محکمې جوړې شوې او پوستي خدمات منځته راغلل.

۳- د روم ټولنه په دوو برخو یعنی ختیځه او لویدیځه باندې وویشل شوه چې لویدیځ روم ډیر ژر د وحشي او بربر قومونو په وسیله له منځه ولاړ، خو ختیځ روم چې پلازمینه یې قسطنطنیه وه ډیر وخت یې دوام وکړ.

۴- د روم قانون درې برخې درلودې، لومړۍ برخه یې مدني او کورنۍ قانون، دویمه برخه یې د وګړو قانون او دریمه برخه یې طبعي قانون و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

د روم د امپراتورۍ له ودې سره سم د کارتاژ ښار چې په شمالي افریقا کې د فینقیانو د واکمنی ځای و، د اقتصاد او سوداګرۍ پلوه له ډېر ارزښت څخه برخمن شو ځکه چې کارتاژیانو د شمالي افریقا سیمې، ساردیني، سیسلي کوریسکا او هسپانیا یې تر خپلې ولکې لاندې درلودې او همدارنګه د لویدیځې مدیترانې سوداګریز انحصار یې هم په خپل لاس کې درلود. هغوی د تور پوستکو غلامانو، عاج، فلزاتو او د افریقا د قیمتي ډبرو د پلورلو لـه لارې د ډېرو پانګو خاوندان شول.

په پیل کې د یونانیانو د له منځه وړلو لپاره د مدیترانې په سمندرګي کې روم او کارتاژ یو بل تـه لاس ورکـړ، خـو د یونانیانو له شړلو څخه وروسته دغه دوه تمدنونه یو د بل سیال وګرځیدل او یو لـه بـل سره یـې جګـړې وکـړې، څرنګه چې سیسیل یو ښیرازه (حاصل خیزه) ټاټوبې و د رومیانو لپاره د غلې دانې یوه غوره منبع کېدای شوه چې د کارتاژیانو په لاس کې وه، که چیرې رومیان بریالي کیدل د غلې دانې زیاته برخه یې له دغې سیمې څخه پـوره کوله، له همدې امله چې د یونان په سینایې ښار باندې د کارتاژیانو یرغل چې د سمندري غلو له خوا اشغال شـوې وو، د رومیانو لپاره یوه بهانه شوه چې له کارتاژیانو سره جګړه پیل شي چې یوه پیړۍ یې دوام وکړ چې د پونیـک د جګړو په نوم شهرت لري.

د پونیـک لـومړنۍ جګـړه لـه ۲۶۴ څخـه تـر ۲۴۱ کالـه وړانـدې لـه مـیلاد، دویمـه جګـړه یـې لـه مـیلاد څخـه لـه ۲۶۱– ۲۱۸ کاله وړاندې له میلاده او دریمه جګړه یې له ۱۴۹ څخه تر ۱۴۶ کاله وړاندې له میلاد څخـه دوام وکـړ. چې په پای کې رومیانو پر کارتاژیانو باندې برې وموند. دغو جګړو د رومیـانو پـه سیاسـي ، ټـولنیزې او اقتـصادي وضعې کې سترې پایلې منځته راوړې. څرنګه چې د کارتاژیانو پـه لـه منځـه وړلـو سـره د هغـوی ټـولې سـیمې او ثروت د رومیانو په لاس کې ولوېد چې دغه کـار د رومیـانو د پراختیـا او ودې لامـل شـو او روم یـې پـه یـو لویـه امپراتورۍ بدل کړ او د پاتریسین (غني طبقه) په ژوند کې ډېر بدلون راغی. د هغوی پانګه ډېره شوه، خـو د فقیـرو او بې وزلو خلکو په ژوند کوم بدلون را نه غی، بلکې د جګړو له امله هغوی ډېر زیانمن شول.

منبع:

- تمدن مغرب زمین، اسپیل فوګل.
- تمدن های بزرګ جهان، نادر میر سعیدی.
- نګاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۱) لوست د تدريس لارښود پلان

د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرليکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د امريکا تمدن</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">د امريکا د لرغونو تمدنو سره د زده کوونکو پېژندګلوي.</td></tr>
<tr><td>(پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- د امريکا د بومي اوسيدونکو او د هغوی د اتنيکي منشأ په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- د مايانو له تمدن سره به بلد شي،<br>- د ازتکيانو او اينکايانو د تمدنو په اړه به معلومات تر لاسه کړي،<br>- د امريکا لرغوني تمدنونه به تحليل او تفسير کړای شي،<br>- د امريکا نقشې به رسم کړای شي.</td></tr>
<tr><td>د تدريس لارې او طريقې</td><td colspan="2">توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي.</td></tr>
<tr><td>مرستندويه او اړين درسي توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې طريقې</td><td colspan="2">تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ...</td></tr>
<tr><td>لومړنی فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول</td><td>لومړني فعاليتونه:<br>سلام اچول، ستړي مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تېر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>د انګيزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقيقو<br><br>لس دقيقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱– د امریکا بومي ټولنه مغولان وو چې د سایبریا او الاسکا له لارې مهاجره شول او د تمدنونو ځینې نښې نښانې یې له خپل ځان سره را نقل کړې.<br>۲– د مایانو تمدن له میلاد څخه کابو ۱۵۰۰ کاله د مخه منځ ته راغی او تر مرکزي امریکا (ګواتیمالا، مکسیکو، هاندوراس ) سیمو پورې یې پراختیا پیدا کړه.<br>۳– ازتکیانې له میلاد څخه د مخه په نهمه پیړۍ کې په مکسیکو کې راښکاره شول هغوی جنګیالي خلك وو او ازتکیانو ډېره لویه امپراتوري منځته راوړه چې په ۳۸ ولایاتو ویشل شوې وه. | | |

**اضافي معلومات:**

د ازتکیانو مرکز تنوچ تیتلان و، تنوچ تیتلان په لوړیو کې یو کلی و چې په ډېره چټکتیا سره یې پراختیا وموندله، د هغه په مرکز کې کورونه جوړ شول چې لوړنی عبادت ځای شمیرل کیده، دغه کور څو واره بیا ورغول شو چې په پای کې د ښار په لوی عبادت ځای بدل شو.

د تنوچ تیتلان ښار د تئوتي هواکان د لرغوني ښار د طرحې پر بنسټ باندې جوړ شوی او په ځلوو برخو ویشل شوی و. د ازتکي هره کورنی له نوموړو برخو څخه په یوه برخه کې مېشته شوه او هره کورنۍ د یوې ټوټې ځمکې څښتنه وه چې د هغوی غړو پر خپل ځمکه باندې کار کاوه او له محصولاتو څخه یې خپلې اړتیاوې پوره کولې او هغوی د خپل پخوانی مشر د احترام په خاطر تنوچ ښار ته تنوچ تیتلان نوم ورکړ.

تنوچ تیتلان د ځلانډې دورې په لړ کې په یو ښار باندې واوښت چې مخکې له هغه څخه د امریکا په وچه کې داسې عظمت لیدل شوی نه و. تر هغه ځایه پورې چې د هسپانیایي فاتحانو د تعجب وړ وګرځید او هغوی د دې ځای په لیدو سره دغه ځای ته (ونیز) یا د نوې قارې نوم ورکړ.

**منبع:**

- تمدن مغرب زمین، اسپیل فوګل.
- تمدن های بزرګ جهان، نادر میر سعیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۲) لوست د تدریس لاربنود پلان

**د تدریس مهال : یو درسي ساعت (۴۵ دقیقې)**

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د اسلام د خپریدو په درشل کې د نړۍ او عربستان ټاپوزمې اوضاع.</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">د اسلام د خپریدو په درشل کې د نړۍ او عربستان د ټاپوزمې له اوضاع سره د زده کوونکو پېژندګلوي</td></tr>
<tr><td>(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– زده کوونکي به د اسلام د خپریدو په مهال د نړۍ د وضعیت له څرنګوالي سره بلد شي،<br>– د اسلام د خپریدو په درشل کې به د عربستان د ټاپوزمې په وضعیت وپوهیږي،<br>– د اسلام د خپریدو په درشل کې به د نړۍ او د عربستان وضعیت تحلیل او تفسیر کړای شي.<br>– د اسلام د سپیڅلې دین له ارزښت سره به علاقه پیدا کړای شي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس لارې او طریقې</td><td colspan="2">توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې.</td></tr>
<tr><td>مرستندویه او اړین درسي توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې طریقې</td><td colspan="2">تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ...</td></tr>
<tr><td>لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړني فعالیتونه:<br>سلام اچول، ستړې مشې، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>د انګیزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یو په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقیقو<br>لس دقیقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه ځارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- د عربستان وګړو له اسلام څخه د مخه خپلې لورګانې د لوږې او یا د ننګ او شرم له مخې ژوندۍ په ګور کولې او ښځه د هغوی په وړاندې بې ارزښته وه او لکه د بې ارزښته توکي په شان پلورل کیدې او اخیستل کیدې.

۲- څرنګه چې د اسلام د سپیڅلي دین له خپریدو څخه وړاندې پر ځمکه باندې کفر، ویره او ډار حاکم و، د نړۍ ټول خلک په جهل او توره تیاره کې ډوب وو.

د عربو خلکو له اسلام څخه وړاندې په یهودي، نصراني، د بوتانو، لمر، سپوږمۍ او ستورو په لمانځنې باندې عقیده درلوده.

**اضافي معلومات:**

په جزیرة العرب کې د شرک د منځته راتللو په اړه درې نظریې ویل شوې دي:

۱- ځینې په دې اند دي چې شرک د جزیرة العرب له سیمې څخه راپورته شوی دی. دوی داسې وایي:
کله چې حضرت اسماعیل پر حجاز باندې حاکم شو (جُرهمیانو) چې د هغه له مورنې قوم څخه وو. هغوی مکې ته راغلل، په مکه کې د هغوی حضور او له بیت الحرام(کعبه) سره د نوموړو تماس او هغه علاقه چې د دې اړیکو له امله را پیدا شوې وه، هغوی یې مجبوره ول چې له بیت الحرام څخه لیرې نشي. په پای کې د اړتیا له امله مسافرت ته اړ شول او له حرم سره د اړیکې دساتنې په خاطر یې لږ خاوره او یا د ډبرو ټوټې له خپل ځان سره یې یوړې. چې په پای کې هم دغه خاوره او ډبره د وخت په تیریدو سره د درناوی له پلوه په مختلفو ډولونو د ستاینې وړ شوه. په پای کې شرک او د بوتانو لمانځنې دود پیدا کړ.

۲- ځینې نور داسې وایي: کله چې عمرو د یحیی زوی پر مکه باندې حاکم شو او د سوداګرۍ په موخه شام ته ولاړ او خپله کورنۍ یې ولیدله چې د بوتانو لمانځنه یې کوله، هغه هم ورته علاقمند شو او له هغو بوتانو څخه یې یوه برخه مکې ته را نقل او خلکو ته یې امر وکړ چې هغوی هم لمانځنه او درناوی ورته وکړي.

۳- ځینې څیړونکي په دې اند دي: د هغه واټن له امله چې د حنیفي دین او خلکو تر منځ رامنځ ته شوی ورو ورو د انحرافاتو ځینې اثار ښکاره شول او همدارنګه د ګاونډیو تمدنونو، لکه: سینایي، رومي او بین النهرین شرکي عقیدې هم اغیزه درلوده او په پای کې د عربستان خلک د شرک لور ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۲) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : دوه درسی ساعت (۹۰ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د حضرت محمد (ص) ژوند له پیدایښت څخه تر بعثت پورې. | |
| عمومي موخې | د حضرت محمد(ص) له ژوندانه سره (له پیدایښت څخه تر بعثت پورې) د زده کوونکو پیژندګلوي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>– د اسلام د سپیڅلی دین له خپریدو څخه وړاندې د حضرت محمد(ص) له ژوندانه سره پیژندګلوي،<br>– د حضرت محمد (ص) په پیغمبرۍ باندې د مبعوث کیدو له څرنګوالي سره بلدتیا،<br>– حبشې ته د مسلمانانو د هجرت په اړه معلومات تر لاسه کول،<br>– د اسلام پیامبر حضرت محمد(ص) د عالي شخصیت په اړه پیژندګلوي،<br>– د اسلام د دیني ارزښتونو درک او احساس،<br>– د زده کوونکو په منځ کې د امانت ساتنې او رښتینولی د روحیې پیدا کول. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یو په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه نظارځارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱- محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن مره دی.<br>۲- مسلمانانو د مکې د کافرانو د ازار له لاسه حبشې ته هجرت وکړ.<br>۳- کله چې حضرت محمد(ص) طایف ته ولاړ چې د هغه ځای خلك اسلام ته راوبلل، هغوی نه یواځې د اسلام د پیغمبر بلنه ونه منله، بلکې کوچنیانو او ځوانانو ته یې دنده ورکړه چې د حضرت محمد(ص) په ځورولو لاس پورې کړي او له ښار څخه یې وباسي. | | |

**اضافي معلومات:**

حضرت محمد (ص) د دو شنبې په ورځ، د ربیع الاول په دولسمه، د عام الفیل په کال چې له ۵۷۱ میلادي سره سمون لري، زیږدلی دی. د حضرت محمد (ص) پلار عبدالله نومیده چې د هغه له زیږیدو څخه مخکې وفات شوی و. کله چې حضرت محمد(ص) شپږ کلنۍ ته ورسید، د هغه مور بي بي آمنه وفات شوه او د جناب پالنه د هغه نیکه عبدالمطلب په خپل غاړه ونیوه، خو عبدالمطلب هم له دوو کالو څخه وروسته له نړۍ سترګې پټې کړې او د حضرت محمد(ص) کفالت د هغه تره ابوطالب په خپله غاړه واخیسته.

ابو طالب ډیر شریف سړی و. حضرت محمد(ص) ورته له خپل اولادو څخه ډیر ګران و، خو د اقتصاد له پلوه کمزوری و. په دې توګه حضرت محمد(ص) اړ شو چې خپل زیاتره وخت د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره مصرف کړي. هغه هم ډیر ستونزمن کارونه، لکه: د رمی ساتنه، د دوبې په ګرمیو کې چې د حضرت محمد (ص) په روح او روان باندې یې ډیر ښه اغیز پر خپل ځای پریښود، همدارنګه بیابان د نړۍ د خلقت(پیدایښت) په اړه د ده د تفکر لپاره ډیر مناسبه ځای و.

حضرت محمد(ص) د دولس کلنۍ په عمر کې له خپل تره ابوطالب سره د سوداګرۍ لپاره شام ته ولاړ، خو سوداګریز کاروان په سوریه کې بصرا ښار ته نږدې دمه وکړه. په دې ښار کې د بحیرا په نامه یو راهب اوسیده، بحیرا تر هغه وخت پورې له نورو کاروانونو سره چې له هغه ځای څخه تیریده اړیکې نه نیولې او خبر یې ور سره نه کولې، خو هغه په دې کال د دې کاروان د هرکلي لپاره راغی. د نبنو او علامو، مطالعاتو او تجربو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې یې حضرت محمد(ص) وپېژند او ابوطالب ته یې وویل: دغه د عالمیانو سید او د جهانیانو رسول دی او خدای(ج) هغه یې د جهانیانو لپاره د رحمت العالمین په توګه په پیغمبری مبعوث کوي، ابوطالب او د قریشو لویانو وویل: څنګه وپوهیدې؟ هغه وویل: کله چې د غونډۍ غاړې ته نږدې شوی، هیڅ ډبره او ونه نه وو چې دغه جناب ته سجده ونکړي او دوی له پیغمبر څخه پرته بل هیڅ چاته سجده نه کوي او زه هغه د نبوت له مُهر څخه پیژنم چې پخپل کتاب کې مې لوستلی دی.

وروسته یې د کاروانیانو لپاره میلمستیا تیاره کړه او له ابوطالب څخه یې وغوښتل چې جناب حضرت(ص) شام ته یو نسي او بیرته یې مکې ته وګرځوي، ځکه امکان لري چې د شام رومیان او یهودیان زیان ورته ورسوي، نو هغوی بیرته وګرځیدل.

حضرت محمد(ص) د نیکو اخلاقو خاوند و. هغه جناب د خپل قوم په منځ کې په شفقت، وفا، عهد ساتنه، حوصلې، عفت، تواضع، زړورتیا د امانت په ساتنه او رښتینولی کې مشهور و. تر هغه ځای پورې چې ورته یې د امین لقب ورکړی و.

پیغمبر(ص) د ځوانۍ په مهال د مکې له ځینو ځوانانو سره له هغه کسانو سره چې پرې زور زیاتی شوی و، د حلف الفضول په نوم یو تړون وتاړه. د حجرالاسود پر ایښودلو باندې د اعرابو د مختلفو قبیلو تر منځ ستونزه پیښه شوه. له مباحثې او مناقشې څخه وروسته یې د اعرابو د قبیلو د مشرانو د ستونزې د حل لپاره پریکړه وکړه او تصمیم ونیول شو چې هر څوک له ټولو څخه مخکې د کعبې دروازې ته ورننوت، د هغه حکم به ومنو. په دې وخت کې حضرت محمد(ص) له ټولو څخه مخکې کعبې ته ورننوت او ټولو پرې غږ وکړ چې امین داخل شو، وروسته له هغه حضرت محمد(ص) د ځانګړې تدبیر او فکر سره سم حجرالاسود په یو ټادر باندې کیښود او د هغه څنډې یې د قبیلو د لویانو په لاس کې ورکړې او په دې توګه د یوې سترې وینې تویونې څخه مخنوی وشو.

د اسلام پیغمبر(ص) د عادی خلکو غوندې ژوند کاوه. د هغه کور، خوراک او کالي ډیر ساده وو، هیڅ کله یې خپل ځان له نورو څخه پورته نه ګاڼه. د الهي قوانینو (قران شریف) سره سم د خپلو خپلوانو او مومنانو په وړاندې مهربان او د کافرانو او دښمنانو په مقابل کې یې کلک دریځ درلود، له کوچنیانو سره یې مینه کوله او د خپلو میرمنو او اهل بیتو په وړاندې مهربان و.

د هغه جناب شخصیت داسې و چې د قران کریم عملی څیره د هغه په وجود کې ښکاره شوې وه. چې د هغه ژوند د نورو مسلمانانو لپاره یوه بیلګه اووسې.

منبع:


- تاریخ سیاسی اسلام، داکتر حسن ابراهیم حسن.
- سیرة النبي، مولانا صیف الرحمن مبارکپور.
- تاریخ صدر اسلام، غلام حسین زرګری نژاد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳٤) لوست د تدريس لاربنود پلان

د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د عقبې بيعت | |
| عمومي موخې | د عقبې له بيعت سره د زده کوونکو پېژندګلوي | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– د عقبې بيعت او مدينې ته د مسلمانانو د هجرت له څرنګوالي سره بلدتيا،<br>– د عقبې د لومړي او دويم بيعت په اړه معلومات تر لاسه کول،<br>– هغه لاره چې مسلمانانو مدينې ته هجرت وکړ رسم کړای شي،<br>– يودبل په وړاندې د صله رحمی او د ستونزو په وړاندې د صبر او تحمل د روحيې رامنځ ته کول. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي ټست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، سترې مشې، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقيقو**<br>**لس دقيقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنی او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه ځارنه. | - د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

۱- له خدای (ج) سره هیڅ څوک او یا کوم شی نه شریک کوو، نیک اعمال پرځای کوو او خپل اولادونه نه وژنو، درواغ نه وایو په هیڅ چا تورنه لګوو او د خدای(ج) د رسول نافرماني نه کوو.

۲- د عقبې دویم بیعت د بعثت په دیارلسم کال کې تر سره شو.

۳- حضرت محمد(ص) د جمعې لومړنۍ لمونځ د بني سالم بن عوف په قبیلې کې ادا کړ.

**اضافي معلومات:**

وروسته له هغه چې مسلمانانو له مکې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ، د مهاجرو او انصارو تر منځ د ورورولۍ تړون رامنځته شو، کله چې د مکې مسلمانانو مدینې ته هجرت وکړ، ډیر غریب وو، په مدینه کې یې د ژوند کولو توان نه درلوده. په دې توګه پیغمبر(ص) انصارو ته توصیه وکړه چې له هغوی څخه هر یو د مکې له مسلمانانو سره د ورورولۍ عقد وتړي او هغوی ته په خپل کور کې ځای ورکړي او یو دبل په اتفاق سره د خپل ژوند د معیشت تأمین کړي چې د مکې مسلمانانو د ژوند په وضعه کې ښه والی راشي. هر وخت چې هغوی وتوانیده چې د خپل ځان لپاره د اوسیدلو ځای چمتو کړی شي او خپلې اړتیاوې په یواځې توب سره پوره کړي، هغه وخت کولای شي له دوی څخه جلا شي.

د مواخاتو له تړون وروسته هر هغه څوک چې د یو انصار په کور کې ژوند کوي، یو ورځ د الله د رضا په خاطر د مسلمانانو په مسجد او بل ورځ به د خپل ژوند د اړتیاوو د پوره کولو په خاطر کار کوي.

منبع:

- تمدن مغرب زمین، اسپیل فوګل.
- تمدن های بزرګ جهان، نادر میر سعیدی.
- نګاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۵) لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس مهال : دوه درسی ساعت (۹۰ دقیقې)**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | غزاګانې | |
| عمومي موخې | د حضرت محمد(ص) د غزاګانو د رامنځته کېدو د لاملونو او د هغوی له پایلو سره د زده کوونکو پېژندګلوي. | |
| (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسېږي:<br>– د اسلام پیغمبر حضرت محمد(ص) له غزاګانو سره به بلد شي،<br>– د حضرت محمد(ص) د نیکو کړنو په اړه به معلومات تر لاسه کړي،<br>– د حضرت محمد(ص) د غزاګانو پیغام به د خپل ژوند سرمشق وګرځوي،<br>– د پیامبر له اخلاقو سره د مینې رامنځ ته کول.<br>– د غزاګانو په پایلو باندې به پوه شي. | |
| د تدریس لارې او طریقې | توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه وې. | |
| مرستندویه او اړین درسي توکي | تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طریقې | تقریري، تحریري، مشاهده وې، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړني فعالیتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول، د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>**د انګیزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یو په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول. | **وخت په دقیقو**<br>لس دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستي کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **– د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱– د بدر په غزا کې له مشرکینو څخه اویا تنه ووژل شول.<br>۲– د احد غزا د منځته راتلو لامل د بدر د غزا د تلفاتو پر وړاندې د مکې د کفارو غچ اخیستل وو.<br>۳– د کفارو او مشرکینو د ماتې لامل د خندق په غزوه کې د خندق کیندل، د حضرت نعیم بن مسعود مسلمان کیدل او ډیر چټك طوفان و. | | |

**اضافي معلومات:**

وروسته له هغه چې حضرت محمد(ص) په مدینې منوره کې د اسلامي حکومت بنسټ کیښود او د اسلام بنسټونه یې ټینګ کړل. د اسلامي حکومت په جوړیدو سره ورځ په ورځ د مسلمانانو قوت زیاتیده. د مکې کفار یې په ویره کې واچول او د هغوی هڅې د مسلمانانو د ازارولو لپاره زیاتې شوې. په دې توګه د بدر، احد، بنی نظیر، خندق او بني قریظه غزاګانې د مسلمانانو او کفارو تر منځ د خدای په فرمان رامنځته شوې.

د بدر غزا لومړنۍ غزوه وه چې د مکې د کفارو او مسلمانانو تر منځ پیښه شوه چې د روژې د میاشتې په اولسمه او د هجرت په دویم کال په هغه ځای کې چې بدر نومیده، د مسلمانانو سرتیرو د زړورتیا او قوي ایمان په پایله کې رامنځته شوه. سره له دې چې د اسلام د دښمنانو شمیر څو برابره وو بیا هم پر مشرکانو باندې یې بری تر لاسه کړ چې دغه غزا د کفارو لپاره د پند او حیرانۍ وړ وګرځیده او هغوی یې متوجه کړل چې مسلمانان تر کومه حده پورې له خپل دین سره مینه لري او د هغه د دفاع لپاره حتی له مرګ څخه هم نه ویریږي.

خدای(ج) د بدر په غزا کې د مکې کفار خوار او ذلیل کړل، تر هغه ځای پورې چې تصمیم یې ونیوه چې له مسلمانانو سره یو ځل بیا جګړه وکړي او د بدر ننګ له خپل لمنو څخه پاك کړي. په دې توګه جګړې ته چمتو شول او مسلمانان هم مجبوره شول چې د اسلام د سپیڅلي دین او د خپلو دیني ارزښتونه د دفاع په خاطر د احد، بنی نظیر، خندق او بني قریظه په غزاګانو لاس پورې کړي چې د هغوی شرح د کتاب په متن کې راوړل شوې ده. ورته دې مراجعه وشي.

منبع:

– تمدن مغرب زمین، اسپیل فوګل.
– تمدن های بزرګ جهان، نادر میر سعیدی.
– نګاهی به تاریخ جهان، جواهر لعل نهرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳٦) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس وخت (یو درسي ساعت)

<table>
<tr><td>د مطلبونو سرلیکونه</td><td colspan="2">د مطلبونو شرح</td></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د حدیبې سوله</td></tr>
<tr><td>عمومي موخه</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د حد یبې د سولې –بیعت الرضوان سره بلد شي.</td></tr>
<tr><td>موخې:<br>- پوهنیزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنیتي(Attitude)</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د حد یبې سولې د مفهوم او ارزښت په اړه په معلومات تر لاسه کړي،<br>- د غزوې د مفهوم او د خیبر او موتې عزاګانو په اړه به معلومات ترلاسه کړای شي،<br>- د حد یبې د سولې ارزښت به تحلیل کړای شي،<br>- غزوه، سریه او جګړه به یو له بل سره پرتله کړای شي،<br>- په ژوند کې به د سولې له ښېګڼو څخه خوند واخلي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس چلندونه</td><td colspan="2">تلفیقي میتود( لکچر، مباحثه وې او پوښتنې او ځوابونه )</td></tr>
<tr><td>د تدریس اړین توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، نقشې، کتاب او ...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې چلندونه</td><td>تقریري، تحریري، پروژه وې او مشاهده وې</td><td>وخت په دقیقو</td></tr>
<tr><td>د تدریس او زده کړې فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړنی کړنې:<br>۱- سلام اچول،<br>۲- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>۳- د زده کوونکو د حاضرۍ اخیستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پیژندګلوي او د ټولګي د وضعیت لیدل،<br>۵- د تیرشوي لوست ارزیابي کول،<br>٦- د تدریس د اړینو توکو تیارول ،<br>۷- د انګیزې را منځ ته کول،<br>- د سوالیه جملې طرح کول،<br>- او یا د تاریخي نقشې ښودل.</td><td>۱۰</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مينځنـــــي او وروســـــتني فعاليتونه | د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | وخت په دقيقو |
|---|---|---|---|
| | - د لومړنيو فعاليتونو سرته رسول او د انگيزوي پوښتنو کول،<br>- پر تخته باندي د سرليک ليکل،<br>- پر تخته باندي د مهمو مطلبونو ليکل،<br>- د لوست توضيح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتني،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ييزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولگي څخه د باندي د دندو سپارل. | - په لومړنيو فعاليتونه کې گډون،<br>- د ښوونکي څرگندونو ته غوږ نيول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو ياداشت نيسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتني کول،<br>- په ډله ييزو کارونو کې فعالانه گډون،<br>- له ټولگي څخه بهر د فعاليتونو سرته رسول. | ۸۰ |

**په ټولگي کې فعاليتونه:**

۱- د حديبې سوله او د خيبر غزا د لوست په متن کې توضيح شوي ده. ورته دي رجوع وشي.

**پوښتنو ته ځوابونه:**

امکان لري چې زده کوونکي بيلابيل ځوابونه ووايي، تاسو ته ښايي چې ونه واياست چې د چا ځواب سم او د چا غلط دی. پوښتنو ته تر هغې وخته ادامه ورکړئ چې سم ځواب د زده کوونکو لخوا وويل شي.

۱- د حديبې سوله،

۲- د روم قيصر، د ايران پاچا، د مصر عزيز او د حبشې پاچا،

۳- د موتې د غزا لامل.

عباسيانو د حضرت پيغمبر قاصد(استازی) په شهادت ورساوه.

**له ټولگی بهر فعاليت:**

د حديبې سوله د لوست په متن کې توضيح شوي ده له هغې څخه په گټې اخيستنې سره وکولای شي چې د حديبې د سولې ښيگڼې په گوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

د حدیبیې د سولې ګټورې پایلې په دې توګه دي:

۱- د رسول الله(ص) ځنیو اصحابو ویلي دي: هیڅ پیښه د حدیبیې د سولې په شان د مسلمانانو لپاره ګټوره نه وه، که څه هم ځینې مسلمانان په پیل کې په دغو ښیګڼو پوه شوي نه وو.

۲- د حدیبیې سوله د مسلمانانو لپاره یو بریالیتوب و، ځکه: له دې تاریخ څخه وروسته هر څوک چې اسلام ته راوبلل شول، هغوی اسلام ومانه.

۳- د حدیبیې په سوله کې، مشرکانو په ځان شاهدي ورکړه چې پیغمبر (ص) او مسلمانان له قریش قبیلې څخه جلا او خپلواکه ځواک دی.

۴- د حدیبیې د سولې په پلي کولو سره، مسلمانان، نوې ټولنیز نظام او نوو انساني اړیکو سره د اسلام په نوم بلدیږي. له دې کبله، هغوی چې اسلام راوړ او هغوی چې اسلام و نه مانه، په رسمي توګه یې په دې نظم او اړیکو اعتراف وکړ .

۵- د ثقیف او قریش قبایلو څخه ځینې هوښیار کسان پدې وپوهیدل چې اسلام په نږدې وخت کې بریالی کیږي. له دې کبله یې د اسلام سره له مخالفت څخه لاس واخیست.

۶- د حدیبیې سولې، د یهودو او قریشو هغه تړونونه او یووالی چې د اسلام پر ضد یې کړی و له منځه یوووړل.

**بیعت الرضوان**

څرنګه چې د قریشو مشرکینو د رسول الله(ص) استازی (حضرت عثمان(رض)) له خپل ځان سره وساته. له دې کبله رسول الله(ص) له مسلمانانو څخه تعهد (بیعت) واخیست چې ونه تښتي، په دې توګه دغه بیعت د بیعت الرضوان په نوم یاد شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۷) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس وخت (یو درسي ساعت)

<table>
<tr><td>د مطلبونو سرلیکونه</td><td colspan="2">د مطلبونو شرح</td></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">د مکې معظمې فتح</td></tr>
<tr><td>عمومي موخه</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د مکې د فتحې د څرنګوالي، د حنین غزا، حجة الوداع او د رسول الله(ص) د رحلت په اړه معلومات تر لاسه کړي.</td></tr>
<tr><td>موخې:<br>- پوهنیزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنیتي(Attitude)</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د مکې مکرمې د فتح په څرنګوالی به پوه شي،<br>- د حنین او تبوک د غزاګانو د څرنګوالي په هکله به معلومات تر لاسه کړي،<br>- په حجة الوداع او د حضرت رسول اکرم (ص) په رحلت به پوه شي،<br>- د مسلمانانو په وسیله به د مکې فتح تحلیل کړای شي،<br>- د حنین او تبوک غزاګانو لاملونه به تشخیص کړي.<br>- د حضرت محمد(ص) د رحلت او حجة الوداع مهم ټکې به تحلیل او تشخیص کړای شي،<br>- د اسلام د تاریخ له زده کولو څخه به خوند واخلي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس چلندونه</td><td colspan="2">تلفیقي میتود( لکچر، مباحثه وې او پوښتنې او ځوابونه )</td></tr>
<tr><td>د تدریس اړین توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، نقشې، کتاب او ...</td></tr>
<tr><td>د ارزونې چلندونه</td><td>تقریري، تحریري، پروژه وې او مشاهده وې</td><td>وخت په دقیقو</td></tr>
<tr><td>د تدریس او زده کړې فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړنی کړنې:<br>۱- سلام اچول،<br>۲- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>۳- د زده کوونکو د حاضرۍ اخیستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پیژندګلوي او د ټولګي د وضعیت مشاهده کول،<br>۵- د تیرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدریس د اړینو توکو چمتو کول،<br>۷- د انګیزې را منځ ته کول،<br>- د سوالیه جملې طرح کول،<br>- او یا د تاریخي نقشې ښودل.</td><td>۱۰</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت په دقیقو | د زده کوونکو فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه | مینځني او وروستني فعالیتونه |
|---|---|---|---|
| ۸۰ | - په لومړنیو فعالیتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي څرګندونو ته غوږ نیول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو یاداشت نیسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ییزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعالیتونو سرته رسول. | - د لومړنیو فالیتونو سرته رسول او د انګیزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست توضیح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ییزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل. | |
| | **په ټولګي کې فعالیتونه:**<br>د مکې فتح، د حنین غزا او حجة الوداع په جلا جلا سرلیکونو کې توضیح شوي دي ورته دې رجوع وشي.<br>**د پوښتنو ځوابونه:**<br>۱- په اتم هجري کال له هغه وروسته چې کفارو تړون مات کړ....<br>۲- د حنین غزا لاملونه د حنین غزا تر فرعي سرلیک لاندې توضیح شوي دي، ورته دې رجوع وشي.<br>۳- په یوولسم هجري کال د دو شنبې په غرمه د ربیع الاول په دو لسمه نیټه.<br>**له ټولګی څخه بهر فعالیت:**<br>د حضرت محمد(ص) د شخصیت په اړه زده کوونکي کولای شي د درسي کتاب، د جومات امام، کتابتون او د خپل کلي له پوهو خلکو څخه معلومات تر لاسه کړي. | | |

**اضافي معلومات:**

کله چې مسلمانان کعبې ته د ننه شول، د حضرت محمد(ص) لخوا د کعبې کور له بتانو څخه پاک شو، هغه وخت حضرت رسول الله (ص) پر اوښ سپور شو، د لوی څښتن تعالی له کور څخه یې اوه واره طواف وکړ او ویل کیږي چې د کعبې په کور کې ۳۶۰ بته وو، حضرت محمد (ص) په خپله امسا د بت خواته اشاره وکړه هغه بت به په ځمکه رانسکور شو.

حضرت محمد(ص) په دې وخت کې دا (آیه) تلاوت کړ چې ژباړه یې دا ده«د حق په راتګ باطل له منځه لاړ، رښتیا چې باطل له منځه تلونکی دی».

حضرت رسول الله(ص) د عثمان بن طلحه عبددی څخه کلي واخیسته، د کعبې د کور دروازه یې خلاصه کړه او کور ته د ننه شو. او حضرت بلال(رض) ته امر وکړ، د کعبې پر بام پورته او اذان وکړه.

**منابع او مأخذونه:**


- اطلس تاریخ اسلام،
- سیرت پیامبر(ص)، فضلي،
- تاریخ تمدن اسلام، جرجی زیدان،
- اصلی منبع: تاریخ طبري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۸) لوست د تدریس لاربنود پلان

د تدریس وخت (یو درسي ساعت)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | حضرت ابوبکر صدیق(رض) | |
| عمومي موخه | زده کوونکي د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق(رض) د خلافت له خرنګوالي سره بلد شي. | |
| موخي:<br>- پوهنيزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنيتي(Attitude) | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ورسیږي:<br>- د حضرت ابوبکر صدیق (رض) خلافت ته د رسیدلو او د هغې زماني د مهمو پیښو د څرنګوالي په هکله به معلومات تر لاسه کړای شي.<br>- خلافت ته د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د رسیدلو او د هغه وخت د مهمو پیښو تحلیل به وکړای شي.<br>- د لومړني خلیفه حضرت ابوبکر صدیق(رض) له ښو خویونو او کړنو څخه به خوند واخلي. | |
| د تدریس چلندونه | تلفیقي میتود( لکچر، مباحثه وي او پوښتني او ځوابونه ) | |
| د تدریس اړین توکي | تخته، تباشیر، نقشې، کتاب او ... | |
| د ارزوني چلندونه | تقریري، تحریري، پروژه وي او مشاهده وي | وخت په دقیقو |
| د تدریس او زده کړي فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی کړنې:**<br>۱- سلام اچول،<br>۲- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>۳- د زده کوونکو د حاضرۍ اخیستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پیژندګلوي او د ټولګي د وضعیت مشاهده کول،<br>٥- د تیرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدریس د اړینو توکو چمتو کول ،<br>**۷- د انګیزې را منځ ته کول،**<br>- د سوالیه جملې طرح کول،<br>- او یا د تاریخي نقشې ښودل. | ۱۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مینځنــــــۍ او وروســـــتنۍ فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت پـه دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - د لومړنیو فالیتونو سرته رسول او د انګیزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست توضیح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ییزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل. | - په لومړنیو فعالیتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي ځرګندونو ته غوږ نیول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو یاداشت نیسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ییزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعالیتونو سرته رسول. | ۸۰ |

**په ټولګي کې فعالیتونه:**

کوم مهم کارونه چې د حضرت ابوبکر صدیق(رض) په وخت کې تر سره شوي او همدا راز د هغه لومړی خطبه د لوست په متن کې توضیح شوي دي، ورته دې رجوع وشي.

**د پوښتنو ځوابونه:**

امکان لري چې زده کوونکې بیلابل ځوابونه ووایې، خو سم ځواب دا دی:

۱- د حضرت محمد(ص) له رحلت څخه وروسته انصار په سقیفه بني ساعده کې سره را ټول شول او ویې غوښتل چې خلیفه له خپل منځ څخه وټاکي، حضرت ابوبکر صدیق(رض) او حضرت عمر(رض) هغه وخت چې دا خبره واوریده د سقیفه په لور روان شول او په لاره کې حضرت عبیده بن جراح ورسره یو ځای شو. کله چې سقیفې ته ورسیدل، حضرت ابوبکر صدیق(رض) انصارو مخاطب کړل په پایلې کې دوی له خلافت څخه لاس واخیست، وروسته حضرت عمر(رض) او حضرت ابو عبیده(رض) حضرت ابوبکر صدیق(رض) سره بیعت وکړ او له دې وروسته نورو خلکو هم له حضرت ابوبکر صدیق(رض) سره بیعت ته چمتو شول.

۲- دوه کاله او درې میاشتې یې خلافت وکړ.

۳- د حضرت خالد بن ولید سترې لاسته راوړنې عبارت دي: د یوکال دوو میاشتو په اوږدو کې یې د فرات د سیمو خلک د اسلام په دین مشرف کړل. د یرموك د سیند په غاړه په هغه ځګړه کې چې له رومیانو سره یې تر سره کړه، سره له دې چې د مسلمانانو شمیر ډیر لږ و، بری یې تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

خلافت یو ډول حکومت دی چې اسلامي نظام ته ځانګړی شوی دی. د اسلام خلیفه د شریعت د مقرراتو له مخې د مسلمانانو دیني او دنیوي چارې د قران کریم د احکامو او د اسلام د پیغمبر د احادیثو په رڼا کې پر مخ وړي.

د اسلام د خلیفه دنده یواځې په سیاست او حکومت کې نه تماميږي، بلکه د خلیفه ډیره مهمه دنده د ستر څښتن تعالی د بندګانو اصلاح، ارشاد او لارښوونه ده چې پدې برخه کې د ټولو معقولو ګټه پورته کړي. ټولنیز عدالت رامنځ ته کړي او د خلکو د سوکالۍ لپاره هڅه وکړي ، همدا رنګه خلیفه مکلفیت درلود چې د اسلام سپیڅلی دین دود کړي او د اسلامي نظام لمن په نړۍ کې وغزوي. ځکه چې په دې نړۍ کې خلیفه د مسلمانانو او په اخرت کې د الله (جل جلاله) په وړاندې مسوول او ځواب ورکوونکی دی.

**منابع او مأخذونه:**

- خلفای راشدین،
- تاریخ تمدن اسلام، جرجی زیدان،
- اصلی منبع: تاریخ طبري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۳۹) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس وخت (یو درسي ساعت)

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | حضرت عمر(رض) | |
| عمومي موخه | زده کوونکي دې د حضرت عمر فاروق(رض) د نسب، شخصیت، فتوحاتو او لاسته راوړنو سره بلد شي. | |
| موخې:<br>- پوهنیزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنیتي(Attitude) | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د حضرت عمر فاروق(رض) د نسب په هکله به پوه شي،<br>- د حضرت عمر فاروق(رض) د شخصیت په اړه به معلومات تر لاسه کړي،<br>- د حضرت عمر فاروق(رض) د فتوحاتو او لاسته راوړنو په اړه به پوه شي،<br>- د حضرت عمر فاروق(رض) د فتوحاتو او لاسته راوړنې تحلیل او ارزونه به وکړای شي،<br>- د ټولنیز عدالت د پلي کولو سرچینه به پیدا کړای شي. | |
| د تدریس چلندونه | تلفیقي میتود( لکچر، مباحثه وي او پوښتنې او ځوابونه ) | |
| د تدریس اړین توکي | تخته، تباشیر، نقشې، کتاب او ... | |
| د ارزونې چلندونه | تقریري، تحریري، پروژه وي او مشاهده وي | وخت په دقیقو |
| د تدریس او زده کړې فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول | **لومړنی کړنې:**<br>۱- سلام اچول،<br>۲- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>۳- د زده کوونکو د حاضرۍ اخیستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پېژندګلوي او د ټولګي د وضعیت مشاهده کول،<br>٥- د تیرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدریس د اړینو توکو چمتو کول ،<br>**۷- د انګیزې را منځ ته کول:**<br>- د سوالیه جملې طرح کول،<br>- او یا د تاریخي نقشې ښودل. | ۱۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مینځني او وروستني فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - د لومړنیو فالیتونو سرته رسول او د انګیزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست توضیح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ییزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل. | - په لومړنیو فعالیتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي څرګندونو ته غوږ نیول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو یاداشت نیسې،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ییزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعالیتونو سرته رسول. | ۸۰ |

**په ټولګي کې فعالیتونه:**

د اسلام د خپریدو په وخت کې او د عدالت په پلي کولو کې د حضرت عمر فاروق(رض) د خلافت ونډه د لوست په متن کې تشریح شوې ده، ورته دې رجوع وکړي.

**د پوښتنو ځوابونه:**

۱- د بعثت په شپږم کال د اسلام په دین مشرف شو.

۲- کله چې حضرت ابوبکر(رض) ناروغه شو، له خپلو اصحابو کرامو (مهاجرین او انصار) سره یې مشوره وکړه. په پایله کې ټولو اصحابو د دغې سپیڅلې او درنې دندې لپاره حضرت عمر(رض) وټاکه.

۳- حضرت عمر فاروق(رص) له لس کالو او پنځه میاشتې خلافت وروسته د هجرت په ۲۴ کال د ابو لولو په واسطه د شهادت لوړ مقام ده ته ورسید.

**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**

زده کوونکي کولای شي له درسي کتاب، د جومات له امام او نورو پوهو خلکو څخه د حضرت عمر(رض) د ژوند او عدالت په اړه معلومات راټول او په ټولګي یې وړاندې کړي.

**اضافي معلومات:**

د حضرت عمر فاروق(رض) د خلافت یوه مهمه پیښه د مسلمانانو لپاره د فلسطین فتح وه چې له یوځې پلوه (تبلیغاتي) او د ډېر ارزښت وړ وه ځکه چې د اقصی جومات د مسلمانانو لومړی قبله په دې سیمه کې ده. د دې ارزښت له کبله حضرت عمر(رض) پخپله خوښه دې سیمې ته سفر وکړ او له مسیحیانو سره یې تړون لاسلیک کړ او د دوی حقوقو ته یې درناوی وکړ. د شام او فلسطین خلکو چې کلونه یې د روم د امپراتورۍ لوړتیا او ښکلا لیدلې وه، نو کله چې د اسلام د سپاهیانو له ساده وضعې او د مسلمانانو د خلیفه حضرت عمر فاروق(رض) له نرم رفتار سره مخامخ شول، حیران پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤٠) لوست د تدريس لاربنود پلان

د تدريس وخت (يو درسي ساعت)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | حضرت عثمان(رض) | |
| عمومي موخه | زده کوونکي دي د حضرت عثمان له نسب، شخصيت، خلافت ته د رسيدو له خرنګوالي او لاسته راوړنو سره پيژندګلوي تر لاسه کړي. | |
| موخې:<br>- پوهنيزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنيتي(Attitude) | زده کوونکي به د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- د حضرت عثمان(رض) د نسب په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- خلافت ته د حضرت عثمان(رض) د رسيدو په څرنوالي به پوه شي،<br>- د اسلام د فتوحاتو او پرمختګ په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- خلافت ته د حضرت عثمان(رض) د رسيدو څرنګوالى به تحليل کړای شي،<br>- لاسته راوړني به لړليک کړای شي،<br>- له سخاوتمندی څخه به لذت واخلي. | |
| د تدريس چلندونه | تلفيقي ميتود( لکچر، مباحثه وي او پوښتني او ځوابونه ) | |
| د تدريس اړين توکي | تخته، تباشير، نقشي، کتاب او ... | |
| د ارزوني چلندونه | تقريري، تحريري، پروژه وي او مشاهده وي | وخت په دقيقو |
| د تدريس او زده کړې فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړنی کړني:**<br>١- سلام اچول،<br>٢- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>٣- د زده کوونکو د حاضرۍ اخيستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پيژندګلوي او د ټولګي د وضعيت مشاهده کول،<br>٥- د تيرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدريس د اړينو توکو چمتو کول ،<br>**٧- د انګيزې را منځ ته کول،**<br>- د سواليه جملې طرح کول،<br>- او يا د تاريخي نقشې ښودل. | ١٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مينځني او وروستني فعاليتونه | د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | وخت په دقيقو |
|---|---|---|---|
| | - د لومړنيو فاليتونو سرته رسول او د انګيزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرليک ليکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو ليکل،<br>- د لوست توضيح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ييزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل. | - په لومړنيو فعاليتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي څرګندونو ته غوږ نيول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو ياداشت نيسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ييزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعاليتونو سرته رسول. | ۸۰ |

**په ټولګي کې فعاليتونه:**

د اسلام د دريم خليفه حضرت عثمان(رض) د ژوند او فتوحاتو په هکله د لوست متن کې معلومات ورکړل شوی دی.

**د پوښتونو ځوابونه:**

۱- خلافت ته د حضرت عثمان(رض) د رسيدو څرنګوالی د لوست په متن کې تشريح شوی دی. ورته دې رجوع وکړي.

۲- فتح شوې سيمې په لوست کې توضيح شوې دي. ورته دې رجوع وکړي.

۳- د دولس کاله خلافت وروسته په ۳۶ هجري کال کې په شهادت ورسيد.

**له ټولګي څخه بهر فعاليت:**

د حضرت عثمان(رض) د ژوند په اړه دې له کتاب، د مسجد له امام او نورو علماوو څخه معلومات تر لاسه کړي.

**اضافي معلومات:**

حضرت عثمان له دې نه ويره او بيم درلود چې مبادا د قران عظيم الشان په قرائت کې اختلافات رامنځ ته شي او د الله کلام له نقصان سره مخامخ شي، نو ځکه يې امر وکړ، هغه مصحف چې د حضرت ابوبکر صديق په وخت کې ليکل شوې و او د حضرت عمر(رض) لور بي بي حفصه سره موجود دې، له مخې دې څو نسخې وليکل شي او اسلامي ښارونو ته وليږدول شي او پخوانی نسخې دې وسوزول شي چې دا کار د حضرت عثمان(رض) له سترو کړونو څخه شميرل کيږي.

د حضرت عثمان د خلافت په مهال په اسلامي پوځ کې بحري ځواک منځ ته راغی چې د قبرس په ټاپو کې يې بری ترلاسه او د قسطنطنيې د نيولو په فکر کې شول.

**منابع او مأخذونه:**

- خلفای راشدين،
- تاريخ تمدن اسلام، جرجی زيدان،
- اصلی منبع: تاريخ طبری،
- فتوح البلدان، بلاذری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤١) لوست د تدريس لارښود پلان

د تدريس وخت (يو درسي ساعت)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | حضرت علی(رض) | |
| عمومي موخه | له حضرت علي(رض) د خلافت سره به پېژندګلوي پيدا کړي | |
| موخې:<br>- پوهنيزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنيتي(Attitude) | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- د حضرت علي(رض) نسب، به وپيژني،<br>- خلافت ته د حضرت علي(رض) د رسيدو په څرنګوالي به پوه شي،<br>- د صفين د جګړې د اختلاف لاملونو به تحليل کړای شي،<br>- د اسلام د صدر له تاريخ سره به مينه پيدا کړي. | |
| د تدريس چلندونه | تلفيقي ميتود( لکچر، مباحثه وي او پوښتني او ځوابونه ) | |
| د تدريس اړين توکي | تخته، تباشير، نقشې، کتاب او ... | |
| د ارزونې چلندونه | تقريري، تحريري، پروژه وي او مشاهده وي | وخـــت په دقيقو |
| د تدريس او زده کړې فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني کړنې:**<br>١- سلام اچول،<br>٢- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>٣- د زده کوونکو د حاضرۍ اخيستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پېژنـدګلوي او د ټـولګي د وضـعيت مـشاهده کول،<br>٥- د تيرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدريس د اړينو توکو چمتو کول ،<br>**٧- د انګيزې را منځ ته کول،**<br>- د سواليه جملې طرح کول،<br>- او يا د تاريخي نقشې ښودل. | ١٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

<table>
<tr><th>مینځنۍ او وروستني فعالیتونه</th><th>د ښوونکي فعالیتونه</th><th>د زده کوونکو فعالیتونه</th><th>وخت په دقیقو</th></tr>
<tr><td rowspan="2"></td><td>- د لومړنیو فالیتونو سرته رسول او د انګیزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست توضیح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ییزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل.</td><td>- په لومړنیو فعالیتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي خرګندونو ته غوږ نیول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو یاداشت نیسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ییزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعالیتونو سرته رسول.</td><td>۸۰</td></tr>
<tr><td colspan="2">په ټولګي کې فعالیتونه:<br>خلافت ته د حضرت علي(رض) د رسیدو خرنګوالی او د هغه د خلافت مهمې پیښې د لوست په متن کې توضیح شوي دي.<br>د پوښتنو ځوابونه:<br>۱- حضرت علي(رض) د ابوطالب زوی، د حضرت محمد(ص) زوم او د تره زوی دی.<br>۲- د حضرت علي(رض) او حضرت معاویه(رض) تر منځ جګړه په ۳۷ هـ کال کې پېښه شوي ده.<br>۳- د عبدالرحمن بن ملجم لخوا د هجرت په څلویښتم کال کې په شهادت ورسید.<br>له ټولګي څخه بهر فعالیت:<br>د حضرت علي(رض) د ژوند په اړه دې د مسجد له امام، او نورو دیني علماوو څخه معلومات تر لاسه کړي.</td><td></td></tr>
</table>

**اضافي معلومات:**

امیر المومنین حضرت علي (کرم الله وجهه) له بیعت اخیستلو وروسته خپل عاملان (والیان) اسلامي ولایتونو ته واستول. عثمان بن حنف یې بصرې ته، عماره بن شهاب یې کوفې ته، عبدالله بن عباس یې یمن ته، قیس بن سعد بن عباده، محمد بن ابی بکر او مالک اشتر یې یو د بل پسې مصر ته واستول او سهیل بن حنیف یې د شام د والی په توګه وټاکه. خو له دغو والیانو څخه هیڅ یو په خپل کار کې بریالیتوب تر لاسه نکړ ځکه چې په ټولو ښارونو کې اختلافات منځ ته راغلي وو.

**منابع او مأخذونه:**

- خلفای راشدین،
- اطلس تاریخ اسلامي،
- تاریخ تمدن اسلام، جرجی زیدان،
- تاریخ طبري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤٢) لوست د تدريس لارښود پلان

د تدريس وخت (يو درسي ساعت)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د خلفای راشدين څلاندې دورې ته يوه کتنه | |
| عمومي موخه | د خلفای راشدين له سياست او لاسته راوړونو سره د زده کوونکو پېژندګلوي. | |
| موخې:<br>- پوهنيزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنيتي(Attitude) | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- د خلفای راشدين سياست به وپېژني،<br>- د فتوحاتو په لاملونو باندې به پوه شي،<br>- د خلفای راشدين د سياست څرنګوالی به تحليل، کړای شي،<br>- د خلفای راشدين په وخت کې به د اسلام د فتوحاتو لاملونه تحليل کړای شي،<br>- د خلفای راشدين کړنې به د خپل ژوند سر مشق وګرځوي او له پايلو څخه به يې خوند واخلي. | |
| د تدريس چلندونه | تلفيقي ميتود( لکچر، مباحثه وي او پوښتنې او ځوابونه ) | |
| د تدريس اړين توکي | تخته، تباشير، نقشې، کتاب او ... | |
| د ارزونې چلندونه | تقريري، تحريري، پروژه وي او مشاهده وي | وخت په دقيقو |
| د تدريس او زده کړې فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړنی کړنې:**<br>١- سلام اچول،<br>٢- له زده کوونکو سره روغبړ،<br>٣- د زده کوونکو د حاضرۍ اخيستل،<br>٤- له زده کوونکو سره پېژندګلوي او د ټولګي د وضعيت مشاهده کول،<br>٥- د تېرشوي لوست ارزونه،<br>٦- د تدريس د اړينو توکو چمتو کول،<br>**٧- د انګيزې را منځ ته کول،**<br>- د سواليه جملې طرح کول،<br>- او يا د تاريخي نقشې ښودل. | ١٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| مینځني او وروستني فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
| --- | --- | --- | --- |
| | - د لومړنیو فالیتونو سرته رسول او د انګیزې رامنځته کول،<br>- پر تخته باندې د سرلیک لیکل<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست توضیح کول،<br>- له زده کوونکو څخه پوښتنې،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د ډله ییزو کارونو څارل،<br>- د لوست خلاصه کول او کره کتنه،<br>- له ټولګي څخه د باندې د دندو سپارل. | - په لومړنیو فعالیتونه کې ګډون،<br>- د ښوونکي خرګندونو ته غوږ نیول او پام کول،<br>- په کتابچو کې د مهمو مطلبونو یاداشت نیسي،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- له ښوونکي څخه پوښتنې کول،<br>- په ډله ییزو کارونو کې فعالانه ګډون،<br>- له ټولګي څخه بهر د فعالیتونو سرته رسول. | ۸۰ |

**په ټولګي کې فعالیتونه:**

د خلفای راشدین شخصي ژوند او د هغوی کړنې د لوست په متن کې توضیح شوي دي.

**د پوښتنو ځوابونه:**

۱- هغوی د الله(ج) او د خلکو د حقوقو له ضایع کیدو څخه په کلکه په ویره کې وو. د اخرت د ورځې له محاسبې څخه غافل نه وو، شان او دبدبه یې نه خوښوله. هر چا کولای شول چې هر ځای کې له هغوی سره کتنه وکړي. دارالخلافه یې مسجدونه، فرش یې پوزې او ماڼۍ هم دغه مسجدونه وو.

۲- د فتوحاتو د بریې په هکله د لوست په متن کې توضیح ورکړل شوې ده.

**له ټولګي څخه بهر فعالیت:**

د خلفای راشدین د ژوند په اړه دې له کتابونو، د مسجد له امام او د استوګنې د ځای له علماوو څخه معلومات تر لاسه کړي.

**اضافي معلومات:**

د خلفای راشدین د ځلاندې دورې څو ټکې:

- خلفا په ساده ژوند راغلل او ولاړل،
- د خلفای راشدین دربار دولتي او سلطنتي شان او شوکت نه درلود،
- خلفای راشدین ساده کالي اغوستل او د عادي وګړو غوندې په کوڅو او بازارو کې ګرځیدل،
- د خلفای راشدین حکومت د تقوا، پرهیزګاری او عدالت له مخې ټولو اسلامي دولتونو ته سرمشق او یوه بیلګه وه.
- خلفاوو له خلکو سره نیک رفتار کاوه،
- د خلفاوو خوراک د فقیرو او غریبو وګړو په شان و.

**منابع او مأخذونه:**

- خلفای راشدین،
- تاریخ تمدن اسلام، جرجی زیدان،
- تاریخ طبري،
- فتوح البلدان، بلاذري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۴۳) لوست د تدریس لارښود پلان

د تدریس مهال : دوه درسي ساعت (۹۰ دقیقې)

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">امویان</td></tr>
<tr><td>عمومي موخې</td><td colspan="2">د امویانو واک ته رسیدو خرنګوالي او د هغوی نامتو اومرا</td></tr>
<tr><td>موخې:<br>- پوهنیزې(knowledge)<br>- مهارتي(skill)<br>- ذهنیتي(Attitude)</td><td colspan="2">زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به د امویانو واک ته د رسیدو د خرنګوالي په اړه معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- د ثاني خلیفه عمر بن عبدالعزیز ، د عدالت د خرنګوالي په اړه به پوه شي،<br>- د امویانو د ماتې لاملونه به تحلیل کړای شي،<br>- د امویانو د خلافت مهم او لوی ښارونه او مرکزونه به د نقشې په مخ وښودلی شي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس چلندونه</td><td colspan="2">توضیحي، تشریحي، لکچر او مباحثه یي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس اړین توکي</td><td colspan="2">تخته، تباشیر، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور......</td></tr>
<tr><td>د ارزونې چلندونه</td><td colspan="2">تقریري، تحریري، مشاهده یی، صنفي تست او داسې نور ......</td></tr>
<tr><td>د تدریس او زده کړې فعالیتونه او د انګیزې رامنځته کول</td><td>لومړنی فعالیتونه<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړینو توکو چمتو کول د تیر لوست ارزونه او د حاضرۍ اخیستل.<br><br>د انګیزې رامنځته کول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او یا د یوه په زړه پورې تاریخي مطلب وړاندې کول.</td><td>وخت په دقیقو<br><br>لس دقیقې</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکی فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | - د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:<br>۱- حضرت معاویه(رض) د ابو سفیان زوی او د حرب لمسی دی.<br>۲- د حضرت معاویه(رض) د خلافت په وخت کې د اسلامي فتوحاتو لمنې لویدیځ لور ته تر هسپانیې او فرانسې او ختیځ خواته تر ترکستان، چین او هند پورې ورسیده.<br>۳- عمر بن عبدالعزیز د ثاني خلیفه په نوم یاد شوی دی. | | |

**اضافي معلومات:**

د حضرت رسول اکرم(ص) تر رحلت وروسته د هغه څلورو تنو اصحابو له عربستان څخه پر اسلامي نړۍ حکومت وکړ. تر راشده خلفاوو وروسته د اسلامي نړۍ واک امویانو ته چې لومړنۍ اسلامي لړۍ وه، ورسیده. امویان د مکې یوې بډایې او سوداګرې کورنۍ ته منسوب وو. د امویانو ځواکمنتیا د اومې میلادي پیړۍ په دریمه لسیزه کې په سوریه کې د حضرت معاویه د حکومت په پیل سره شروع کیږي. حضرت معاویه د قبایلو په منځ او د مفتوحه هیوادونو په اړوند د روښانه سیاست او ښه تدبیر په درلودو سره او همدا رنګه له بریاوو څخه په ګټې اخېستنې سره د عربو له ځواکمندو حکامو څخه په خپل عصر کې شمیرل کیږي. نوموړی په څلویښتم هجري کال کې خلیفه شو او د مسلمانانو مشری یې په غاړه واخیستله. د هغه ورثه په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه تر ۱۳۲ هجري قمري کال چې له ۷۵۰ میلادي ګتل سره سمون لري، له ټولو بدلونونو، پاځونونو او ستونزو سره سره په ډیره لویه نړۍ چې مسلمان اعراب یې فاتح وو، واکمني وکړه.

**د زیاتو معلوماتو لپاره دې لاندې مراجعو ته رجوع وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار،
- هنر معماری اسلامي، داکتر لطیف قاسمي،
- تاریخ جوامع اسلامي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د (٤٤) لوست د تدريس لارښود پلان

د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)

| د مطلبونو سرليکونه | د مطالبو شرح | |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د امويانو په وخت کې فرهنګي، اقتصادي، اداري او پوځي وضعيت | |
| عمومي موخې | د امويانو له اقتصادي، فرهنګي اداري او پوځي وضعيت سره پېژندګلوي. | |
| (پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسېږي:<br>- زده کوونکي به د امويانو داقتصادي او اداري وضعيت په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- د امويانو د فرهنګي او پوځي وضعيت په اړه به معلومات ترلاسه کړای شي.<br>- د امويانو د برياوو په لاملونو باندې به پوه شي،<br>- د امويانو خدمتونه به لړليک کړای شي،<br>- د نقشې پر مخ به د امويانو مفتوحه سيمې په ګوته کړای شي،<br>- له نقشو او اطلسونه څخه به ګټه پورته کړای شي. | |
| د تدريس لارې او طريقې | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| مرستندويه او اړين درسي توکي | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| د ارزونې طريقې | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وړاندې کول. | وخت په دقيقو<br>لس دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیك لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | – د ښوونکي خرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | – **د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱– د امویانو په وخت کې د عشر، خمس او غنیمت په نوم مالیات له فتح شوو هیوادونو څخه د خلافت مرکز ته لیږدیدل.<br>۲– امویانو دمشق خپل پلازمینه ټاکلې وه.<br>۳– امویانو د عامه ګټې اخستنې لپاره د ښارونه، پلونو روغتونونو او جوماتونو به جوړولو لاس پورې کړ.<br>۴– محمد بن قاسم کراچۍ او ملتان فتح کړل. | | |

**اضافي معلومات:**

امویانو د اسلامي نړۍ د راتلونکو بدلونونو لپاره کلك بنسټ کیښود. هغوی د خپلې پلازمینې دمشق او د بیزانس په وړاندې په بیلابیلو بریدونو سره، او د نږدې ختیځ د مسیحیانو د تاریخ په اړوند ډیره ښه پیژندګلوي درلوده هغوی پوهیدل چې د لویې امپراتورۍ واکداران دي او د امپراتورۍ د ختیځې سیمې، ډیر غنایم د هغوی په واک کې ورکړي دي.

سره له دې چې امویان ډیر زیات په پوځي سوقیاتو او د اسلامي حکومت په پراختیا کې بوخت وو او پدې وتوانیدل چې مراکش، المغرب په لویدیځ، ترکیه په شمال، سیستان او خراسان په ختیځ کې فتح کړي، خو بیا یې هم په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې لاسته راوړنې درلودې. نوي ښارونه، کاروانسرایونه، حمامونه او جوماتونه جوړل شول. د بیلګې په توګه د کوفې، بصرې، قسطاط، مدینې، قبته الصخری او د ولید د جوماتونو څخه یادونه کولای شو.

د امویانو د حکومت د پراختیا په ترځ کې په مفتوحه سمیو کې نوی ښارونه جوړشول، ښارونه د سوداګریزو مالونو د راکړې ورکړې په مرکزونو واوښتل، سوداګریز کاروانونه د اسیا، اروپا ، افریقا تر منځ په تګ راتګ کې وو، له څمکو څخه د مالیاتو اخیستل، له سوداګریزو کاروانو څخه د ټکسونو اخیستل او را ټولول د امویانو د حکومت په مالي ځواکمنتیا کې لویه ونډه درلوده چې د امپراتورۍ له ګوټ ګوټ څخه په نقدي او جنسي توګه د خلافت مرکز ته راوړل کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې کوم تمدن چې امويانو رامنځ ته کړ هغه د نړدې ختيځ د سنتونو او ارزښت سره د مسلمانانو د نوی دين او دولت د مقابلې او يوځای کيدو په پايله کې منځ ته راغی همدارنګه امويانو په نورو فرهنګي برخو هم پاملرنه وکړه لکه مسکوکات او ديوان سالاري، د عبدالملک خليفه په وخت کې اسلامي خاصه سکه له انځور پرته، خو په مذهبي کتيبې سره ضرب شوه. د دفتر او ديوان ژبه له يوناني څخه عربي ته واوښته.

**د زياتو معلوماتو لپاره دې لاندې مراجعو ته رجوع وشي:**

- افغانستان در مسير تاريخ، غبار،
- هنر معماری اسلامي، داکتر لطيف قاسمي،
- تاريخ جوامع اسلامي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤٥) لوست د تدريس لارښود پلان

**د تدريس مهال : دوه درسي ساعت (٩٠ دقيقې)**

<table>
<tr><th colspan="2">د مطلبونو شرح</th><th>د مطلبونو سرليكونه</th></tr>
<tr><td colspan="2">عباسيان</td><td>د لوست موضوع</td></tr>
<tr><td colspan="2">واك ته د عباسيانو د رسيدو څرنګوالى او د هغوى نامتو خلفا</td><td>عمومي موخې</td></tr>
<tr><td colspan="2">زده كوونكي دې د لوست په پاى كې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- زده كوونكي به واك ته د عباسيانو د رسيدو د څرنګوالى په اړه معلومات تر لاسه كړي،<br>- د عباسيانو په دوره كې به د مامون الرشيد او هارون الرشيد ونډه چې د فرهنګ په وده كې يې درلوده پوه شي،<br>- د عباسيانو د اداري د پاينبت او پرمختګ لاملونه به تحليل كړاى شي،<br>- په عباسي دوره كې به مهم تمدني مركزونه د نقشې پر مخ په ګوته كړاى شي.</td><td>(پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې</td></tr>
<tr><td colspan="2">توضيحي، تشريحي، لكچر او مباحثه وي.</td><td>د تدريس لارې او طريقې</td></tr>
<tr><td colspan="2">تخته، تباشير، ماركر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور...</td><td>مرستندويه او اړين درسي توكي</td></tr>
<tr><td colspan="2">تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ...</td><td>د ارزونې طريقې</td></tr>
<tr><td>وخت په دقيقو<br><br>لس دقيقې</td><td>لومړني فعاليتونه:<br>سلام اچول، ستړى مشي، د لوست د اړينو توكو چمتو كول، د تير لوست ارزونه او د حاضرى اخيستل.<br><br>د انګيزې رامنځته كول:<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح كول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب ويناندې كول.</td><td>لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته كول</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستی کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | - پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>- پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>- د لوست تشریح او توضیح،<br>- په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>- پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>- د تدریس په وخت کې ښه څارنه. | - د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>- د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>- په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>- د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>- په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>- د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |
| | **- د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**<br>۱- عباسي خلیفه امین د مامون الرشید په امر ووژل شو.<br>۲- د عباسي کورنۍ وروستنی خلیفه مستعصم باالله د چنګیز د لمسی (هلاکو) لخوا ووژل شو.<br>۳- د مامون الرشید د خلافت په وخت کې علومو ته او په ځانګړې توګه طب، ریاضیاتو، فلسفي، ادب او منطق ته ډېره پاملرنه شوې وه.<br>۴- عباسي خلیفه منصور په ۱۶۹ هـ ق کال کې وفات شو. | | |

**اضافي معلومات:**

د اموي حکومت د سقوط لاملونه هغه شورشونه او پاڅونونه وو چې په عراق او د اسلامي امپراتورۍ په نورو برخو کې رامنځ ته شول. سره له دې چې امویانو په پیل کې وکړای شول د تشویق او امتیازاتو په ورکولو سره پر اوضاع مسلط شي، خو په ۱۲۵ هـ ق کال کې چې له ۷۴۷ میلادي کال سره سمون لري، د اسلامي امپراتورۍ د ټولو ناراضي ډلو لویه سازمان بندي او شورشونه په خراسان کې د یو ستر پاڅون موجب شول.

په خراسان کې د تحرکاتو له پیل سره سم د ابو مسلم خراساني تر مشرۍ لاندې پاڅون منځ ته راغی او د دغه پاڅون په پایله کې اموي شهزاده ګان یو په بل پسې له منځ ولاړل او وروستی اموي خلیفه مروان حمار هم ووژل شو. او خلافت له امویانو څخه عباسیانو ته ولیږدول شو.

د عباسیانو خلافت په رسمي توګه تر ۶۵۶هـ ق / ۱۲۵۸ میلادي کال پورې دوام وکړ او هم په دغه کال بغداد د مغولانو لاسته ورغی.

**د زیاتو معلوماتو لپاره دې لاندې مراجعو ته رجوع وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار،
- هنر معماری اسلامي، داکتر لطیف قاسمي،
- تاریخ جوامع اسلامي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (٤٦) لوست د تدريس لارښود پلان

**د تدريس مهال : يو درسي ساعت (۴۵ دقيقې)**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | د عباسيانو د عصر سياسي، اداري او فرهنګي و ضعيت. | |
| **عمومي موخې** | د عباسيانو د عصر د سياسي ادراي او فرهنګي وضعيت سره پيژنګلوي. | |
| **(پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي) موخې** | زده کوونکي دې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسيږي:<br>- زده کوونکي به د عباسيانو د دورې دسياسي او اقتصادي وضعيت په اړه معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- د فرهنګي او اداري وضعيت په اړه به معلومات تر لاسه کړای شي،<br>- د عباسيانو د عصر د فرهنګي او پرمختګ لاملونه به تحليل کړای شي،<br>- د مامون الرشيد مهم خدمتونو به فهرست کړای شي،<br>- د عباسيان په اداره او اداري جوړښت باندې به پوه شي،<br>- مهم سوداګريز مرکزونه به د نقشي پرمخ وښودلی شي. | |
| **د تدريس لارې او طريقې** | توضيحي، تشريحي، لکچر او مباحثه وي. | |
| **مرستندويه او اړين درسي توکي** | تخته، تباشير، مارکر، نقشې، اطلسونه، انځورونه، قلمونه او داسې نور... | |
| **د ارزونې طريقې** | تقريري، تحريري، مشاهده وي، صنفي تست او داسې نور ... | |
| **لومړني فعاليتونه او د انګيزې رامنځته کول** | **لومړني فعاليتونه:**<br>سلام اچول، ستړی مشي، د لوست د اړينو توکو چمتو کول، د تير لوست ارزونه او د حاضرۍ اخيستل.<br><br>**د انګيزې رامنځته کول:**<br>د لوست په اړوند د پوښتنو طرح کول، د نقشې او انځور ښودل او يا د يو په زړه پورې تاريخي مطلب وراندې کول. | **وخت په دقيقو**<br><br>**لس دقيقې** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| منځنۍ او وروستۍ کړنې | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|---|
| | – پر تخته باندې د لوست د سرلیک لیکل،<br>– پر تخته باندې د مهمو مطلبونو لیکل،<br>– د لوست تشریح او توضیح،<br>– په ډلو باندې د زده کوونکو ویشل او د دندو سپارل،<br>– پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– د لوست ارزونه او د کورنۍ دندې سپارل،<br>– د تدریس په وخت کې ښه خارنه. | – د ښوونکي څرګندونو ته پام کول،<br>– د لوست په بهیر کې د مهمو مطلبونو یاداشت،<br>– په ټولګي کې د ډلو د استازو لخوا د لوست او مهمو مطلبونو وړاندې کول،<br>– د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ورکول،<br>– په کور او ټولګي کې د دندې سرته رسول،<br>– د نظم او دسپلین رعایت کول. | پنځه دیرش دقیقې |

**– د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه :**

۱– د بصرې، کوفې، قاهرې، قیروان، مروې، رې، بخارا او نیشاپور ښارونه د اسلامي تمدن له مرکزونو څخه شمیرل کیدل.

۲– د مامون الرشید د خلافت په وخت کې د ریاضي، الجبر په برخه کې زیات پر مختګونه شوي وو.

۳– د عباسیانو د خلافت په وخت کې او په ځانګړي توګه د هارون الرشید په حکومت کې د نړۍ د یو شمیر هیوادونو، لکه: چین، هند، فرانسې او یونان سره ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې شوې او د سفیرانو په لیږدولو یې اقدام وکړ.

**اضافي معلومات:**

عباسي دولت د اسلامي حکومت د واک لاندې سیمې او د هغوی د اوسیدونکو په اړوند د امویانو بر عکس پالیسي او رویه غوره کړه. له اعیانو او اشرافو سره یې له نرمښت او مدارا څخه کار واخیست او د هغوی ګټې یې په سیاسي او اقتصادي حاکمیت کې په پام کې ونیولې، نو همدا علت و چې عباسیانو تر امویانو زیات عمر وکړ.

د یادونې وړ ده چې د عباسیانو د اداري په ټینګښت کې د خراسان خلکو (افغانستان) ډیره ونډه درلوده چې کولای شو له برمکي کورنۍ څخه یادونه وکړو. دغې کورنۍ د هارون الرشید حکومت د خپل کمال او پرمختګ لوړېوړ ته ورساوه. یحیی برمکي یو مدبر انسان و چې هارون الرشید هغه ته د پلار خطاب کاوه او د خپل وزیر په توګه یې وټاکه. په همدې توګه د یحیی زامنو په بغداد کې لوی منصبونو ته رسیدلي وو، جعفر بن یحیی د هارون الرشید وزیر شو. فضل بن یحیی د خراسان د ولایت مقام ته ورسید. دې کورنۍ اولس کاله د بغداد د خلافت ټولې چارې په خپل لاس کې اخیستې وې او دې منورې کورنۍ ډیر اثار له هندي، پهلوي او یوناني ژبو څخه په عربي ژبه وژباړل.

د دریمې پیړۍ په وروستیو او د څلورمې هجري پیړۍ په لومړیو کې عباسي خلافت د خپلې د ودې او پرمختګ پړاوونه ووهل. په ظاهري توګه د افریقې په شمال، مصر او خراسان کې ځینو کورنیو خپلواکي تر لاسه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهبي وحدت منځ ته راغی د پانګې د راټولیدو له امله سوداګری او کرنې وده او پر مختګ وکړ. ښارونه یو له بل سره وصل، او پرعایداتو باندې مالیات وضع شول. ښارونه، کاروانسرایونه، حمامونه، مانۍ ګاني او جوماتونه جوړل شول چې د بیلګې په توګه د بغداد منصور، رقه، سامرا او مصر د ښارونو نوم اخیستلای شو.

د الازهر، قیروان، المالك، ابن طولون او ابو دلف جوماتونه هم جوړ شول، د معماری له نظره دعباسیانو دوره د امویانو په څیر له تنوع څخه برخمنه او د پام وړ وه. سربیره پر آجری تزئین او قوسونو کولای شو د نقاشي منبت کاری، ګچبری او سفالګری څخه یادونه وکړو.

**د زیاتو معلوماتو لپاره دې لاندې مراجعو ته رجوع وشي:**

- افغانستان در مسیر تاریخ، غبار،
- هنر معماری اسلامي، داکتر لطیف قاسمي،
- تاریخ جوامع اسلامي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**